# ددعوت اوتبليغ
# دمشرانو بيانونه

شيخ القرأن والحديث مولوی
## سبحان الله
حفظه الله

دافغانستان دتبليغ عمومي امير
## حاجي صاحب خان زمان
حفظه الله

مولانا **محمود الحسن**
حفظه الله

ډاکتر صاحب **ګلاب نور**
حفظه الله

شيخ الهند مولوی
**شوکت** حفظه الله



افغانستان جلال اباد تبليغي مركز دتأسيس
كال١٣٧٢هـ ش دمرحوم مولوي صاحب
قلم الدين او حاجي صاحب خانزمان پلاس

# فهرست


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۲ |
| ۲ | دافغانستان د تبليغ عمومي امير حاجي صاحب خان زمان حفظه الله | ۴ |
| ۳ | شيخ القرأن والحديث مولوی سبحـــان الله حفظه الله | ۲۲ |
| ۴ | شيخ الهند مولوی شوکت صاحب حفظه الله | ۶۹ |
| ۵ | ډاکتر صاحب ګلاب نور حفظه الله | ۸۲ |
| ۶ | مولانا محمود الحسن صاحب حفظه الله ( نظر او خبر ) | ۱۴۰ |






ليکونکی : نجيب الله عابد دننګرهار پوهنتون مرکزي کتابخانې عمومي مدير



# سریزه

زما عزتمند و مسلمانانو! ما وغوښتل ددعوت اوتبلیغ دمشرانو بیانونه په لیکلې بڼه خپلومؤمنو مجاهدو غمځپلو هیواد والو او دنړۍ ټولو مسلمانانو ته ډالۍ کړم تر څو د خپلو زړونو پر زخمونويې لکه پټۍ په شان ولګوي ځکه زمونږ ګران هیوادوال او په مجموع کې د ټولې نړۍ مسلمانان په دې وختونوکې له هرې خوا دجهاني داړه مارانو داور په بټۍ کې سوځي

چې ددی پنځو بیانونو دلیکلو توفیق الله کریم راکړو او دنور بیانونو دلیکلو توفیق ترې غواړم

**اول بیان :** د افغانستان ددعوت او تبلیغ عمومي امیر محترم حاجي صاحب خان زمان چې په افغانستان کې د دعوت او تبلیغ مؤسس مرحوم مولوي صاحب قلم الدین خاص شاګرد او نائب پاته شوې اوهغه دقندهار اجتماع کې دخپل مرګ نه څو ساعته مخکې دامیر په حیث اعلان کړو دا بیان چې واقعاً ډیر پر محتوا او دوخت له غوښتنو سره برابر او په لنډو لنډو الفاظو او روانه لهجه کې یې ډیر ښه بیان کړې دي ، نوموړی بیان پنځه پنځوس دقیقې دجلال اباد سالانه جوړ کې شوی ووچې نیټه هلته ذکر ده ، الله پاک دی ورته د ونیا او اخرت دواړه ښایسته کړي چې ددعوت کار لپاره یې شپه او ورځ سره یوه کړې دافغانستان په شان نا امنه ملک کې دا ټولې اجتماع ګاني کنترولول او سربراه کول څه وړه خبره نه ده

**دوهم بیان :** محترم مولوي صاحب سبحان الله دیورته ذکر شوي تاریخ سره سم ددعوت او تبلیغ جلال اباد مرکز ، چکنوریو مکې مسجد کې دوه نیم ساعته بیان کړی وو دده بیان الحمد لله ډیرعالمانه فصیح او بلیغ دی چې د اوریدونکو او لوستونکو لپاره ډیر ساده او روان او په ایات حدیث او شیږو نمبرو برابر وړاندې شوی الله دې ددوې په عمر کې برکت واچوي

**دريم بيان :** له هندوستان څخه راغلي ميلمه چې دټولې نړې ددعوت او تبليغ عمومي امير مولوی سعد صاحب چې دمولنا الياس رحمة الله عليه لمسی کيږي معاون دی محترم مولوی شوکت صاحب حفظه الله دجلال اباد مرکز سالانه جوړ چې تاريخ يې پورته ذکر شوی يوه نيمه ګنټه بيان کړې وو چې دده بيان لکه ديو مشر استاد په حيث بيان دی او دلته يې يوه برخه چاپ شوه دوهمه ورځ چې کوم بيان يې کړې انشاء الله راتلونکې کې به ددې سره يوځای چاپ شي

**څلورم بيان :** دډاکتر صاحب ګلاب نور بيان چې درې ساعته او پځلس دقيقې وه واقعاً په زړه پورې او قانع کونکی هر اړ خيزه بيان دی ، الله پاک دې له ده څخه راضي شي

ورونو! دننګر هار پوهنتون يو استاد چې کله د ډاکتر صاحب بيان واوريده نو ماته يې وويل ناشنا عالم وه دين يې په داسې لنډو لنډو الفاظو او په ډير کم وخت کې دزمکې نه تر اسمانه او دشرق نه تر غربه او له شمال نه تر جنوبه ټول بيان کړو چې زه ورته حيران شوم که چيرې دا ټول علماء دا قسم بيانونه وکړي والله که يو کس هم ګمراه شي

**پنځم بيان :** دنظام الدين اولياء له مشرانو څخه راغلي ميلمه محمود الحسن صاحب بيان دی چې په مغيباتو غږيدلی (نظر او خبر) چې په نظر څه راځي دا دروغ اوغلط دي او خبر چې دنبي پاک صلى الله عليه وسلم په مبارکه خوله بيان شوی وي دا صحيح او رښتيا دی دده بيان محترم ورور افتخار صاحب ماشاء الله په ډير ښه انداز کې ترجمه کولو الله تعالی دی دده په عمر کې برکت واچوي

نوموړې رساله يواځې دځان لپاره نه بلکه علماء کرامو ، طالب العلمانو ، متعليمينو ، معلمينو ، محصلينو او استادانو باندې په وړيا ډول تقسيم او صدقه کړي تر څو ټولو ته ورسيږي

محترمو لوستونکو دبيانونو په ترجمه او ليکلو کې نهايت کوشش شوی خو بياهم که کومه خبره زياته او کمه راڅخه شوې وي دالله پاک نه راته معافي وغواړی --- والسلام

ستاسو ورور داعي الى الله ( نجيب الله عابد )ننګرهار پوهنتون

# اول فصل

## جلال اباد چکنوریو مکي مسجد تبليغي مرکز

## دافغانستان د تبليغ عمومي امير

# حاجي صاحب خان زمان

**حفظه الله(۵۵)دقيقې سالانه جوړ بيان**

**( ۱۳۹۸/۱/۱هــش) = ( ۲۱ /۳/ ۲۰۱۹م)**

**= ( ۱۴/رجب/۱۴۴۰هــق کال )**

الْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سيئات أعمالنا، من يهد الله فَلَا مُضِلَّ لَهُ, وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأن محمداً عبده ورسوله أرْسلهُ بِالْحَقِّ بشيراً وَنَذِيرا أما بعد : فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسمالله الرحمن الرحيم: . وَالَّذِينَ جاهَدُوا فِينا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ (69),وقال سبحانه وتعالى في محكم كتابه وفرقانه( قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (31)وقال تبارک وتعالى ( يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ (102العمران ) وقال تعالى إِنَّ الَّذِينَ قالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلائِكَةُ أَلاَّ تَخافُوا وَلا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ (30) نَحْنُ أَوْلِياؤُكُمْ فِي الْحَياةِ الدُّنْيا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيها ما تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيها ما تَدَّعُونَ (31) نُزُلاً مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ (32) وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِمَّنْ دَعا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صالِحاً وَقالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ (33 فصلت) وقال تعالى كُلُّ نَفْسٍ ذائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّما تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فازَ وَمَا الْحَياةُ الدُّنْيا إِلاَّ مَتاعُ الْغُرُورِ ( العمران185) وقال تعالى مِنْها خَلَقْناكُمْ وَفِيها

نُعِيدُكُمْ وَمِنْها نُخْرِجُكُمْ تارَةً أُخْرى (55 طه) وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ المنكر، أو ليوشكن الله أن يبعث عليكم عقابا من عنده ثم لتدعنه فلا يستجيب لكم» حسن. رواه الترمذي .

او كما قال عليه الصلاة والسلام عَن أبي هُرَيْرَة قَالَ: قَالَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم إِذا عظمت أمتِي الدُّنْيَا نزعت مِنْهَا هَيْبَة الْإِسْلَام واذا تركت الْأَمر بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْي عَن الْمُنكر حرمت بَرَكَة الْوَحْي وَإِذا تسابَّت امتي سَقَطت من عين الله ( أخرج الْحَكِيم وَالتِّرْمِذِيّ )او كما قال عليه الصلاة والسلام "لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا (الْبُخَارِيّ وَمُسلم وَالتِّرْمِذِيّ) او كماقال عليه الصلاة والسلام مَا أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ أَجْمَعَ الْمَالَ وَأَكُونَ مِنَ التَّاجِرِينَ لَكِنْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ(القرطبي او كما قال عليه الصلاة والسلام «خيرُ النَّاسِ مَنْ يَنْفَعُ النَّاس» او كما قال عليه الصلاة والسلام "مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ منهم"(ابوداود) من تشبه بقوم فهو منهم . اللَّهُمَّ صل على مُحَمَّد وعَلَى آل مُحَمَّد كَمَا صليت على ابراهيم وَآل ابراهيم انك حميد مجيد اللَّهُمَّ بَارك على مُحَمَّد وعَلى آل مُحَمَّد كَمَا باركت على ابراهيم وَآل ابراهيم انك حميد مجيد اما بعد: زما عزتمندو ورونو او زما عزتمندو قدردانو علماء کرامو مشرانو تاسو ټولوته السلام عليكم ورحمة الله وبركاته. زما عزتمندو! ددعوت دمبارک محنت کار زمونږ اوستاسو او دقيامت تر ورځې راتلونکي هر مسلمان ذمداري ده چې کوم انسان او کوم داعي ددعوت کاردمقصد په بنياد باندې کوي چې دا زما مقصد دی او دې ته الله پاک پيدا کړی يمه دې ته الله پاک رالیږلی يمه داذل نه زما انتخاب الله پاک ددعوت دکار لپاره کړې دی.

عمر رضی الله عنه فرمايي چې ددې امت تشکيل الله پاک داذل نه ددې کار لپاره کړې دی حضرت ابن قيّم رحمة الله عليه واضحه ليکلي دي چې کوم انسان ايمان باوجود ددونيا نه لاړو چې حجونه يي کړې وه عمرې او خيراتونه يي کړې وه حتی چې جهاد يي هم کړی وو خو ددعوت کار يي نه وو کړی دقيامت په ورځ به دخير په امت کې نه پورته کيږي ځکه ددعوت کار حسن لذاته دی او حسن لغيره دی .

امام غزالي رحمة الله عليه ليکلي دي چې کوم انسان ددعوت کار ته صرف کم وګوري چې دا کم کتل دټولو پيغمبرانو کار ته سپک کتل دې.

امام نووي رحمة الله عليه ليکلي چې ددعوت کار قطب الاعظم دی دا ام الحسنات دی اعظم الاعظم کار دی او دا اوچت کار دی.
شیخ حسن جان صاحب به خبره کوله ددین خپرولو دوه پنځوس شعبې دي ددې ټولو حیات او ژوندي کیدل الله پاک دعوت کې ایښې دی.
حدیث پاک مفهوم دی چې څومره الله پاک دونیا کې نیک اعمال پیدا کړې دي که هغه بدني دي که مالي دي  دا ټول اعمال راجمع کړې دجهاد په مقابل کې دومره کم دي لکه دسمندر په مقابل کې چې لاړې کمې دي جهاد دالله په نزد دومره اوچت عمل دی خو دالله پیغمبر فرمایي که جهاد هم ورسره ملګرې کړې ددعوت په مقابله کې دومره کم دي لکه دسمندر په مقابل کې چې لاړې کمې دي نو ددعوت کار دالله په نزد باندې دومره اوچت عمل دی.
الله پاک پخپله داعي دی وَاللَّهُ يَدْعُوا إِلى دارِ السَّلامِ( یونس ۱۰) الله پاک بلنه او دعوت ورکوي دسلامتیا کور ته چې هغه جنت دی.

وَما أَرْسَلْناكَ إِلاَّ كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً وَلكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ (28 سباء) پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته الله پاک فرمایي ما ته نه یي لیږلی مګر کافة الناس مې لیږلی یې بشیر او نذیر مې لیږلی یي اویوې معلومې زمانې پورې نه بلکه تر قیامته پورې مې لیږلی یي .
ددعوت کار څلور میاشتې یا چله معیار نه دی کال او اوه میاشتې معیار نه دی بلکه ددعوت کار معیار «وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ» (الحجر ۱۵). ددعوت کار تر مرګه کول ، ددعوت کار په مشکل کې کول ددعوت کار بغیر سوچ او فکره کول ، ددعوت کار دزنده ګې په ټولوامورو اوچت ګڼل ، ددعوت کار دټولې زنده ګې مقصد جوړول او خپل ژوند ددعوت تابع ګرځول معیار دی .
ما تاسوته عرض کاوه چې کوم انسان ددعوت کار صحیح یقین سره کوي دې انسان کې الله جل جلاله داسې صفات پیدا کوي  لکه څنګه چې الله پاک په صحابه وکرامو کې پیدا کړی وه ،  او دې انسانانو کې الله پاک داسې صفات پیداکوي لکه څنګه چې الله پاک پخپلو محبوبو پیغمبرانو کې پیدا کړې وه الله پاک داسې علم ورکوي لکه څنګه چې الله پاک پیغمبرانو ته ورکړې وه.
وایي چې کوم انسان دعوت کار صحیح یقین سره کوي په ده کې الله پاک اوولس صفات پیدا کوي اولنې صفت یې دادی چې دالله پاک سره یې محبت

پیدا شي ،که چیرې دټول مخلوق نه چې الله کوم پیداکړي دي ددعوت په نقشو کې ورته الله پاک محبوب نشو او دالله سره یي محبت زیات نشو ده په دعوت کې نقصان کړی دی ، ددعوت مقصددادی چې څمونږ اوستاسي او دټولو انسانانو دزړه تعلق دالله پاک سره جوړ شي که چیرې زمونږ دمور ، پلار، قبیل ، ځان او اولاد نه دالله پاک سره محبت زیات نشو زمونږ په دعوت کې نقصان دی .مونږ په تبلیغ کې الله پاک ته
خلک رابلو او دالله پاک عظمت بیانوو ددعوت او تبلیغ مقصد درې خبرې وې ({يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ1}) توحید ته، رسالت ته او اسبات قیامت ته ، توحید یعني الله پاک یواځې کول په عبادت سره ، الله پاک یواځې کول په بنده ګې سره او الله پاک یواځې کول په دعاء،زړه او په زارۍ سره ، الله پاک دطاقتونو سره پیژندل ، الله پاک دصفتونو سره پیژندل ، الله پاک سره محبت کول ،الله پاک سره مینه کول او دالله پاک دقدرت سره مینه کول.

پیغمبر ته الله کریم فرمایي : يا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ «3» وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَما بَلَّغْتَ رِسالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ (المائده) ای پیغمبره بلغ داصیغه دامر ده ای پیغمبره تبلیغ وکړه دعوت وچلوه دقران دعوت وچلوه دښې عقیدې ایمان دعوت وچلوه دالله دعظمت دعوت وچلوه (وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ) که دا کار تا ونکړو یعني دعوت دې ونه چلوو(فَما بَلَّغْتَ رِسالَتَهُ ) تا دنبوت او پیغمبرۍ حق اداء نکړو دی امت ته الله کریم فرمای (كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ) تاسې بهتر یي لوح محفوظ کې تاسی بهتر یي اذل نه تاسې بهتر یي مخکنیو کتابونو کې تاسو بهتر یي په مخکنیو صحیفو کې ،تاسو بهتر یي په قران کریم کې تاسو بهتر یي

په توراة او انجیل کې الله کریم مونږ او تاسو ته څومره ښایسته دخیر لفظ راکړی دی الله کریم فرمایي چې تاسې بهتر یي اکرم یي عزت مند یي کامیاب یي خوشحاله به یي ، اخرجت که تاسو دالله په لار کې خروج وکړو او خروج نه وروسته كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ(العمران ۱۱۰) امر به په نیکي کوی او له بدې نه به منع کوی او په الله باندې به ایمان ساتي قُلْ هذِهِ سَبِيلِي أَدْعُوا إِلَى اللَّهِ عَلى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحانَ اللَّهِ وَما أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ (108) ای پیغمبره ورته ووایه هذِهِ سَبِيلِي همدا زما لار ده همدا زما مقصد دی (أَدْعُوا

إِلَى اللَّهِ )(عَلى بَصِيرَةٍ )په علم سره په پوهه سره په دلايلو سره داعي سړی په کور کورانه خبره نه کوي داعي سړی به خرافات نه وايي داعي سړی به دکونډو په شان اخوا ديخوا قصې نه کوي داعي سړی به حق خبره باندې مظبوط ولاړوي داعي سړی به دالله عظمت او لويي بيانوي( انا)دا زماکار دی وَمَنِ اتَّبَعَنِي او څوک چې زما تابعداردي دهغوهم دا کار دی

داد الله يو امر دی چې پيغمبر ته وايي چې ته ورته ووايه زما دا پيغام دی امت ته ورسوه دادنبي خبره نه ده دا ديو ولي خبره نه ده داد الله پاک پيغام دی الله پيغمبر ته وايي ورته ووايه (قُلْ هذِهِ سَبِيلِي) دغه زما لار ده ، کومه لارده؟(أَدْعُوا إِلَى اللَّهِ ) الله ته خلک رابلم په علم سره په بصيرة سره په دلايلو سره په جاني قوت سره په مالي قوت سره په حکمت سره داچېتي کار نه دی داداوزګارو خلکو کار نه دی دا مقصد حياة دی دي لپاره انتخاب شوي يو.

لکه څنګه چې دانبياؤو الله پاک انتخاب کړی وو انبياء کرام الله رالیږلي وه زما دې په هماغه الله قسم وي چې دا اومت هم الله رالیږلی دی او ددعوت کار ورته الله پاک په تحفه کې ورکړی دی ددعوت کار الله پاک ورته يو انعام ورکړې دی (أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي ) دا کار زما هم دی او څوک چې زما تابعدار دی دهغه هم دا کار دی په وَمَنِ اتَّبَعَنِي کې چاچه لااله الاالله محمد الرسول الله ويلې وي داکه امير دی که فقير د ی زنانه ده که نارينه دی باچادی که غريب دی امي دی که عالم دی جاهل دی که پوهه دی هرې طبقې والا دی هرملک والا دی اعلى دی ادنى دی چې کلمه يي ويلي وي دا په دې باندې مکلف دی چې ددعوت کار به کوي . (وَسُبْحانَ اللَّهِ وَما أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ) او ورته ووايه چې الله ډير پاک دی دهرعيب نه دصفاتو مالک الله دی شلمه سفاره سورة قصص کې اخري ايتونه وګورى (وَادْعُ إِلى رَبِّكَ وَلا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ( القصص87) راوبولي خپل پروردیګار ته اوتاسو مه کیږې په شان دمشرکانو . څوک چې ددعوت کار نه کوي دهغوی باره کې سخت وعيد راغلی دی دی ايت لاندې ليکلي چې څوک امر بالمعروف او نهي عن المنكر نه کوي دومره سخت وعيد دغه حديث لاندي راغلې دي چې تاسوته هغه زه بيانولی نه شمه . مايو حديث په يوه اجتماع کې بيان کړو يوه ډله دعلماؤو راغله چې تا دا حديث کوم ځای کې ليدلې دی ما ورته ووی پلانی ځای وګورې

حديث شريف کې راځي شريف انسان الله ته عزتمنداو محبوب انسان باندې به ښځه غالبه وي او ذليل انسان بدبخته او نصواري انسان به په ښځه باندې غالب وي دابه کنځلې کوي دروغ به وايي دابه غيبتونه کوي ماوی هغه کتاب دی ورشه ويي ګورې او داحديث مې ورته بيان کړو (وكان الدين معاملة بين العبد وربه (نظم الدرر۲۸۷ ص) دين معامله ده په مابين دبنده او رب کې يعني چې دچا معامله خرابه وه دهغه تبليغ نه قبليږي ، جهاد يې نه قبليږي لمونځ يې نه قبليږي دعاء يې نه قبليږي عمل يې نه قبليږي ٪۹۰ نوي حيصې دين معامله پورې تړلی دی . وايي دا حديث چرته دی ماوی ورشه هلته يي وګوره حديث کې راځي که چا يوه روپۍ له چانه په ناحقه وخوړه دقيامت په ورځ به له دی انسان نه ديوې روپۍ په مقابله کې به ۷۵۰ قبول شوي مونځونه اخلي دا خو توقې نه دي په دې خاطر باندې الله پاک داټول نظام ددعوت لپاره تيار کړی ځکه چې وايي (أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي ) دا زما کار دی او چا چې په مابانديې ايمان راوړې او چاچې دا کلمه ويلې لااله الاالله محمدالرسول الله ځکه زمونږ شيخ عبيدالله صاحب فرمايي ددعوت اوتبليغ کار دافرض دی دافرض عين دی دافرض عين دی دعوت ډير لويي عمل دی.

نن زما ورونو ددعوت باوجود پريشانه يو مونږ ددعوت دکار سره غيبت كوو مونږ ددعوت دکارسره معامله خرابه ده مونږ ددعوت دکار سره يقين غلط دی يو روايت کې راځي چې دچا دايقين وې چې زنده ګې په ملک او مال باندې جوړيږي يو سړې دی احرام يې تړلی دی بيت الله کې طواف کوي "لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ ". دا اوازونه کوي خو يقين يي په مال او ملک وي وايي دده ځځه په بيت الله کې الله پاک نا راضه دی.

ددعوت سره يقين جوړيږي مولنا احسان صاحب به فرمايل ددعوت سره دانسان تربيت کيږي ددعوت سره دانسان حفاظت کيږي الله پاک دداعي سره په قران کې پنځه وعدې کړې دي الله پاک فرمايي (وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ( العنكبوت69) کوم انسانان چې دالله ددين لپاره مجاهدې ،تکليفونه او قرباني کوي دامکي ايت دی الله پاک وايي لنهدينهم زه به ورته خامخا هدايت وکم دوهم سبلنا دهدايت لاری به ورته خلاصې کړم ،کوم انسان چې ددعوت کارکوي الله کريم فرمايي ده ته به اجر

عظيم ورکړم ( اجرًا عظيم ) او کوم انسان چې ددعوت کار کوي ( رزقٌ کريم ) عزتمند رزق به ورکړم مولنا يوسف رحمة الله عليه فرمايل چې څوک ددعوت کارکوي الله پاک به يي داسې حفاظت کوي که په جنګ کې دپسرلي دباران په شان بمونه وورېږي الله پاک به يي حفاظت وکړي .
عبدالوهاب صاحب فرمايل که څوک ددعوت کار کوي الله پاک به دده اوه پيړې مخکې او اوه پيړې شاته مدد وکړي الله پاک دده خاندان پالي دنيا کې يي هم پالي او اخرت کې يي هم پالي ددي ايت په رڼا کې يي ليکلي دي (إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا ) بيشکه هغه کسان چې الله يو وګڼي دالله حق دالله صفت چاته ورنکړي ( ثُمَّ اسْتَقَامُوا )او په دي خبره باندې استقامت اختيار کړي مولنا يوسف رحمة الله عليه ليکلي دي چې استقامت ددعوت نه پيدا کيږي استقامت دنبي صفت دی استقامت دصحابه و صفت دی استقامت ددعوت نه پيدا کيږي دلمونځ څخه نه پيدا کيږي تاسو به ډير کسان ليدلي وي چې لمونځ هم کوي او دروغ هم وايي تاسو به ډير کسان ليدلي وي چې لمونځ هم کوي او غيبت هم کوي او تاسو به ډير کسان ليدلي وي چې لمونځ هم کوي او نصار هم اچوي ، کنځلې هم کوي ښځه او اولاد هم وهي ،خيانت کوي تاسو به ډير قاضيان ليدلي وي اذان هم کوي او رشوت هم اخلي والله بالله چې کوم انسان په دعوت کې پوخ شو او صحيح داعي وي مولنا صاحب ليکلي چې څلور مياشتې په خپلو پيسو ولګوي او دامير په اطاعت کې يي ولګوي او دخپلو مشرانو په منشاء يي ولګوي دده ايمان او يقين به الله پاک داسې جوړ کړي تاسو څخه مې دی حياء وي که دبربنډو ښځو په منځ کې څملي زنا به ونکړي ځما يو ملګرى وه هغه وې ما لس کاله مسکو کې تيرې کړ ې دتعليم لپاره تللى ووم زه داعي ووم زما سره په کمره کې يوه وروسی ښځه وه او دا داسې ښايسته وه لکه لمر تکه سپينه او ځوانه وه وايي امر صاحب زما دې په الله قسم وي ما زنا نه ده ورسره کړې او فقط يوه سه روزه مې تيره کړې وه ديوی سې روزې دومره برکت وي ځکه خو ددعوت سره ايمان کې قوت پيدا کيږي ددعوت سره ايمان خوريږي دعوت سره دايمان حقيقت پيدا کيږي دعوت تخم دهدايت دی دعوت ذريعه دهدايت دی داعي الله پاک دی پيغمبران داعيان دي دا اومت داعي دی دعوت وړوکې منصب نه ده دا چې مونږ پرې نه پوهيږو او ځان نه پوهوو دا مونږ

ددعوت سره خیانت کوو دتبلیغ سره خیانت دی چې دتبلیغ سره سره ګناهونه کوو دتبلیغ سره غیبت کووتبلیغ کې نافرماني کوو.

یو سړی زمکي نه اسمانه پورې عمل وکړي شرق نه تر غربه پورې شمال نه تر جنوبه پورى دا وینا دمولنا محمد احمد صاحب ده چې مونږ ته یې په مشوره کې کوله وایي داعمل نه قبلیږي داعمل نه قبلیږي ترڅو دټولې دونیا اسلامي ملکونه دټولې دونیا تبلیغیان بلکه که هرڅوک وي او تبلیغ کې یې وخت لږیدلی وي تر هغې وخته چې دهندوستان دنظام الدین صاحب عمومي مرکز حضرت جي مولنا سعد صاحب اطاعت ونکړي دده عمل نه قبلیږي دقران او حدیث په رڼا کې دده عمل نه قبلیږي دده عمل نه قبلیږي ځکه چې اتیا کاله وشوه چې اطاعت یي کیده اوس یي ولې نه کوي که دا اتیاکاله مخکې دا کار خراب وه نو توبه او استغفار وباسه اوکه اویا اتیا کاله مخکې کار صحیح وه نو اوس یي هم کوه

تبلیغ نوم داطاعت دی که دافغانستان بچې بچې چې تبلیغي دی دجلال اباد مرکز دمشرانو اطاعت ونکړي د الله په کتاب دده عمل نه قبلیږي

تبلیغ ددعوا نوم نه دی تبلیغ دعمل نوم دی او زمونږ ددعوت او تبلیغ معیار قران او حدیث دی زمونږ دتبلیغ معیار پیغمبران دي زمونږ دتبلیغ معیار صحابه ای کرام دي په هر حال کې به د الله کتاب ته ګورو قران ته به ګورو که یوسړی بزرګ دی او تا دالله پاک دحکمونو څخه لرې کوي دده اطاعت واجب نه دی زمونږ دتبلیغ اوزمونږ اوستاسو امام صاحب رحمة الله علیه لیکلي دې زما مذهب قران او حدیث دی کوم سړې چې په قران او حدیث برابر نه دی دا زما دمذهب نه نه دی دا دروغ وایي هروخت به قران او حدیث ته ګورې چې دا زما عمل دقران او حدیث مطابق دی اوکه نه دی دپیغمبر موافق دی او که نه دی (وَما يَنْطِقُ عَنِ الْهَوى (3) إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحى (4)النجم ) دپیغمبر خبره دځان نه ده.

( قل إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ( العمران 31) ورته ووایه ای پیغمبره که تاسو دالله پاک سره مینه محبت کول غواړې الله پاک راضي کول غواړې نو فَاتَّبِعُونِي زما اطاعت وکړې په مقصد کې یې وکړې په اعمالو کې دې وکړي دپیغمبر اتباع څه شی ده ایا مال دی (مَا أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ أَجْمَعَ الْمَالَ وَأَكُونَ مِنَ التَّاجِرِينَ لَكِنْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ

الْيَقِينُ(القرطبي ) پيغمبر عليه السلام به غټ تاجر جوړ کړمه تجارت دفخر شیء نه دی او نه مال دفخر شیء دی نه انسان ته مال عزت ورکوي او نه يي تجارت ورکوي عزت انسان ته دين ورکوي اودين په دعوت سره راځي دعوت دالله پاک ډير عظيم حکم دی دټولو علماؤ په دی باندې اتفاق دی چې اولنی وحی دعوت ده چې {يا أيها المدثر قم فأنذر} [المدثر: 2] اي شړی اغوستونکيه پاڅيږه خلک وويروه ، اولنی وحی دعوت راغلې ده بعضې علماء وايي په دې کې اختلاف دی دادوهمه وحی ده دعوت وړوکې عمل نه دی دا عظيم نعمت دی نو دپيغمبر مقصد څه شیء دی هغه دعوت دی په مقصد کې اتباع په اعمالو کې اتباع

ملا علي قاري رحمة الله عليه په مرقاة کې ليکلي چې کوم انسان دپيغمبر کار ته سپک ګوري دا پيغمبر ته سپک او کم ګوري دپيغمبر په کار شرميږي دپيغمبر په اتباع باندې شرميږي دپيغمبر په لباس دپيغمبر په ژوندشرميږي هغه ليکلي دې چې که دا انسان په دونيا کې څومره معزز دی څومره قدردان دی څومره اوچت دی خو دپيغمبر په اتباع کې ژوند نه تيروي دالله په نزد دسپي نه هم ډير سپک دی.

امام مالک صاحب ليکلي دي چې دالله دپيغمبر دقبر خاوره يو مثقال الله پاک ته دخپل عرش نه ډيره خوښه ده نو کار به يي څومره خوښ وي دعوت به يي څومره خوښ وي ځکه الله کريم فرمايي(إِنَّ الَّذِينَ قالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقامُوا) بيشکه هغه کسان چې الله خپل رب ګڼي يو يې ګڼي دالله حق دالله فعل دالله صفت چاته ورنکړي او دا وايي چې الله پاک قدرت مطلقه لري هر ځای کې مي ګوري الله پاک علم محيط لري هر ځای کې خبر داردی تصرف عمومي لري مشيط نافذه لري واکدار دی مالک الملک دی دارادې نوم يي وجود دی چې څه کول وغواړي کولی يي شي اسبابو سره يي کولی شي بغير داسبابو يي کولی شي خلاف داسبابو يي کولی شي مالک الملک دی (قُلِ اللَّهُمَّ مالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (26) تُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهارِ وَتُولِجُ النَّهارَ فِي اللَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشاءُ بِغَيْرِ حِسابٍ (العمران27) الله پاک دبادشاهۍ حق دار دی بعضې خلک دا داسې ترجمه کوي چې الله بادشاه دبادشاهانو دی داغلطه ترجمه ده الله دبادشاهۍ حق داردی مالک الملک دی (إِنَّما أَمْرُهُ إِذا أَرادَ شَيْئاً

أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ( 82 يس) (وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلا كاشِفَ لَهُ إِلاَّ هُوَ (انعام ١٧) ( تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (26 العمران) قادر مطلق دی نو داسی دالله حق به چاته نه ورکوی په قران باندې به عمل کوې په عقيده کې قران باندې عمل کوې په عباداتو کې قران باندې به عمل کوی په معاملاتو کې قران باندې عمل کوی په معاشره کې قران باندې عمل کوی په ا خلاقو کې قران باندی عمل کوې په حکومت کې قران باندې عمل کوې په تجارت کې فیصلې په قران کوې یو ځای کې فرمايي داکافران دي چې په قران فیصله نه کوي بل ځاکې فرماي دا فاسقان دي بل ځای فرمايي دا ظالمان دي.

چې لور ورکوي دقران مطابق به يي ورکوی چاچې په لور پيسي واخستې دده عمل نه قبليږي دده عمل نه قبليږي ښځه يي واورې ټول زاړه ملګري يي داحرام خوراک دی دحرامو سره وينه پليتيږي دي ويني سره لمونځ نه قبليږي يوه کپله حرام دې وخواړه څلويښت ورځې دې لمونځ نه قبليږي دعاء دې نه قبليږي روژه دې نه قبليږي دا دمشکواة حديث دی.

له حرامو نه به ځان ساتي حديث پاک کې راځي چې ددوه زره رکعته نفلي لمونځ نه دا بهتره ده چې ديوې کپلې حرام خوړو نه ځان بچ کړې الله پاک فرمايي (لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُم سكرى ) لمانځه ته مه نژدې کيږه چې نشه وې اوبل ځای کې فرماي (وَلا تَقْرَبُوا الزِّنى) او زنا ته نژدې هم مه ورځه مطلب داچې ګناه ته به نژدی کيږی هم نه داسې يي نه دې ويلې چې ولاتفعلو په قران باندې عمل کول په حکومت کې په سياست کې په تجارت کې په زراعت کې په کور کې په بدن کې په اولاد کې په عرف کې په شاوخوا عالم کې به قران حاکم کوې زمونږ ددعوت مقصد په ټوله دونيا کې دقران حاکميت دی زمونږ ددعوت بنياد او مقصد تر قيامته پورې همدا دی.

ټول دين الله پاک په قران کې ايښې او دټولو اسماني کتابونو خلاصه الله پاک قران کې جمع کړې ده دټول قران خلاصه الله پاک سورة فاتحه کې جمع کړې ده دسورة فاتحې خلاصه الله پاک په دوو ټکو کې جمع کړې ده چې (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ( فاتحه5) او ددې ټکو خلاصه الله پاک په لفظ الله کې جمع کړې ده چې الله نه ماسوا هيڅ مخلوق هيڅ شئ نشي کولی اشرف علي تهانوې صاحب ليکلي والله بالله ثم تالله يوځل الله لفظ ويل ددونيا او

اخرت دتېولو نعمتونو نه بهتر دی دالله لفظ اسم اعظم دی دالله لويې نوم الله دی الله الله كه په دې تبليغ كې زمونږ محبت دالله سره زيات نه شو دالله پيغمبر فرمايي (إِذا عظمت أمتِي الدُّنْيَا نزعت مِنْهَا هَيْبَة الْإِسْلَام) چې كله زما اومت دونيا لويې شئ وګڼي اومحبت يي زړه کې راشي (نزعت مِنْهَا هَيْبَة الْإِسْلَام) دده نه داسلام هيبت ووته ، اسلام، ايمان ،دين او قران داټول يو شئ دی (واذا تركت الْأَمر بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْي عَن الْمُنكر حرمت بَرَكَة الْوَحْي) چې كله زما اومت امر بالمعروف اونـهي عن المنكر پرېږدي يعني ددعوت اوتبليغ كار يي پريښوده نو دقران دوحی نه به محروم شي نور نو قران نه نازليږي او نه نوره وحې راځي اسماني وحې قران دی له دې څخه به محروم شي دا بعضې خلک دترجمې باوجوددقران په ويلو باوجود تبليغ ته مستحب وايي دده دزړه نه الله پاک دقران عظمت ايستلې دی امام غزالي رحمة الله عليم فرمايلي څوک تبليغ ته مستحب وايي الله دې خوله ورماته کړي دتبليغ كار او مستحب ، كه دتبليغ كار مستحب وي نو پيغمبر مستحب كار لپاره راځي{وسارعوا إِلَى مغْفرَة من ربكُم وجنة عرضهَا السَّمَاوَات وَالْأَرْض أعدت لِلْمُتقين} {وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلامِ ) الله داعي دی بلنه وركوي جنت ته مغفرت ته دسلامتيا كور ته دانو څه وړه خبره ده .

څوک چې دتبليغ كاركوي او دالله پاک سره يي محبت پيدا نشواو ددونيا سره يی بې رغبتي پيدا نشوه ګورې ددونيا سره بې رغبتي دا نه ده چې ته ليونی شی او كالي وشكوی او ټكی كار نكوې بلكه ددونيا نه بې رغبتي داده چې ددين او دونيا مقابله راغله دونيا به پرېږدې اودين به پورته كوی كه ستا نه دا ټوله دونيا لاړه شي دروغ به ورته نه وايي ددين دونيا مقابله راغله دين به مخكې كوي اودونيا به وروسته كوې دكاراو لمونځ وخت راغی لمونځ به مخكې كړې ددونيا كار به وروسته كوې.

لور وركوي څه به نه اخلې دعلماوو نه پوښتنه وكړې ځينې وايي ماته يي بخشش كړی ګورې دلور په سر بخشش نه صحيح كيږي . ته لور وركړه كور ته يې وروله كه بيا يې وروسته څه راوليږل نو صحيح ده دا بخشش ده په دين كې حيلې نشته دين دحيلو نوم نه دی دين دقربانيو اومجاهدو نوم دی (وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكاً وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيامَةِ أَعْمى (124) قالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيراً (125) قالَ كَذلِكَ أَتَتْكَ آياتُنا فَنَسِيتَها وَكَذلِكَ الْيَوْمَ تُنْسى (طه 126) چاچې زما له دين نه اعراض

وکړ په ده به ژوند راتنګ کړم او په ورځ دقیامت به يې ړوند راپاڅوم ، بيابه دا وواييې ای ربه ولې دی زه ړوند راپاڅولم ؟ زه خو په دونيا کې ړوند نه ووم ، الله پاک به ورته وواييي تاته زما اياتونه راغلي وه تا هير کړي وه نن ته ما هير کړی ) دين او قرأن نه منلو ته اعراض وايي علماوو ليکلي دي اعراض شپاړس طريقې دی قران صحيح نه زده کول اعراض دی ، قران باندې عمل نه کول اعراض دی ، قران باندې يقين نه کول اعراض دی،قران سره محبت نه کول اعراض دی، علماؤو سره مينه او محبت نه کول اعراض دی، امر بالمعروف نه کول اعراض دی ، نهی عن امنکر اعراض دی ،دقران لفظي ترجمه نه زده کول کول اعراض دی ، قران باندې ځان نه پوه کول اعراض دی، قران په حکومت کې نه حاکم کول اعراض دی،په دفتر کې يې نه حاکم کول اعراض دی ، په قوم نه حاکم کول اعراض دی اعراض شپاړس طريقې علماوو ليکلي دي او چاچې قران نه اعراض وکړ الله پاک فرماي مَعِيشَةً ضَنْكاً ژوند به يې تنګ کړم او قيامت کې به يې ړوند راپاڅوم ، دښځې باوجود به خفه وي دمال باوجود به خفه وي دېولو باوجود به خفه وي ضَنْكاً معنې ژوندتېکول لکه اور چې درنه تاو وي او مجاهدينو ته الله پاک فرمايي (وَالَّذِينَ جاهَدُوا فِينا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ( العنکبوت 69) هدايت به درته وکړم ددونيا او اخرت لارې به درته خلاصې کړم ددعوت سره چې څوک ددونيا نه بې رغبته نشو تبليغ کې يې نقصان دی تبليغ يې کوته دی تبليغ سره دروغ وايي تبليغ سره غيبت کوي تبليغ سره اطاعت نه کوي تبليغ سره تواضوع نه کوي تبليغ سره درګذري نکوي تبليغ سره صبر نه کوي تبليغ سره عفوه نه کوي او تبليغ سره استقامت نه اختياروي تبليغ سره مال نه لګوي تبليغ سره ځان نه لګوي تبليغ سره وخت نه لګوي تبليغ سره غصه نه کنترولوي او ځان نه يې دګونګتې ورور جوړ کړی وي ګندګي راتېلوي تبليغ کې به دځان نه بورا جوړوې په ګلانو به کينې او ګلان به راتېلوې .

څلور کسان دهدايت نه محروم دي اول بې طلبه انسان دوهم بې ادبه انسان دريم بدعتي انسان څلورم ضدي انسان يو سړی وايي داخبره حقه ده خونه يې منم زړګی مې نه غواړي زړګی دې بيمار دی علاج يې وکړه حق خبره به منې دا خو دابوجهل خبره ده ابو جهل ته ښه معلومه وه چې دا پيغمبر حق دی خو ويل يې والله که يې ومنم دا خو دابو لهب خبره وه داخو دابو

طالب خبره وه داخو دمکې دمشرکانو خبره وه چې داخبره حق ده دالله په نوم به يې قسمونه کول خودالله دپيغمبر خبره يې نه منله .
الله به منو دالله به هم منو ، قرأن به منو دقرأن به هم منو،پيغمبر به منو دپيغمبر به هم منو، ايمان به راوړو دايمان په رڼا کې به خپل ژوند تيرو.
دوهمه خبره واورې کوم انسان چې ددعوت په نقشه کې روان دی اوده باندې داخرت شوق غالبه نشو دالله سره يې مينه او محبت زيات نشو ددونيا سره يې بې رغبتي غالبه نشوه او داخرت غم ورباندې غالب نشو چې ياالله څنګه به مړ کيږمه قبر کې به يوازې پروت يمه هيڅوک به راسره نه وي نه به مې بچې وي نه به مې ښځه وي نه به مې کور وي يا الله اصحاب يمين کې به يم که اصحب شمال کې به يمه حقيار يو شاعر دی هغه ليکلي :
قافلې به ديمين او شمال جوړيږي ــ ای حافظه ته به مل دکوم کاروان يې

داغم چا سره نشته چې زه به کومه ډله کې پاڅيږم ګنهګارو کې که ديندارو‌کې دقيامت په ورځ اعلان کيږي (وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ( يس59) دا اوازکافرانو ته نه کيږي بلکه مسلمانانو ته کيږي ، اعلان به وشي جدا شې مجرمانو، شرابيانو ، زناپانو ، چرسيانو پوډريانو ، نصواريانو دغسې قاتلانو خائنانو او هرچاته به بيل بيل نسبتونه کيږي حساب اوکتاب به کيږي (أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّما خَلَقْناكُمْ عَبَثاً وَأَنَّكُمْ إِلَيْنا لا تُرْجَعُونَ ( المؤمنون115) ايا تاسو ګمان کوې چې مونږ عبث پيدا کړی شوې يو او مونږ ته به مو واپسي نه کيږي ، داسې نه ده چې مونږ اوتاسو عبث پيدا شوې يو.
دريم چې دچا اخلاق په تبليغ کې ښايسته نشوه ده په تبليغ کې خيانت کړی دی ، کريمانه اخلاق ، حسنه اخلاق ، عظيمانه اخلاق، شريفانه اخلاق حديث پاک کې راځي چې زه په جنت کې ديوه کور ضامن يمه دهغه چا چې دحق باوجود جګړه پريږدي دوهم دهغه چادپاره په جنت کې ديوکور ضامن يمه چې په ټوقو کې هم دروغ پريږدي دريم دجنت په اعلا درجو يعني جنت فردوس کې ديوه کور ضامن يمه چې دهغه اخلاق نرم وي اخلاق کريمانه اخلاق حسنه اخلاق عظيمانه اخلاق شريفانه اخلاق، دنرمو اخلاقو والا نرم طبعيت والا نرم مزاج والا دده درجه داده لکه ټوله شپه چې قيام الليل کوي او الله يې ورته قبول کړي او ټوله ورځ روژه وي او الله يې قبول کړي داڅومره لوړه درجه ده

لړ عقل پیدا کول پکار دي الله کریم قسم وخوړه ای جنت عدن زمادي په خپله لویې قسم وي زما دی په عزت قسم وي زما دې په لویي شان او جلال قسم وي چې تا کې به شوم او بداخلاقه سړی داخل نشي
( عَن انس قَالَ قَالَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم خلق الله جنَّة عدن بِيَدِهِ لبنة من درة بَيْضَاء ولبنة من ياقوتة حَمْرَاء ولبنة من زبرجد خضراء ملاطها الْمسك وحصباؤها اللُّؤْلُؤ وحشيشها الزَّعْفَرَان ثمَّ قَالَ لَهَا انْطِقِي قَالَت قد أَفْلح الْمُؤْمِنُونَ فَقَالَ الله تَعَالَى وَعِزَّتِي وَجَلَالِي لَا يجاورون فِيك بخيل (توضيح المقاصد)
نو په تبلیغ کې اخلاق جوړیږي په یخچال کې واوره جوړیږي چې یخچال خرابه نه وي دیخ کارخانه کې واوره جوړیږی چې کارخانه خرابه نه وي موټر کې انسان تلی شي چې موټر خرابه نه وي جهاز هوا کولی شي خو چې جهاز خرابه نه وي الله پاک پکې دا توفیق ایښی دی الله پاک پیدا کړي ددی لپاره چې هوا نه کوي جهاز خرابه دی ددعوت کار سره ژوند بدلیږي ایمان بدلیږي عقیده بدلیږي الله پاک سره محبت زیاتیږي داخرت سره شوق زیاتیږي .
پنځم : څوک چې ددعوت کارکوې مخ یې ښایسته کیږې دداعي سړي مخ ښایسته وي حسن بصري صاحب نه چا پوښتنه وکړه چې دانیکان خلک څنګه ښایسته ښایسته او سپین مخ معلومیږي هغه ووې چې داخلک تولله ورځ دا لله پاک په رحمت کې وي دپرشتو په ماحول کې وي دمسجد په ماحول کې وي دقرأن ددرسونو په ماحول کې وي دحدیثو ددرسونو په ماحول کې وي شپه او ورځ دا دپرشتو سره مشابهت دی ځکه داالله پاک په رحمت کې پټ وي نو ځکه الله پاک ښایسته پیدا کړي دي ددا عي سړي مخ ښایسته وي کرغیړن مخ یې نه وي مخ یې ښایسته وي رنګ یې ښایسته وي خبری یې ښایسته وي معامله او معاشره یې ښایسته وي دعوت دا ډیر لویې عمل دی دونیا کې به دې مخ ښایسته وي قبر کې به دی مخ ښایسته وي میدان محشر کې به دې مخ ښایسته وي همیشه به دی مخ ښایسته وي تجلې به کوي دداعي سړي مخ الله پاک په قبر کې نه توروي دونیا کې نه توروي مرګ وخت کې یې نه توروي عبدالله ابن عباس رضی الله عنه چې کله وفات شواو قبر کښې یې کیښوو یوه سپینه مرغې وه په هوا ګرځیدله اودا ایتونه یې ویل {يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَرْضِيَّةً

فَادْخُلِي فِي عِبَادِي وَادْخُلِي جَنَّتِي} [سورة الفجر الآيات: 27-30] او چې كله يې قبر كې كيښوده دا مرغۍ راغله او په كفن كې ورسره ننوتله او همدا ايتونه يې ويلې .

حديث كې راځې دچاچې دقرأن سره مينه محبت وي په قبر كې به قرأن دمرغه په شكل په دغه سړي وزري وغوړوي او ترې راتاو به شي او چاچې په دونيا كې دقرأن سره مينه اومحبت نه وي كړى دپيغمبر اتباع يې نه وي كړې كه دټول جهان حلوا ګاني پسې پخې شي ده له هيڅ فايده نه وركوي، قرأن دعمل شى دى دپيغمبر اتباع دعمل شى دى ، دې لپاره الله پاک پيدا كړې يو راليږلې يو انتخاب كړې يو ماخو درته دعبدالله ابن عباس رضى الله عنه چې صحابي دى واقعه بيان كړه ،دغه اوس وخت كې تاسويې هم پيژنې حاجي صاحب حبيب الله چې په ګلونو مشهور وه( هغه به چې كله كارګذاري ياواپسي اوروله جماعت والا ته به يې ويل ګلونو يا ګلانو تاسو په خير راغلې ) دلته په مركز كې يې اذان اقامت او نور خدمت كولو تهجد يې وكړه اذان اقامت جمع يې وكړه په تسبيحاتو ناست وه وفات شو داسمان نه وربادنې درى رڼا ګاني راښكته شوې په رڼا ورځ داسې ښكاريدې لكه بجلې دې چې لګولى وي يوه يو خوا بله بل خو او بله بل خواوه داټول خلک په دې ګواه دې دې ته وايې ايمان .

(تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلائِكَةُ أَلاَّ تَخافُوا وَلا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ ( فصلت30چې كله مؤمن مركيږي الله پاک به ېنځه سوه درحمت ملائكې ورته راوليږي او ورته به وايې أَلاَّ تَخافُوا مه ويريږه وَلا تَحْزَنُوا او هيڅ غم مكوه ، له څه شي مه ويريږه يعنې مخكې مه ويريږه ستا مسئله حل ده حديث كې راځي دالله تعالى دخزانو نه لويه تحفه لويه عطا لويه وركړه مسلمان لپاره مرګ دى مرګ جنت دى جنت كې نعمتونه دې ( يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ (102العمران) داموٴمنانو ته وايې اى ايمان والاو دالله نه په حقه سره ويره وكړې اوپه داسې حال كې مړه شې چې مسلمانان وى (يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجارَةُ « التحريم » اى ايمان والاوو خپل ځانونه او خپل اولادونه د هغه اور نه بچ كړې چې خاشاک به يې خلک او تيګې وي ، نو له دې وجه ځان ته تبليغ دى ، اولاد ته تبليغ دى ، ملک ته

تبليغ دی ، اومت ته تبليغ دی دمرګ په وخت کې (أَلاَّ تَخافُوا) مخکې مه ويرېږه (وَلا تَحْزَنُوا) او شاته غم مه کوه اولاد دې بچيان دې الله پاک پالي دابراهيم عليه السلام بي بي چا وپالل رسول الله ﷺ چاوپاله دفرعون مقابله کې موسی عليه السلام چا وپاللو دموسی عليه السلام بي بي چا وپالل دنبي عليه السلام تربيه چا وکړه که دغه شانته يقين دداعي سړي نه وي دده په دعوت کې نقصان دی .

ديقين دجوړيدو اسباب هغه دعوت دی ديقين دجوړيدو لپاره اسباب هغه دعاء ده څکه الله پاک هرشی جوړه جوړه پيدا کړي {سُبْحَانَ الَّذِي خلق الْأَزْوَاج كلهَا مِمَّا تنْبت الأَرْض وَمن أنفسهم وَمِمَّا لَا يعلمُونَ}پاک دی هغه ذات چې هر شی يې جوړه جوړه پيداکړي دبوټو نه ، ستاسو نه او څه چې تاسو لا نه پيژني ) زمکه او اسمان ، غم اوخوشحالي ، صحت او بيماري ، نر او ښځه ، کاميابي او ناکامي ، عزت اوذلت ، خفګان او خوشحالي چې څومره شيان وګورې الله پاک هر شئ جوړه جوړه پيدا کړي دي داهم جوړه ده دعوت او دعاء الله پاک هر نبي ته ورکړی ده کوم انسان دعوت کوي دعاء نه کوي يقين يې نه جوړيږي او کوم سړی دعوت چلوي او دعاءنه کوي په تهجدو کې انفرادي اجتماعي دده يقين نه جوړيږي ديقين دجوړولو اسباب دعوت دی ، دعاء ده او خپلو کې محبت دی او اجتماعيت دی الله پاک فرمايي (واعتصموا بِحَبل الله جَمِيعًا وَلَا تفَرقُوا) بل ځای کې الله کريم فرمايي {وَلا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ} که تاسو خپلو کې بي اتفاقه شوی هوا به مو ووځي يوتفسير لس خبرې ليکلي : قوت به مو مات شي ذليله به شئ دشمنان به شی په غمونو به اخته شی بې اتفاقه به شی ددوشمنانو محتاج به شی ددوشمنانو ښکار به شی دوشمنان به مو مړه کوي خوار به شی جنت نه به محروم شی او ټول عمر دا لله په غضب به ککړ شئ

پنځمه ديقين دجوړولو شئ هغه اطاعت دی چې اطاعت ونه کړی اجتماعيت به څنګه قايم شي ديوه سړي پنځه ځامن دي يو ورته وايې پلاره زه ستا خبره نه منم کله ښځه او خاوند سره جوړ نه وي نوپه دې کورکې اتفاق راتلای شي ؟ اتفاق به هله راشي چې زوی پلار ته ووايې ته مې پلار يي او ښځه خاوند ته ووايې ته مې خاوند يې نودغه وخت به اتفاق راشي چې اطاعت راشي . يو قوم کې هلته اتفاق راځي چې قوم دخپل ملک او مشر

**اطاعت وکړي دکوم قوم چې دزلت فیصله الله پاک په اسمانونو کې وکړي مشران پکښې ډیر کړي.**
**اجتماعیت هله قایمیږي چې اطاعت وي او امیر موجود وي خلک په چاجمع کوې چې باچا موجود نه وي باچایي به څوک کوي ولسوالی کې ولسوال موجود نه دی ولسوالي کیدی شي ؟ چې قوماندان موجود نه وي قوماندانی کیدای شي؟ دکلي ملک نه وي کیدای شي ؟**
**حدیث کې راځي که ددرې سړیو امیر نه وي ددی خلکو امیر شیطان دی دصحیح یقین جوړولو یو سبب اطاعت دی داسې اطاعت به کوې لکه څنګه چې غلام دخپل بادار کوي .، ایمان ددعوت ثمره ده نبي علیه السلام مشهور په امین وو خو هیڅوک مسلمان نه شو څومره عبادات چې دي دا ددعوت ثمره ده کوم انسان دعوت نه چلوي پنځوس کاله یې په جمات کې کینوه دده صحیح یقین نه جوړیږي داخبره دې خپلو مقیمونو ته کوم مشورې والا ته یې کوم چې خروج ونکړې دعوت ونه چلوې دعاء ګانې ونکړې خپلو کې محبت ونکړې اجتماعیت دپاره کار ونکړې اطاعت ونکړې یقین مو نه جوړیږي ــ دا پنځه خبرې دپرهیز اوځان ساتلو دې ددعوت زوال ، ددعاء زوال داجتماعیت زوال ، دمحبت زوال ددې خبرو سره راځي بنی یې واورې هغه دادي : سیاسي خبرې کول ، دبې اتفاقې خبرې کول ، دغیبت خبرې کول تجسس کول او بد کلامي کول دي دمسلمانانو عیوب به نه بیانوې په موجوده حالاتو به بحث نکوې اختلافي خبری به نه کوې دا ددعوت دذوال اسباب دی ، داعي سړی به غوږونه بندوي او خوله به خلاصوي دحالاتوڅخه به نه متأثره کیږې حدیث کې راځي چې داعي انسان به ددعوت په نقشه کې دحالاتو څخه نه متأثره کیږي اونه به داعمالونه غافله کیږي ، دالله پاک دنعمتونو ، رحمت ، عطایې او ورکړې نه به نا امیده کیږې نه نا امیدي کفر دی . ــ دا خبره غور سره واوری چې انشاء الله ټول باطل او باطلې عقیدې ، خوسا او ورستې عقیدې دا خرابه عقیدې دا ظلمونه او خیانت دا رشو تونه بغض او عداوت به الله پاک ستاسو په مخکې ختم کړي او دا نیت وکړی.**
**دعوت داسې محنت دی که ددې مقابله اسمان وکړي الله پاک به یې ټوټې ټوټې کړي او که ددې محنت مقابله غرونه وکړي الله پاک به یې ټوټې ټوټې کړې او که ددې محنت مقابله ټول مخلوق وکړي الله پاک به یې نیست او**

نابود کړي نوح علیه السلام داعي وه الله پاک ته يې اواز وکړ {رب لَا تذر على الأَرْض من الْكَافرين ديارًا أَنَّك إِن تذرهم يضلوا عِبَادك وَلَا يلدوا إِلَّا فَاجِرًا كفَّارًا} ( ای ربه دزمکې په مخ دیو کافر کور هم پرینږدې او که پریږدې يې نو پغیر له ګمراهې فجور او کفر نه بل څه نشته ) دده په اواز يې ټول ختم کړه داعي سره دالله محبت وي لکه بعضي خلک دسپیو سره محبت کوي سپي ساتي ، کوترې ساتي ،چرګان ساتي او دداعي سرې محبت دالله سره وي {وَمن أحسن قولا مِمَّن دَعَا إِلَى الله وَعمل صَالحا وَقَالَ إِنَّنِي من الْمُسلمين ) الله پاک فرمايي دهغه چانه افضل کلام اکرم کلام دعزت کلام دخوشحالی کلام دکامیابې کلام ددواړو جهانونو دخوشحالی کلام دچا کیدای شي چې دالله طرف ته خلک رابلي دادعوت دی دعوت

بل ځای الله کريم فرمايي {وَلْتَكُن مِّنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُوْلَائِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ) الله پاک فرمايي تاسو کې دې خامخا یو ډله چې خیر طرف ته رابلل کوي او له بدیو څخه منع کول کوي او همدا ډله کامیاب دي .-

اوس ووايې دچا کامیابي خوښه ده او یواځې دځان لپاره مو خوښه ده او که دټول اومت لپاره او که داولاد لپاره مو هم خوښه ده دالله درضا لپاره په خپل ځان باندې رحم وکړې په خپل اولاد باندې رحم وکړې په خپل ملک باندې رحم وکړی او په ټول اومت باندې رحم وکړی ددې کار مزاج اسانه طور باندې هر کال څلور میاشتې دي --والسلام

دافغانستان د دعوت او تبلیغ عمومي امير محترم حاجي صاحب خان زمان (۵۵) دقیقې بیان جلال اباد سالانه جوړ تبلیغي مرکز چکنوري

۱/۱/ ۱۳۹۸هـ ش

# دوهم فصل

## شیخ القرأن والحدیث

## مولوي صاحب سبحان الله حفظه الله

### جلال اباد اجتماع دوه نیم ساعته بیان

**(۱۱ـ ۵ ـ ۱۳۹۷ هــ ش) مطابق ( ۲/ ۸/ ۲۰۱۸ م )**

**مطابق ( ۱۹/ ذوالقعده ۱۴۳۹ هــ کال**



نحمده ونستغفره ونؤمن به ونتوكل عليه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلله فلا هادی له ونشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له ونشهدو ان سيدنا ومولانا محمداً عبده

ورسوله  صلي الله عليه واله وصحبه واهل بيته وسلم تسليماً تسليما اما بعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : {وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} [آل عمران: 104 وقال تعالى {كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْراً لَّهُمْ مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ}  وقال تعالى {قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ} وقال تعالى {وَالَّذين جاهدوا فِينَا لنهدينهم سبلنا وَإِن الله لمع الْمُحْسِنِينَ} ، وقال تعالى  ما كان محمداً أبا أحدٍ من رجّالكم ولكن رسول الله وخاتم النبين وكان الله بكل شيءٍ عليماً}
وقال تعالى  {يَا أَيهَا النَّبِي إِنَّا أَرْسَلْنَاك شَاهدا وَمُبشرا وَنَذِيرا وداعيا إِلَى الله بِإِذْنِهِ وسراجا منيرا} وقال تعالى {وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحاً وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِين وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم  "لَيَبْلُغَنَّ هَذَا الأمرُ مَا بَلَغَ الليلُ وَالنَّهَارُ، وَلَا يَتْرُكُ اللَّهُ بَيْتَ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ هَذَا الدِّينَ، وعن حذيفة رضى الله تعالى عنه قال قال رسول الله عليه وسلم وَالَّذِي نَفسِي بِيَدِهِ لتأمرن بِالْمَعْرُوفِ ولتنهون عَن الْمُنكر أَو ليوشكن الله أَن يبْعَث عَلَيْكُم عقَابا مِنْهُ ثمَّ تدعونه فَلَا يُسْتَجَاب لكم " رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ    وعن حذيفة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ

«لا تقوم الساعة حتى تقتلوا إمامكم، وتجتلدوا بأسيافكم، ويرث دنياكم شراركم»  وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم   "لَا تزَال لَا إِلَه إِلَّا الله تَنْفَع من قَالَهَا وَترد عَنْهُم الْعَذَاب والنقمة مَا لم يستخفوا بِحَقِّهَا". قَالُوا: يَا رَسُول الله وَمَا الاستخفاف بِحَقِّهَا؟ قَالَ: "أَن يظْهر الْعَمَل بمعاصي الله فَلَا يُنكر وَلَا يُغير" وقال عليه السلام خيار امتي من دعى الى الله وحبب عباده اليه ، الهم صلي على سيدنا ومولنا محمداٍ وعلى اله وبارک وسلم،

زما داسلام او يوې عقيدې  خوږو عزتمندو محترمو مسلمانانو ورونو ! الله رب العزت دې ستاسو ټولو مشرانو كشرانو ځوانانو بوډاګانو خواصو عوامو علماء كرامو طلباء دين ځومره چې دې مجمع كې دي ياغير ددې نه  غير علماء ددې ټولو قرباني دې الله رب العزت په خپل دربار كې قبول او منظوره كړي  .

زمامحترمو ورونو ! ددی اجتماع او ددې ديني مجالسو قدر او قيمت دا به دمرګ نه وروسته معلوميږي زمونږ او ستاسو ايمان په غيبو باندې دی الله پاک قرانکريم کې د سورة بقرې په شروع کې ددرېو ډلو بيان کوي يوه ډله خالص مؤمنان دي او دهغوې پنځه صفتونه دوهمه ډله کفار او دهغوي حکم ، دريمه ډله منافقين او دهغوی ناکاره خصلتونه او دهغوي متعلق چې الله پاک کوم حکم کړی دی ددې بيان کوي کومه چې اوله ډله ده ايمان والا دهغوې اولنی صفت قران کې الله پاک بيان کړی **(هُدىً لِلْمُتَّقِينَ )** قرأن متقيانو لپاره هدايت دی الَّذين يُؤمنُونَ بِالْغَيْبِ او متقيان هغه خلک دي چې دوی په غيبو باندې ايمان لري په هغو شيانو چې زمونږ ستاسو دنظر نه پټ دي مثلاً : الله پاک مونږ نه دی ليدلی خوزمونږ وربانديې عقيده ده چې حق ذات دی ( ولله في كل شيء آية تدل على أنه واحد.) په هريو شي کې دالله دقدرت نښه ده هره نښه او هر شئ چې ښکاري داتول دالله په توحيد باندې دهغه په وحدانيت باندې دلالت کوي چې الله يکتا او يګانه ذات دی نو الله حق دی صفات يې حق دي ډير لويې ذات دی او د ډير لويو صفاتو خاونددی ، مونږ نه دی ليدلی خو مونږ وربانديې ايمان دی پيغمبران عليهم السلام مونږ نه دي ليدلي خوزمونږ وربانديې ايمان دی ، ملائک مونږ نه دی ليدلي خو زمونږ وربانديې ايمان دی چې دا دالله يو نوراني مخلوق دی په هغوې باندې نه دنارينوو اطلاق کيږي او نه دزنانه وو دالله پاک يو معصوم اوپاک مخلوق دی **(لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ )** دالله نه په وينا کې سبقت نه کوي او دالله په امر باندې عمل کوي (لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ، وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ دوی دالله نافرماني لږه هم نه کوي ددی وجه نه اهل علم وايي چې هغه دهاروت ماروت متعلق کوم واقعات چې راغلي دې هغه په بابيل ښار کې په يوه کوهي کې دويښتانو نه راځوړند دي هغوي ته الله پاک نفس ورکړی وو او هغوی دالله نافرماني وکړه او هغوي زنا وکړه انا اعوذ بالله داټول منکرات او دروغ او دځان نه جوړشوي . ملائک دالله پاک نه بالکل نافرماني نه کوي زمونږ وربانديې ايمان دی **(الْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ السَّماوات وَالْأَرْضِ جاعِلِ الْمَلائِكَةِ رُسُلاً أُولِي أَجْنِحَةٍ مَثْنى وَثُلاثَ وَرُباعَ**

الله رب العزت فرمايي داولوهيت ټول صفتونه خاص الله لره دي هغه الله لره چې دی د زمکو او اسمانونو پيدا کونکی دی ګرځونکی دملائکو دی الله پاک ملائک استازي او قاصدان راليږي او هرچاته يې خپله وظيفه سپارلې ده

خاونداني دوزرو دي دچا دوه وزرې دي دچا درې وزرې دي او څوک د ځلورو وزرونو خاونداني دي، رسول عليه السلام فرمايي ما جبريل عليه السلام په خپل شکل کې وليده او انسان دملائکودليدلو طاقت نلري چې هغه ليدل برداشت کړي شپږ سوه وزرې يې لرلې دوه وزرې يې خورې کړې وې چې مشرق او مغرب يې پناه کړی وو زمونږ په دوی باندې ايمان دی او دامونږ ليدلې نه دي .
زما محترمو ورونو ! تقدير باندې زمونږ ايمان دی چې خير او شر دالله له طرفه دي رسول عليه السلام فرمايي په دې خبره باندې پوهه شه چې کوم شئ الله پاک تاته رسول غواړي دا بچ کيدای نه شي او له کوم شي څخه چې الله پاک ستا بچ کول غواړي هغه تا ته رسيدلی نشي خير او شر دواړه دالله پاک له طرفه دي لاکن دخير فيصلې الله پاک دنيکو اعمالو له وجه راليږي او دشر فيصلې ددی سبب همدامونږه يو الله پاک يې زمونږ دبدو اعمالو له وجه راليږي .
( بعث بعدالموت ) ژوندون وروسته دمرګ نه داحق دی امنتُ بالله کې دامؤمن به شيان دي په کومو شيانو باندې چې ايمان راوړل ضروري دي هغه دادي که څوک مونږ نه پوښتنه وکړي چې دايمان اصول او ارکان څه دي دا ياد کړئ دايمان اصول او دايمان ارکان په امنتُ بالله کې دي جنت او دوزخ باندې زمونږ ايمان دی مونږ ليدلی نه دی نه موجنت ليدلی نه مو دوزخ ليدلی خو زمونږ درباندې ايمان دی علي کرم الله وجه متعلق راغلي دي هغه وايي که جنت او جهنم زما مخې ته راوړلی شي هغه يقين چې ددې دواړو متعلق زما سره دی په دې کې ترقي نه کيږي او دا مخکې اضافه کيږي نه دا ولې ؟ ځکه زمادوستانو علي کرم الله وجه فرمايي په جنت چې زما کوم په غيبو کې ايمان دی که بالمشاهده ماته پيش کړی شي نو ماته يو برابر دی داسې يقين ورته الله نصيب کړی وو.

دعوت او تبليغ او ددې اجتماعاګانو نقل او حرکت نه مقصود دادی چې جنت دوزخ زمونږ مخې ته شي اخرت زمونږ مخې ته شي دمرګ نه وروسته چې کوم سفر مخې ته راروان دی دهغې لپاره په دونيا کې تياری وکړو او بنيادي تياری هغه دالله په ذات او صفاتو باندې يقين دی.
او په عذاب قبر باندې زمونږ ايمان دی چې دا حق دی او ثواب قبر چې هغه خوشحالي ده دا حق ده چاچې دونيا کې رب العزت پيژندلی وی او هغه سره

يې تعلق جوړ کړی وی او هغه يې راضي کړی وی الله ورنه خوشحاله وی او دی دالله پاک په احکاماتو او دنبي پاک صلی الله عليه وسلم په سنتو چليدلی وي نو زما محترمو ورونو دغه سړی دمرګ نه وروسته چې قبر کې کيښودلی شي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي اخرنی سړی دمقبرې له ساحې نه وتلی نه وي چې ملائک ورته راورسيږي مشهوره داده چې نکير اومنکر ورته وايي والله اعلم خو دالله ملائک ورته راشي او دی په قبر کې راکښينوي (مَنْ رَبُّكَ؟ مَا دِينُكَ؟ مَنْ نَبِيُّكَ؟ ستا رب څوک دی ستا دين څه شئ دی ستا پيغمبر څوک دی دادرې پوښتني ورڅخه کوي ،ددې وجه نه زما ورونو علماء کرام فرمايي چې علوم شريعت هغه درې خبرې دی او بس ددونيا فنون چې څوک زده کوي دا کسب دی دا مباح اوجائز شيونه دي داددونيا کسب او فن دی علم شريعت درې خبرې دي يو دخپل رب معرفت دوهم دالله دين زده کول کما حقه دهغې خپل حقونه دي او درسول الله په سنتو اودهغه په طرزاوطريقه باندې خپل ژوند او زنده ګي جوړول داعلوم شريعت دي دقران او حديثو مقصود دادرې خبرې دي ددې وجه نه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي « «ذَاقَ طَعْمَ الإِيمَانِ، مَنْ رَضِيَ بِاللَّهِ رَبًّا، وَبِالإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا» دايمان خوند او مزه وڅکله هغه چاچې څوک په دې خبره راضي شو چې زما رب الله دی

نو دا څه وړه خبره خو نه ده ددې خبرې معرفت چې چاته الله پاک نصيب کړو چې رب زما الله دی ده ته الله پاک لوی خير نصيب کړو.

ډير خلک په دونيا کې خپل رب نه پيژني دبتانو عبادت کوي دلمر او سپوږمۍ عبادت کوي دستورو عبادت کوي ، ونو ګټو ته سجدې لګوي په خپل لاس يې جوړ کړي هغې ته سجدې لګوي .

ورونو دوستانو ! دارنګه قرأنکريم دمشرکينو اقسام ذکر کړې دي څوک مشرکين بالملائکه دي دالله سره يې ملائک شريکان جوړ کړي څوک مشرکين بالکواکب دي هغوی دالله پاک سره ستوري شريکان جوړ کړي لمر او سپوږمي يې شريکان جوړ کړي څوک مشرکين بالجن دي هغوی جنيات دالله پاک سره شريکان جوړ کړي او څوک مشرکين بالعبادة الصالحين دي نيکان بنده ګان يې دالله سره شريکان جوړ کړي او هغوی له يې مرتبه دالوهيت ورکړې ده قرأن کريم په دې ټولو باندې رد کړی لااله الا الله مقصود دادی چې الله نه غير بل حاجت روا نشته بل مشکل کشا نشته بل

ځای دسوال او دزارۍ نشته بل دزړه دلګولو ځای نشته بل دزړه دسکون ځای نشته بل دمینې محبت کولو ځای نشته داټولی ترجمې مختلفو تفاسیرو کړې دی

زما ورونو بعضې خلک داسې دي چې هغوی داور عبادت کوي دونیا کې مجوس یا اتش پرست چې ورته وايي هغوی داور عبادت کوي دسیرت کتابونو لیکلي دي چې مجوسو زر کاله داور عبادت کړی وو او زر کاله کې دا اور ورڅخه مړ شوی هم نه دی عجیبه خو داده چې زر کاله یې داور عبادت کړی او دا اور ورڅخه مړ شوی هم نه دی لکه مونږ چې مساجدو له راځو په خوشحالۍ اودس وکړو بیا راشو مسجد له او دمسجد حق دادی چې مونږ دوه رکعته تحیة المسجد لمونځ کوو دادمسجد حق دی دمسجد دادب او احترام دوجه نه زمونږ علماء کرام فرمايي یوسړې راغې او وخت کم وه دتحیة المسجد ټایم نه وه او دسنت وکړل دغه وخت کې دا سنت هم دتحیت المسجد کار ورکوي ددي اصلي وجه داده چې دا تحیة المسجد خو ددی لپاره وه چې مسجد کې هسې ناسته ونشي او دمسجد حق اواحترام دادی چې یو دوه رکعته لمونځ وشي اوکه تا سنت وکړه اووخت نه وه نو دا هم صحیح ده چونکه هغوی داور عبادت کاوه او دا یې ( اله ) ګاڼه دا یې حاجت روا ګاڼه دا یې مشکل کشا ګاڼه نو هغوی څه کول زماعزتمندو ورونو هغوی به چې کله داور عبادت ته راتله نو په سر به یې دخسو او خاشاکو ګیډی را خستی وه او په اور به یې ور اچول او څوک به چې راتله نوداسې یې کول ځکه خو په زرکاله کې دا اور ترې مړ شوی نه دی او په هغه ورځ دا اور یوناڅافه مړ شو چې په کومه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم پیدا شو

نو زما محترومو ورونو ډیر خلک الله پاک نه پیژني یا خو الله همدومره پیژني چې خالق دی مالک او پیداکونکی دی داهم وايي رازق الله دی دا هم وايي چې لمر او سپوږمۍ الله تابع کړي دي لاکن الله په وحدانیت سره نه مني توحید دالله نه مني قرأن کریم کې الله پاک فرمايي (وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّماوات وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ زما پیغمبره که ته ددوی نه پوښتنه وکړې چې زمکه او اسمانونه چا پیدا کړې دي او لمر او سپوږمۍ چا تابع کړې دي نو خامخا به دوی ووايي چې الله ، که ته له دوی پوښتنه وکړي عرش عظیم چا پیدا کړی وايي به الله ، رازق څوک دی

دوی به ووای چې الله دایې اقرار کاوه لاکن الله یې په وحدانیت او توحید سره نه مانه .
نو له دې وجه نه زما دوستانو ما عرض کاوه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي دایمان مزه او خوند هغه چا وڅکله چې څوک په دی راضي شو چې زما رب الله دی او دوهمه داده ، وَبِالإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا صلی الله علیه وسلم چې په دی خبره باندې راضي شو چې زما دین اسلام دی او زما پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی رسول علیه السلام فرمایي چې کله یو سړی په قبر کې دا جواب ورکوي نو دا دایمان او یقین په قوت یې ورکوي
او یقین په خواری اومحنت سره جوړیږي پغیر دمحنت او خوارې نه یقین نه جوړیږي او چې کله ایمان او یقین جوړ شو نوزما وروڼو دوستانو داسړی په قبر کې چې کله ملائک راشي دا جواب به ورکوي چې زما رب الله دی او زما دین اسلام دی او نبي علیه السلام متعلق چې ورنه پوښتنه وشي دابه ددې شاهدي اوګواهي ورکړي چې محمد صلی الله علیه وسلم دا دالله بنده او رسول دی.
محترمو وروڼو الله رب العزت به ملا ئکو ته وفرمایي چې ورشي(فَأَفْرِشُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَأَلْبِسُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ". "فَيَأْتِيهِ مِنْ رَوْحِهَا وَطِيبِهَا، وَيُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ مَدّ بَصَرِهِ".
په قبر کې دجنت فرش ورته وغوړوې قبر خو مونږ او تاسو ته توري خاورې ښکاري خو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي دا دجنت دباغیچو نه یوه باغیچه ده او یا دجهنم دکندو نه یوه کنده ده «الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ» قبر دجنت باغیچه ده او یا هم دجهنم یوه کنده ده رسول علیه السلام فرمایي ما دقبر نه وحشتناک او دحشتناک منظر چرته لیدلی نه دی او که ددی خبرې خوف او خطره نه وای چې زما امتیان به مړي ښښول پرېږدي نو ما به الله پاک ته سوال کړی وو چې ای الله قبر کې کوم عذابونه بنده ګانو ته ورکول کیږي هغه ورته وښایه خو بیا به څوک مړي نه ښښوي او غیر دثقلینونه یعني دانسان او پیري نه ماسوا چې دا څومره مخلوق دی او څومره ځناور دي چې دمقبرې سره نژ دي وي اوکوم عذابونه چې په هغوی باندې وي دا اوري که خیال مو کړی

وي مالونه غواګاني او خره چې دمقبرې سره نژدې روان وي يو دم منډه کړي دهغې وجه داده چې هلته دقبر عذاب واوري منډه وهي ،
الله پاک به ورته وفرمايي دجنت فرش ورته وغوړوې ،دجنت بستره ورته واچوې او دجنت جامې ورواغوندې او (وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ". دجنت نه ورته دروازې راخلاصې کړې
که يو سړی په داسې حالت کې مړ شي نوخير دی که مړ شي ځکه حديث کې راغلي ( تحفة المؤ من الموت ) دمؤمن تحفه مرګ دی . ورونو دوستانو صحابه کرام مرګ ته خوشحاليده مونږ مرګ ته خفه کيږو
مفتي شفيع رحمة الله عليه ليکلي دي حازم رحمة الله عليه يو عالم وو يو بادشاه دهغه نه پوښتنه وکړه چې مونږ کله مره کيږو نوخفه کيږو اوصحابه کرام زمونږ برعکس چې مړه کيده خوشحاله کيده داڅه وجه ده هغه ورته وفرمايل دا طبعاً يو قانون دی چې کله يو سړی داباديږ نه ښاړې ته روان وي اوبه او خوراک نه وي دوکان نه وي کلی نه وي هيڅ شئ نه ښکاري او منزل مقصود هم ډير لرې وي او يواځې هم وي څوک ورسره نه وي نو خامخا چې سړی په داسې ښاړه ورګډيږي نو ساعت په ساعت خفه کيږي او ورته يې وفرمايل داهم طبعي قانون دی چې يو سړی ښاړې نه ابادې ته روان وي زړه يې خوشحاله کيږي سړی دشته او بيابان کې مزل کوي يواځې روان دی په وحشت او ويره کې دی چې اوبه خلاصې نشي توښه خلاصه نشي ځناور مې ونه خوري يا بله مسله پيښه نشي او بيا چې کله ابادي ښکاره شي نو دی,خوشحاله کيږي ابو حازم رحمة الله عليه ورته وفرمايل چې مونږ ددونياکور اباد کړی اخرت مو دځان دپاره ښاړ کړی دی اخرت غير اباد دی اوس چې مونږ مړه کيږو او ښاړې ته روان يو خود خفه کيږو.
زما محترمو ورونو حازم رحمة الله عليه ورته وفرمايل صحابه کرام چې وه هغوی ځان له اخرت اباد کړی وو او دونيايې ښاړه کړې وه دونيا کې خو دلوږې نه درسول عليه السلام شاته په لمانځه کې صفونه صفونه راوغورځيدل مسلم شريف حديث دی دفضاله ابن عبيد رضی الله عنه روايت دی چې صحابه کرام دلوږې نه په صفونو کې راوغورځيدل محترمو دا خو څه اسانه خبره نه ده چې يو سړی دې دومره وږی شي چې لمونځ نه شي کولای په مونږ او تاسو دا حالت نه دی راغلی الله پاک دې نه راولي الله پاک دې مونږ سره عافيت وکړي او نبي عليه السلام چې کله دلمانځه نه

فارغ شو نو ورته یې وویل («لَوْ تَعْلَمُونَ مَا لَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ لَأَحْبَبْتُمْ أَنْ تَزْدَادُوا فَاقَةً وَحَاجَةً» که تاسو پوه شې په هغه څه باندې ای فقیرانو غریبانو صحابه کرامو چې په دې لوږه باندې تاسې ته الله پاک څه ساتلې دي تاسو با داخبره خوښه کړې چې ستاسو فقیري محتاجي او لوږه نوره هم زیاته شي چې الله پاک تاسوته په دی لوږه باندې څه ساتلي دي

ام المؤمنین عایشه رضی الله عنها فرمایي (أخرجه البخاري والنسائي والترمذي.وفي الصحيحين عن عروة عن عائشة قالت: «إن كنا لننظر إلى الهلال ثم الهلال ثم الهلال وما أوقدت في أبيات رسول الله -صلى الله عليه وسلم- نار. قال: فقلت: يا خالة، فما كان يعيشكم؟ قالت: الأسودان: التمر والماء» مونږه میاشت ولیده او بیامو میاشت ولیده اودریمه راښکاره شوه دوه میاشتې پوره او دریمه هم راوختله خو ددواړو جهانو سردار دنهو بیبیانو په کورونو کې اور قدرې هم بل نشو عروه ابن زبیر رضی الله عنه ورته وویل چې ترورې ستاسو ګذاره بیا په څه وه هغې ورته ووې چې خوریه څمونږه ګذاره په دوو تورو شیانو باندې وه چې یو کجورې او بل اوبه وې صرف مونږه همدا استعمالولې مونږ کره نور هیڅ نه وه .

یو ځلې فاطمې رضی الله عنها رسول علیه السلام ته دخوراک څه راوړه همیشه لور په پلار باندې ډیره خفه کیږې نبي کریم علیه السلام ورته وفرمایل لورې ښه دې وکړل چې دخوراک څه دې راوړل درې ورځې کیږي چې ستا دپلار په خوله دخوراک څه نه دي لګیدلي .

ابو هریره رضی الله عنه فرمایي زه به په مسجد نبوي کې دلوږی له وجه پروت وومه او په هغه وخت کې عادت وو چې لیونیانو ته به په څټ کې خلکو پښه کیښودله خلکو به ماله څټ کې پښه کیښوده او ویل به یې ادا لیونی شوی اوزه به دلوږې له وجه نه مسجد نبوي په محراب کې پروت ووم والله زه به لیونی نه ووم بلکه دلوږې له وجه به پروت ووم او دخوراک به څه نه پیدا کیدل .

زما عزتمندو ورونو! عرض مې دا کاوه چې صحابه کرامو ځان له دونیا شاړه کړې وه او اخرت یې ځان له اباد کړی وو نو چې کله هغوې اخرت خواله تلل مرګ ته ډیر خوشحالیدل بلال ﷺ چې مړه کیده نودمرګ په وخت کې یې ښځې ویل ( واحزنا واحزنا) ای افسوس دی غمه ای افسوس دی غمه بلال راته مړ کیږي بلال ﷺ ورته څه واي ( واطوابا غداً ننقل احباء

محمداً وحزبا ) وا خوشحالي ده خوشحالي بی بی ولی ژاړي سبا له به مې ددرسول الله صلى الله عليه وسلم اودخپلو ملګرو سره ملاقات وي
زما عزتمندو ورونو ماعرض کاوه کوم سړي چې الله پاک نه وو پیژندلی دالله پاک معرفت یې نه وو حاصل کړی الله پاک سره یې تعلق نه وو جوړ کړی درسول الله ﷺ زنده ګي یې نه وه خپله کړې هغه نشي کولای په قبر کې جواب ووايي چې رب زما الله دی زما دين اسلام دی زماپیغمبر محمد عليه السلام دی ( فَيُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ، فَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُولَانِ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: هَا هَا لَا أَدْرِي، فَيَقُولَانِ لَهُ: مَا دِينُكَ؟ فَيَقُولُ: هَا هَا لَا أَدْرِي، فَيَقُولَانِ لَهُ: مَا هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ؟ فَيَقُولُ: هَا هَا لَا أَدْرِي،
روح به یې جسد ته راشي بیا به دوه ملائکې ورته راشي راوچت به یې کړي ورته به ووايي رب دې څوک دی ؟ دابه ووايي های های زه نه پوهیږمه ،بیابه ورته ووايي دین دې څه دی ؟ دابه ووایې های های زه نه پوهیږمه بیا به ترې وپوښتي هغه سړی چې تاسوته درلیږل شوی وو څوک دی ؟ دابه ووايي های های زه نه پوهیږمه
دا نشته چې بادشاه دی که ګدا ، امیر دی که فقیر ، نارینه دی که زنانه ، غریب دی که مالدار ددی خبري پوښتنه نشته چې ته څوک راغلې ، دا هغه سخت دریزه ملائیکې دي دسره عاطفه نه لري الله پاک دغسې پیدا کړې دي .
زما عزتمندووروونو دا نشته چې رئیس جمهور صاحب په خیر راغلې او دهغې نه وروسته دمیلمه په صفت دده سره سلام کلام وشي او پوښتنې ورڅخه وشي چې وزیر صاحب ته په خیر راغلی او ددی نه وروسته دهغه دحیثیت مطابق کلام وشي او قوماندان صاحب ته په خیر راغلې او والي صاحب ته په خیر راغلې او مولوي صاحب ته په خیر راغلې تا خو ټول عمر ددین خواري او محنت کړی وه ماشاء الله درس او تدریس دی کړی وو او امیر صاحب ته په خیر راغلی تا خو دټول عمر لپاره تکلیف کړی وو ، نه دهیچانه دهیڅ قسمه پوښتنې هیڅ خبره ورسره پغیر ددی نه نه کیږي ( من ربک وما دینک ومن نبیک ) چې کله یو سړی په دې سوال اوجواب کې ناکام شي الله رب العزت ملا ئیکو ته وفرمايي ( صدق ، كذب ، ان كذب ) یوشی واوری عبدیت او بنده ګي چې زه دالله بنده یمه دا افتخاري صفت دی

درسول الله ﷺ متعلق دلمانځه په قاعده کې اشهد ان لااله الا الله واشهد ان محمداً عبده ورسوله ) داد الله بنده او رسول دی
نصاراو ویل چې تاسو شرمیږې نه چې وایې عیسي علیه السلام دالله بنده دی عیسی علیه السلام خو خارق العاده طریقې سره پیدا شوی دده په حق کې داشرم دی چې څوک ووای دا بنده دی (لَنْ يَسْتَنْكِفَ الْمَسِيحُ أَنْ يَكُونَ عَبْداً لِلَّهِ وَلا الْمَلائِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ وَمَنْ يَسْتَنْكِفْ عَنْ عِبادَتِهِ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعاً (172) الله پاک فرمایي هیڅکله هم عیسی علیه السلام شرم نکوي ددي خبرې نه چې دادې دالله بنده شي او نه ملائکې مقربې ددې خبرې نه شرمیږي چې هغه هم دالله بنده ګاني دي (وَمَنْ يَسْتَنْكِفْ عَنْ عِبادَتِهِ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعاً) الله فرمایي څوک چې تکبر کوي دالله دعبادت او بنده ګۍ نه او په دې باندې شرمیږي زر دی چې راجمع به کړي خپل ځان ته داټول .
په دې افتخاري صفت کې چې کله سړی په سوال او جواب کې کامیاب شي الله پاک فرمایي ( ان صدق عبدي ) زما بنده رشتیا ووېل او چې کوم سړی دقبر په سوال او جواب کې ناکام شي الله پاک فرمایي خوداورته نه فرمایي چې ان کذب عبدي زما بنده دروغ وویل بلکه دبنده خطاب ورته نه کوي ځکه ده دالله دعبدیت حق نه دی اداءکړی الله وایي ( ان کذب ) دروغ یې وویل دا نه وایي چې دا زما بنده دی فَيُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: أَنْ كَذَبَ، فَأَفْرِشُوهُ مِنَ النَّارِ، وَأَلْبِسُوهُ مِنَ النَّارِ، وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ " قَالَ: «فَيَأْتِيهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُومِهَا» ددوزخ بستره ورته وغوړوۍ ددوزخ جامه ورته واغوندۍ او ددوزخ دروازه ورته راخلاصه کړی رسول علیه السلام به قاعده کې کله دالهم ربنا اتنا په ځای دا دعاء هم ویله ("اللهُمّ إنِّي أعوذُ بكَ من عذابِ جهنَّمَ، وأعوذُ بكَ من عذابِ القبرِ، وأعوذُ بكَ من فتنةِ المسيح الدجالِ، وأعوذُ بكَ من فتنةِ المحيا والممات ". الله په تا پناه غواړم له جهنم نه الله په تا پناه غواړم له عذاب قبر نه الله په تا باندې پناه غواړم له فتنې د دجال نه الله په تا باندې پناه غواړم دفتنې دمرګ او ژوند نه او کله به یې ویل (أعوذ بِاللَّه من الْكفْر والفقر وَعَذَاب الْقَبْر) الله په تا باندې پناه غواړم دکفر نه فقیرې او محتاجې نه ځکه کله کله فقیري (كاد الفقر أن يكون كفرًا) کله سړی فقیري کفر ته رسوي

ورونو دوستانو ! مولنا یوسف رحمة الله علیه په ملفوظاتو کې لیکلي دي چې درې شیونه دارتداد سبب جوړیږي غربت ، فرصت او جهالت غربت ډیر شي سبب دارتداد شي فرصت یعنې اوزګاري کاروبار یې نه وي بس هر څه کوي اودریم جهالت یا ناپوهی له وجه سړی بي لاري شي ځکه دا په دی نه پوهیږي چې زه په دی عمل باندی کافر کیږمه بې دینه کیږمه نو رسول علیه السلام به دکفر نه هم پناه غوښته او فقر نه هم او دعذاب قبر نه هم پناه غوښته عذاب قبر حق دی او مغیباتو خبره مې درته کوله چې ( مؤمن به ) شیونه به امنت بالله کې دي او داچه جنت او جهنم حق دی او عذاب قبر حق دی او ثواب قبر او خوشحالي دقبر حقه ده .

ورونو ما اوله خبره عرض کوله چې زمونږ او ستاسو په دی خبره باندې ایمان دی چې دا کومه اجتماع زمونږ اوستاسو دایره شوې او قایمه شوې ده او ملګرو قربانی کړي ده او دلریو لریو ولایتونو نه راغلي دي سپین ګیري مشران خلک چې دوې دسفر توان نلري لاکن دې اجتماع له راغلي الله دې دونیا او اخرت ښایسته کړي او الله دې ددین دخدمت او خوارې لپاره ددوي په عمر کې برکت واچوي ځوانان ماشاء الله ښه په شوق او جذبه سره راغلي دي ،

علماء کرام الله دې ددوي دین اودونیا ښکلې کړي او الله پاک دې ددوي په علم ، مال ، عمر او بچیانو کې برکت واچوي په دسته جمعې دې اجتماع ته راغلې طلبه دین مدارسوته علماؤ ته الحمدلله دا دفخر ځای دی چې علماوو خپل مدارس زمونږ دې اجتماع ته بلکه داددوی اجتماع ده خپل مدارس رخصت کړي اوطلبه یې په شوق مینې محبت اوجذبې سره راوستې دي دین سړی ددین نه قربانوي ددین په درس اوتدریس مشغول خلک دالله ددین ددې تقاضې نه چې اجتماع ده اود افغانستان دلرې اونژدې نه سره راټولیږي په دې بنیاد باندې الحمدلله راغلې دي دا اجتماع دڅه لپاره چې هغه اصلي مقصود وپیژنو چې الله پاک دې دونیا کې دڅه لپاره پیدا کړې یواو زمونږ منزل مقصود څه دی الله پاک زمونږ نه څه غواړي دا غم او فکر سره شریکوو ورنه ددریو ورځو په اجتماع باندې دا خلک عالمان نه شي جوړیدلی او په درې ورځواجتماع باندې دا علماء چې دلته دي دا مفتیان نه شي جوړیدای او په دې درې ورځو اجتماع کې که دچا په لمانځه او کلمه کې څه غلطي وي نو دغه لمونځ او کلمه هم نشو اصلاح کولی په دا

**تعلیمي حلقو کې چې مونږ لمونځ سره تیروو نودا خوداسې نه ده چې اوس به په همدغه یو ساعت کې لمونځ یوبل ته صحیح کوو بلکه یودبل تست او معاینه کوو ګورو چې زمونږ په دین کې څومره نقصان دی او مونږ کې ددین څومره نقصان دی یعنې دایمان او یقین په اعتبار ماکې څومره کمی موجود دی**

**خبرې خو دغه حق دي چې دمنبر نه اوریدلی کیږي دالله متعلق چې الله څوک دی زما عزتمندو رسول علیه السلام چې څه ویلي دي دغه حق دي چې منبر نه یې اورو**

**او دا مونږ چې په کوم ژوند کې روان یو ایا کوم سوچ اوتصور موکړی دی اخرت خو رانه پناه دی دونیا راته مخې ته ده او قبر رانه پناه دی او ددونیا ژوند راته مخې ته دی او ددې ژوند لپاره تیاری او خواري کوواو دمرګ نه وروسته چې کوم ژوند دی دا رانه پناه دی د خواهشاتو او شهواتو ور باندې پردې لګیدلې دي نو اوس دې اجتماع کې دا غم اوفکر سره راشریکوو چې دې غم سره خواره شو که دالله په لاره کې ځو چې دې غم سره لاړ شو که کور ته ځو چې دې غم سره لاړ شو که ځوانان وي که مشران وي که زاړه وي که کشران وي که علماء وي که عوام دا ټول په دې غم او فکر سره خوریدل پکار دي که تشکیل کوو که تشکیل نکوو خو دې غم سره به خوریږواو خپل رب ته یوه ژړا او دعاء وکړو چې رب العالمین دې افغانستان بلکه دټول عالم انسانیت اودتمام اسلامي امت په حال باندې رحم وکړي په اخر کې بیا دادعاء کوو.**

**زما محترمو ورونو ! دونیا کې هرسړی غواړي چې زه کامیاب شمه خو داد هرچا خپل فکر اوسوچ دی چې خپله کامیابي په څه کې ګوري څوک کامیابي دمال ګټلو ته وایي څوک بیا کامیابي په واک اقتدار او منصب کې ګوري څوک کامیابي مال دولت کې ګوري څوک کامیابي په جایداد او باغونو کې ګوري څوک کامیابي په کثرت دسړو او فوجونو کې ګوري او چاته کامیابي ددونیا کمال جمال ښکاري خو دا ټول دکامیابۍ اسباب نه دي او الله پاک هیڅوک په دی باندې نه دی کامیاب کړې**

**قرأن مونږ ته دعبرت لپاره واقعات بیان کړې چې څوک د منصب او اقتدار خاوند وو خو دالله دین ورکې نه وو دهغوې دا منصب او اقتدار دهغوی دهلاکت ذریعه وګرځیده لکه نمرود او فرعون او چا سره چې مال وو دا مال**

يې دکاميابۍ سبب نه دی ګرځيدلی بلکه دناکامۍ ذريعه وګرځيده  رسول عليه السلام فرمايي («إن لكل أمة فتنة، وإن فتنة أمتي المال» دهر امت دهلاکت لپاره يوه فتنه وي او زما دامت دهلاکت لپاره مال او دولت او پيسې دي
(مَا أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ أَجْمَعَ الْمَالَ وَأَكُونَ مِنَ التَّاجِرِينَ لَكِنْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ". رسول عليه السلام فرمايي ماته وحې نه ده شوې ددی لپاره چې زه مال او دولت او پيسې راجمع کړمه او يا په دونيا کې لوی تاجر جوړ شمه لاکن ماته وحی شوې چې زه دالله پاکي اوحمد ثنا بيان کړمه او ماته وحې شوی چې دخپل رب عبادت او بنده ګي کوه تر مرګه پورې
ابو عبيده ﷺ له بحرين  نه مال راليږلی وه چې دشپې راورسيده  دنبي عليه السلام عادت شريفه داوه چې کله به يې فرض لمونځ اداء کړو نو مخ مبارک به يې راوګرځاوه بني طرف ته اکثره راګرځيدلی خو کله کله چپ طرفته هم راګرځيدلی او بيا به يې مقتديانو ته مخ کړو او داسنت طريقه ده اية الکرسي او تسبيحات او اذکاربه يې وويل  دسهار په جمع کې يې دخلکو کثرت وليده رسول عليه السلام مسکی غوندې شو صحابه کرامو ته يې وويل لکه چې بيګا دمال نه خبرشوې يې چې مال راغلی  هغوی ورته ووې هو مونږ خبر شوې يو چې مال راغلی  حقدار وه غريبان وه محتاج وه او حلال مال چې راغی نو ديکې څه نقصان دی او دخپل ضرورت دپوره کيدو حرث پکې وې  نو نبي عليه السلام ورته وفرمايل ("فَوَاللَّهِ مَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُم. وَلَكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُم أَنْ تُبْسَطَ عَلَيكُم2 الدُّنْيَا، كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُم، فَتَنَافَسُوا3 فِيهَا، كَمَا تَنَافَسُوهَا، فَتُهْلِكَكُم كَمَا أَهْلَكَتْهُم" رواه البخاري ومسلم»  زما دې په الله باندې قسم وي چې زه په تاسو دفقيرۍ نه نه ويريږمه چې تاسو به فقيران او غريبان شی ای صحابه کرامو ليکن زه په تاسو ددی خبرې نه ويريږم چې په تاسو باندې به وسعت دمال او دولت راشي او تاسو به بيا په دې مال کې رغبت او مينه وکی او دغه دمال مينه به تاسو داسې هلاک کړې لکه پخواني امتونه چې دمال ميني اومحبت تباه کړي وه
يو مال ګټل او تجارت دی دا خو جائز دی  داخو ناروا نه دی داخو صحابه ای کرام هم تاجران  وه (رِجالٌ لا تُلْهِيهِمْ تِجارَةٌ وَلا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ )داسي سړي وه چې دوی تجارت نه وه مشغول کړي دالله دذکر او عبادت نه  لاکن

رغبت او محبت دمال دادی چې دمال دپاره دروغ ووايې ددې لپاره دوکه کوې ددې لپاره بې انصافي کوی ددې دپاره سود خورې ددې لپاره رشوت اخلې ددې لپاره غصب کوی ددې لپاره ظلم کوی ټګي اوبرګي کوی دادمال مينه ده

ورنه صادق تاجر رسول عليه السلام فرمای دده حشر به دقيامت په ورځ دانبياو شهداو صالحينو سره کيږي لاکن ددې تاجر دا مقام او مرتبه دقيامت په ورځ حشر ددی خلکو سره کيږي دامقام ددې تاجر دمال دګټلو له وجه نه نه دی چې دچا ذهن دې پلو لاړ نه شي چې دا مال ډير ګټي لاکن ده په تجارت کې يو عمل کړی وو دده دا عمل الله ته ډيرخوښ دی چې هغې ته وايي صداقت صادق تاجرچې تجارت کوي او صداقت هم ورسره کوي دروغ په تجارت کې نه وايي نو الله پاک دا مقام او مرتبه ددې وجه نه ورکړه ددی وجه نه يې نه ده ورکړې چې ده مال ډير ګټلی

زما عزتمندو ورونو عرض مې کولو څوک کاميابي په مال کې ګڼي څوک يې په کثرت دسړو او دفوجونوکې ګڼي دا دکاميابې اسباب نه دي څوک وايي کاميابي په باغونو او جايدادونو کې ده نو دسبا والا واقعه الله پاک په قرأن کې بيان کړې هغه دباغونو او جايدادونو خاوندان وه اوناشنا باغونه ورته الله پاک ورکړې وه امن وو کلې يې يوبل ته ښکاره کيده خو دوی ددې ناشکرې وکړه او وی ويل چې الله څمونږ دا کلي سره پراخه او لرې لرې کړه حالانکه چې کلي نژدې وي ډاکو اوغل څه نشي کولی لاکن دا يې هم په ځان باندی نه وه پيرزو

تفسير قرطبي کې ليکلي دي چې يو سړی به روان شو او ټوکرې به يې د ميوې دپاره په سر کړه پغير ددې نه چې دا ميوه راوڅنډي دونو شاخونه داسې ټيټ وه چې دباغ بل سرته به سړی رسيده ټوکرې به يې ډکه وه خو چې کله يې نافرماني وکړه دهغې خوږې ميوې يې ترخې کړې ونې يې ورته په کيکرو او اغزي دارو ونو بدلې کړې او دځنو نه يې غزونه جوړ کړه هرڅه ترې الله پاک واخسته او دهغوې دهلاکت ذريعه هماغه باغونه جوړ شوه.

که مال کې کاميابي ګورې نو قارون ته وګوره که سړيو او فوجونو کې کاميابي ګورې فرعون او نمرود ته وګوره که خپل نفسي زور او قوت کې

کاميابي ګورې نو عاديانوته وګوره اوکه انجنيرې او صنعت کې کاميابي ګورې نو ثموديانوته وګوره داقومونه څه شوه ؟ دا ټول الله پاک هلاک کړه حاصل دا چې په دې خبره باندې ځان پوه کړو او هريو مسلمان دا تصوردځان سره يوسي دټولو خبرو درک دممبر له لارې ګران دی هيڅوک يې نشي کولای چې ټولې خبرې دی ذهن کې راولي دا ګرانه خبره ده لاکن مرکزي او بنيادي خبره داده چې مونږ هريو مسلمان په دې پوهه شو چې ددونيا او اخرت کاميابي ددونيا او اخرت خوشحالي دونيا اواخرت عزتونه الله رب العزت پخپل دين کې ايښي دي او دا پخه خبره ده

«قد أفلح من أسلم، رزق كفافا وقنعه الله بما آتاه» رسول الله ﷺ فرمايي کاميا ب دی هغه سړی چاته چې الله پاک داسلام سرمايه اودولت نصيب کړواو روزي بقدر کفايت وي او دی په دې باندې صابر او قانع وي داسړی کامياب دی (فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُولئِكَ تَحَرَّوْا رَشَداً) چاته چې الله دايمان او اسلام سرمايه نصيب کړه الله پاک فرمايي دی خلکو کامي بيامونده .

عمر ﷺ به فرمايل (إِنَّا كُنَّا أَذَلَّ قَوْمٍ فَأَعَزَّنَا اللَّهُ بِالْإِسْلَامِ فَمَهْمَا نَطْلُبُ الْعِزَّةَ بِغَيْرِ مَا أَعَزَّنَا اللَّهُ بِهِ أَذَلَّنَا اللَّهُ» مونږه ذليل قوم وو الله پاک دين اسلام په وجه مونږ ته عزت راکړو نو کله چې مونږ عزت طلب کوو غير دهغه شي نه چې مونږ ته پرې عزت راکړل شوی نو الله به مونږ بيرته خوار اوذليله کړي

زما عزتندو کاميابي الله پاک په دين کې ايښي خوشحالي الله پاک دين کې ايښي عزت الله پاک دين کې ايښي سکون راحت او ارام الله پاک دين کې ايښي

صحابه کرام فقيران دزماني وه خو ددين په وجه الله دومره وځلول چې نن دهغوی تاريخ او قربانۍ دمسلمان لپاره دفخر شئ دی دهغوی عملونه زمونږ لپاره علم دی هغوی مونږ دپاره معيار حق دی

الله پاک مونږ نه هغسې ايمان او اعمال غواړي لکه څنګه چې صحابه کرام وه (فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّما هُمْ فِي شِقاقٍ )الله پاک فرمايي که ايمان يې راوړو دی خلکو(يهوديانو ) په شان دايمان ستاسو ( ای صحابه وو ) نو دا خلک به هدايت ومومي

او چا چئ مخالفت وکړو ( صحابه کرامو نه ) او وګرځیدل ایمان او اعمال یې ددوی غوندې نه وه دا په مخالفت او بدبختې کې دي . (آمِنُوا كَما آمَنَ النَّاسُ) الله پاک فرمايي ايمان راوړې لکه دغه خلکو چې ايمان راوړی علماء کرام فرمايې الناس کې ال عهدې دي معهود په دې سره صحابه کرام دي داسې ايمانونه جوړ کړې لکه دصحابه کرامو .

(وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهاجِرِينَ وَالْأَنْصارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهارُ خالِدِينَ فِيها أَبَداً ذلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ)) الله پاک فرمايي مخکې کيدونکي ايمان ته مهاجرين دمکې او انصاردمدينې او هغه کسان دي چې تر قيامته پورې په نيکو اعمالو کې دصحابه کرامو تابع وي الله پاک فرمايي الله ددوی نه راضي دی او دوی دالله نه راضي دي

سبحان الله څومره غټ زيری دی (وَرِضْوانٌ مِنَ اللَّهِ أكبر) دالله لږ راضی کيدل هم ډير شئ دی دالږ معنا ما دڅه نه وکړه علماء کرام فرمايي رضوانٌ کې داتنوين دپاره دتقليل دی څه معنی لږ راضي کيدل هم دالله ډير لوی شئ دی چې لږ هم الله راضي شي ډيره غټه خبره ده تاسو ګورې چې هر سړی دصحابي نوم اخلي رضی الله عنه ورسره وايي ابوبکر رضی الله عنه عمر رضی الله عنه عثمان رضی الله عنه علي کرم الله وجه دهر يوه سره رضی الله عنه دی ، الله ﷻ ددوی نه څنګه راضي او خوشحاله شو په دين اسلام ترې راضي او خوشحاله شو.

محترمو ددونيا شيان داسې دي چې خپل خواص يې نه دي بدل کړي مرچک پخوا تريخ وو اوس هم تريخ دی ، بوره پخوا خوږه وه اوس هم خوږه ده ، ليمواو نارنج پخوا تروش وه اوس هم تروش دي نو چې دا شيونه خپل خواص نه بدلوي نو دين اسلام هم خپله خاصه نه ده بدله کړې څوارلس سوه کاله مخکې چې په دين باندې الله پاک چاله عزت ورکړې والله چې اوس هم په دی دين باندې الله پاک عزت ورکوي او څوارلس سوه کاله مخکې چې الله پاک په دې دين باندې امن ورکړی او س هم پرې امن ورکوي څوارلس سوه کاله مخکې چې په دې دين باندې دصحابه کرامو نه راضي شوی اوس هم الله په دين باندې راضي کيږي دين او ددين په خوارې او محنت سره پخوا هم الله پاک راضي شوی وو اوس هم ددين په خواری

او محنت راضي کيږي پخواهم په دين هغوی عزتمند شوې وه په دې اوس هم عزتمند دي .
مولنا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه دديوبند دعلماء کرامو له اکابرو څخه وو هغه په جزاء الاعمال کې يوه واقعه ليکلې ده چې يو سړی مړ کيده خلکو ورته دکلمې تلقين کاوه لااله الاالله، لااله الاالله هغه به چې ويلو ته ځان جوړاوه کلمه به يې نشوه ويلی اخر دې سړي څه ووی وايي ماته دکلمې تلقين مکوی دا خبره يې کولی شوه خو کلمه يې نشوه ويلای داسړی وايي چې کله زه کلمه وايم يو څوک دی زما ژبه کلکه ونيسي ما کلمې ويلو ته نه پريږدي او زه ددي په وجه خپله پوهيږم چې ولی ما کلمې ويلو ته نه پريږدي يو مجلس کې ناست وومه او دشيخانو بې عزتي کيدله چا دابوبکر الصديق او حضرت عمر رضی الله عنهما پسې بدې ردې ويلې ما ترې دفاع ونکړه ماته خپل جرم معلوميږي چې ما په دې ژبه باندې دحق نه دفاع نه ده کړې ، دصحابه کرامو څخه دفاع دهغوی په مونږ حق دی دا ددين مشران وه يو څوک هغوی په بده باندې يادوي او سړی دهغوی نه دفاع نه کوي نو په دی ژبه باندی به دمرګ په وخت کې څنګه کلمه راشي .، داخبره واوری هر حق داسې دی دا يوه نمونه ده چې په حق ويلو په حق کولو ګونګ پاته کيدل نه دي پکار .
زما عزتمندو داعزتونه صحابه کرامو ته الله پاک په دين باندې ورکړل او اوس هم عزتونه دالله پاک په دين کې دي او ددين مدار او کليات هغه په دی کلمه باندې دي چې لااله الاالله محمد الرسول الله زمونږ دتبليغ مشران دمولنا الياس رحمة الله عليه دزمانې نه چې بنياد يې هغه ايښی دی ددين په حقله دزمانې ددين مجدد وو مولنا الياس رحمةالله عليه ديو لوی فکر هستيٍ وه اګر که هغه وخت دديوبندعلماووله جملې نه داداسې سړی وو قوارةً هم ښايسته سړی نه وو ژبه يې هم لږ نښته او بدن يې هم کمزوری وو خو چې چا په اخلاص سره ددين علم حاصل کړو الله پاک ورڅخه ددين کار اخلي ناشکري نه ده پکار اوس يې مونږ دبچو خلاف کوو او س يې مونږ دلمسو خلاف کوو اوس دهغوې په مسير باندې نه ځو دا خبره لږ په توجو سره واوری په تبليغ کې زمونږ امامان خو دا کورنې ده لاکن اوس مونږ دهغوې نه پورته روان يو دا به نمک حرامي نه وي چې يو چا ددومره لوی خير بنياد ايښی وي او په دی کار کې دهغوي اقتدار پريږده او په خپله باندي

خپله اختراع کوه بلکه اختراعات کوه او په هغې باندې روان اوسیږه په دی باندې علماء ولی چپ پاته کیږي الله نه ویره پکار ده.
ورونو کافي علماء د ولایتونو نه راغلي په دی خبره خبر اوسیږې چې ددې کورنې نه ددعوت په کار کې اخوا دیخوا کیږي دا به تبلیغ نه وي بلکه دا به بل شئ وي زه نور مخکې نه ځم خونوم به یې تبلیغ وي خو تبلیغ به پکې نه وي ځانله به وایي تبلیغي خوتبلیغي به نه وي
قدرمنو مولنا الیاس رحمة الله علیه ددعوت دکار لپاره یو څه صفات وضع کړي دي هغه داسې نه دي چې مجموعه ددین ټول دا صفات دي چې ټول دین دا صفتونه دي دا نه مونږ وایو او نه مو ویلي دي چې ټول دین دا شپږ صفات دي بلکه دین خو ډیر لوی شئ دی که یو سړی دخپل دین دحقیقت نه ځان خبرول غواړي او نوره مخکې مطالعه نشي کولای دعلم کمزوري وي نوڅه ناڅه تعلیم چې ورسره وي ولو که عصري تعلیم یافته ولی نه وي نو دخپل دیني کتابونو دا فهرستونه وګوری کوم چې بابونه دی لکه باب په بیان دایمان کې باب په بیان دعباداتو کې باب په بیان دغسل کې باب په بیان داوداسه کې باب په بیان دخوړلو څکلو کې باب په بیان دلباس کې نو چې سړی کله دی ته وګورې نو سبحان الله کوم دین چې الله مونږ ته راکړی دی کامل دین یې راکړی دی (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلاَمَ دِيناً) الله پاک فرمایي نن ورځې ما ستاسولپاره ستاسو دین کامل کړی دې او ما تاسو باندې خپل نعمت پوره کړی دی او دین اسلام ما تاسو لپاره غوره او انتخاب کړی دی ملاعلي قاري رحمة الله علیه به فرمایل ( فلا نحتاج في تکمیله الی امر خارج عن الکتاب والسنه ) مونږ پخپل دین کې دقرأن او دسنتو نه بل هیڅ شي ته محتاج نه یو الله پاک مونږ ته داسې دین راکړی چې هغه کامل دین دی ، ورونو دین خو ډیر لوی شئ دی خو دا شپږ صفات استعدادي صفتونه دي
مولنا انعام الحسن حضرت جې رحمة الله علیه به فرمایل چې دا استعدادي صفات دي په دین کې دا ټول دین نه دی البته دا دعوی سره ویلی شو چې دا هغه صفتونه دي چې په ټول دین چلیدل سړي ته اسانیږي او دهغی بنیاد دا مبارکه کلمه ده چې لااله الاالله محمدالرسول الله داد ایمان کلمه ده دا دتوحید کلمه ده دا داخلاص کلمه ده دا دتقوی کلمه ده دی ته الله پاک په قرأن کې قول ثابت ویلی دې ته الله پاک قرأن کې سدید ویلی دی ته الله پاک قول

حسنى ویلی ((وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنَى)) الله پاک فرمايي وواي خلکو ته ښایسته خبره ، مفسرینو لیکلي هغه ښايسته خبره لااله الاالله ، لااله الاالله ده چې داددی لپاره ده چې د غير يقين دمسلمان دزړه نه ووځي دخپل زړه نه هم دغير يقين وباسو او دنورو دزړو نه هم دغير يقين ووځي څکه دیارلس کاله رسول عليه السلام په مکه کې دادعوت کړی وو(«أَيهَا النَّاس، قُولُوا: لَا إِلَه إِلَّا الله تُفْلِحُوا، » دا کلمه ووايې کامیاب به شی {وَقُلْ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ} [الإسراء: 53] زما پيغمبره ووايه زما بنده ګانو ته چې ودی وايي هغه خبره چې دا ډيره ښايسته ده ، نو بعضي علماء فرمايي چې مراد ددی نه دا کلمه ده چې لااله لاالله "{يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ} [إبراهيم: 27] الله مظبوطوي ايمان والا په قول ثابت باندې قول ثابت دا کلمه ده چې لااله الاالله ددونيا په ژوند کې هم اودمرګ په وخت کې هم په دی باندی مظبوطوي
بل ځای کې الله پاک فرمايي( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيدًا )(الأحزاب 70) ای ايمان والاو دالله نه وويرېږی او وايي وينا نيغه او وينا حقه علماء وايي نيغه وينا هغه دا کلمه ده چې لااله الاالله او دا دتقوا کلمه ده صحابه کرامو متعلق الله پاک قرأن کې فرمايي {وألزمهم كلمة التَّقْوَى، وَكَانُوا أَحَق بهَا وَأَهْلهَا} الله پاک صحابه کرام په کلمې د تقوا باندې کلک کړې وه او دوی حقدار ددی وه يعنې ددې کلمې حقدار وه او دا يومهم ټکی دی او ولی حقدار وه څکه دوی ددی کلمې تقاضې پوره کولی شوې دکلمې په مقتضاياتو باندې چليدل که دالله ددين لپاره او دکلمې په بنياد باندی که دسر ورکولو ضرورت راتله پلاس کې وه دوينو تويولو ضرورت راتله پلاس کې وی صحابه کرامو به څه ويل خوشحاله خوشحاله به وه ويل به يې ( انا لا قو العدوه غداً وانا مستشهدون غداً فلا تغسلو عنا دماً) مونږه سبا دوشمن سره مخ کيږواو مونږه دالله په لار کې شهيدان کيږو زمونږ ويني ونه مينځی دخپلو وينو سره مو خښ کړې ، نو که دوينې ضرورت راتله وينه يې قربانوله او که دخولې ضرورت راتله خوله يې وباسله که دمال دمصرف ضرورت راتله مال يې دالله ددين لپاره قربانوه ، ولې صحابه کرام ټولې دونيا ته دکلمې په تقاضا خواره نه شوه ؟ (٧٠) اويا قاريان دکلمې ددعوت لپاره لاړه شهيدان شوه دوکه ورسره وشوه بيئر معونه کې لس کسان چې خبيب

ﷺ ورسره وو هغه په دوکه کې شهیدان نه شوه؟ هغوی يې دکلمې ددعوت لپاره ليږلي وه رسول عليه السلام به دغزواتو تشکيلونه او دارنګې دعوتي تشکيلات دا به يې دمسجد نبوي نه کول مدرسه په مسجد نبوي کې وه غريبان فقيران صحابه کرامو به ورکې احاديث زده کول ددوی تعدادداوياو څخه تر څلور سوه پورې رسيده کله ډير کله کم وه . زما عزتمندو ورونو هغوی ځکه دکلمې حقدار وه چې دکلمې تقاضايې پوره کوله

ثابت کلمه ګو خو هغه مسلمان دی چې هغه دکلمې تقاضا ته ګوري نفسي خواهش او نفسي تقاضا ته نه ګوري قرأن کې فرمايي ({بَلِ اتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَهْوَاءَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ فَمَنْ يَهْدِي مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ} (الروم:29) ظالمان خو دخواهشاتو تابع کيږي څوک چې دخواهش پسې ځي والله الله پاک ورته قرأن کې ظالم ويلی دی .

قدرمنو ورونو صادق کلمه ګو په خواهش نه چليږي بلکه هغه دکلمې په تقاضاچليږي چې دکلمې تقاضا څه ده نن مسلمان ته کلمه نه ده زده زمونږ کلمه او لمونځ نه دی زده زمونږ هغه بابا وايي زمونږ کلمه لمونځ نه دي زده او دا حقيقت دی کلمه راله نه راځي دکلمې خپل شرطونه دي علم ،يقين ، اخلاص ، صدق ، محبت ، انقياد، علامه ابن قيّم رحمه الله فرمايلي چې داتول دکلمې دشرطونو نه دي ( فاعلم انه لااله الاالله ) پوهه شه په دی خبره چې الله نه پغير بل حقدار دعبادت او بنده ګی نشته الله نه بغير حاجت روا نشته الله نه بغير ځای دسوال او دزاری نشته ، خو زمونږ په زړونو کې دبل چا نه دحاجتونو دپوره کيدو يقين هم شته مشکل کشا بل هم ګڼو حاجت روا بل هم ګڼو ايا دا دکلمې تقاضا ده ؟ ددی وجه نه رسول عليه السلام فرمايي («مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُخْلِصًا دَخَلَ الْجَنَّةَ» . قِيلَ: وَمَا إِخْلَاصُهَا؟ قَالَ: «أَنْ تَحْجُزَهُ عَنْ مَحَارِمِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ» چاچې اخلاص سره کلمه لااله الاالله وويل جنت ته به داخل شي چا عرض وکه يا رسول الله (وَمَا إِخْلَاصُهَا؟ ) دکلمې اخلاص څه شئ دی («أَنْ تَحْجُزَهُ عَنْ مَحَارِمِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ» چې تا دالله دمحارموڅخه رامنع کړي اخلاص په کلمه کې دادی چې ته دکومو شيانو څخه الله منع کړی يې دهغې نه منع شی سترګو ته چې کوم حکم دی دکتلو هغسې به ګورې چې دنه کتلوحکم دی نه به ګوری په دی سترګو به محارمو ته نه ګورې او دا سترګی به په حرامو کې نه استعمالوې ، دا غوږونه به په حرامو کې نه استعمالوې ، خپله ژبه به دحرامو لپاره نه

استعمالوي ، لاس او پښې به په حرامو کې نه استعمالوې زړه او دماغ به دحرامو لپاره نه استعمالوې حياء هم ددې نوم دی رسول عليه السلام فرمايلي «استحيوا مِنَ اللَّهِ حَقَّ الحياءِ، قَالَ: فقلنا: يَا رسولَ اللَّهِ، إنَّا نَسْتَحِي وَالحَمْدُ للَّهِ، قَالَ: لَيْسَ ذَلِكَ، ولكن الاِسْتِحْيَاءَ مِنَ اللَّهِ حَقَّ الحَيَاءِ: أَنْ تَحْفَظَ الرَّأْسَ وَمَا وعي، وَتَحْفَظَ البَطْنَ وَمَا حوى، وَلْتَذْكُرِ المَوْتَ والبلى، وَمَنْ أَرَادَ الآخِرَةَ تَرَكَ زِينَةَ الدُّنْيَا، فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ استحيا مِنَ اللَّهِ حَقَّ الحَيَاءِ» اخرجه الترمذي (4/ 637) ، كتاب «صفة القيامة» باب: (24)

رسول الله ﷺ وفرمايل دالله نه وشرميږې دالله نه حقه حياء وکړی صحابه کرامو وويل مونږ دالله نه شرميږو مونږ دالله ﷻ نه حقه حياء کوو نبي عليه السلام ورته وفرمايل نه حق حياء دالله نه څه ده ("الاستحياءُ من اللّٰهِ حقَّ الحياءِ أن يحفظَ الرأسَ وما وعَى، ويحفظَ البطنَ وماحوَى". ځوک چې دالله نه شرميږي سر دې وساتي سر کې چې څه راګير دي سر کې سترګې دي په سر کې غوږونه دي په سر کې ژبه ده دا سترګې به په حرامو خايونو کې نه استعمالوې دا غوږونه به په حرامو کې نه استعمالوي او دا ژبه به دحرامو لپاره نه استعمالوي دروغ به په دی ژبه نه وايې بهتان به په دی باندې نه وايې چُغلي به په دی باندې نه کوی دمسلمان عزت به په دی ژبه باندې نه اخلې ددروغو چالاکي به په دي ژبه باندې نه کوی .

زما عزتمندو ورونو(وَلْيَحْفَظِ الْبَطْنَ وماحوَى ) خيټه دی وساتي او خيټې چې څه راګير کړې دي خيټه کې لاسونه هم دي په خيټه کې پښې هم دي په خيټه کې زړه هم دی ددې ټولو حفاظت وکړه لاسونو باندې هغه کار مکوه چې الله پرې ناراضه کيږي ، په پښو باندې هغه طرف ته تلل مکوه چې الله پرې ناراضه کيږي غلط قدمونه مه اخله هر قدم چې انسان اخلي يابه مخ په جنت وي اويا به مخ په جهنم سوچ کوه چې ستا قدمونه کوم طرف روان دي ايا دالله په مرضی کې دي که دالله په خلاف کې دي دلاسونو استعمال دی دالله په مرضی کې دي او که دالله په خلاف کې دي او په خيټه کې دننه زړه هم دی دزړه حفاظت وکړه دغير الله ديقين نه دغير الله يقين زړه ته مه داخلوه دکولو والا ذات الله وګڼه

کتاني رحمة الله عليه يو عالم دی هغه چې کله مړ کيدلو خلکو ورته دکلمې تلقين کاوه لااله الاالله ـ لااله الاالله دی ورته وايې ماته دکلمې تلقين مه

راکوي لااله الاالله کلمه یې ویله وایي څلویښت کاله وشوه ما دزړه ددروازې حفاظت کړی ما غیر الله چرته دې زړګی ته نه دی راپریښی
قدرمنو ورونو قرأن کې الله څه فرمایي (يَوْمَ لا يَنْفَعُ مالٌ وَلا بَنُونَ (88) إِلاَّ مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ (89)) هغه ورځ باندې چې مال او ځامن فایده نه رسوي مګر هغه څوک چې راشي الله لره په زړه سلامت سره ، سلیم زړه کوم دی هغه زړه چې کفراو شرک پکې نه وي او هغه زړه چې دغیر الله یقین پکې نه وي او هغه زړه دی چې حب مال پکې نه وي حب جاه پکي نه وي یعني جاه طلبي پکی نه وي دمال مینه پکې نه وي درياست او منصب مینه ورکې نه وي رسول علیه السلام فرمایي («ما ذئبان جائعان أرسلا في غنم بأفسد لها من حرص المرء على المال والشرف لدينه» دوه وږي لیوان چې په رمه کې خوشې کړي دغه رمه دومره نشي بربادولی څومره چې وینا او خبرې دمسلمان دین بربادوي یو دمال مینه بل جاه طلبي چې زه مشر شمه که دا ددین په اعتبار دا غواړي چې زه مشر شمه او که ددونیا په لحاظ باندې یو سړی مشري غواړي چې زه مشر شمه زما قدر منو ورونو دا دسړي دین بربادوي او کوم سړی چې نور یې مشر کړي دا منصور من الله دی ده سره دالله نصرت او مدد وي اوکوم سړی چې پخپله مشري غواړي دهغه سره دالله مدد او نصرت نه وي او دکوم سړي سره چې دالله مدد نه وي دا نورو خلکو ته ولې د مددونو وعدې ورکوي ؟ چې زه به دادرته وکړم او دا به درته وکړم دا سړی منصور من الله نه دی هیڅ هم نه شي کولای
رسول الله ﷺ فرمایي «أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلُحَتْ صَلُحَ لَهَا سَائِرُ الْجَسَدِ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ » خبردار دانسان په بدن کې یوه ټکره دغوښې ده که دا صالحه وه ټول بدن به صالح وي که دا فاسده وه ټول بدن به فاسد وي خبر شی هغه زړه دی خبرشی هغه زړه دی خبر شی هغه زړه دی
له دی وجه نه زما محترمو ورونو دانبیاء علیه السلام خواري او محنت دانسانانوپه زړونو خواري وه اودانسانانو زړونه یې دمحنت میدان وه چې دانسانانو له زړونو څخه دغیر یقین وباسي
نو رسول علیه السلام فرمایي چې خیټه دی وساتي او خیټې چې څه راګیر کړي ( وليذكر الموت والبلاء) او مرګ دی ډیر یادوي څوک چې دالله نه

شرمیږي مرګ دې ډیر یادوي او دهډوکو زړیدل دی ډیر یادوي چې دا هډوکې تول به زماختم شي داسترګې به مې ختمې شي دا لاسونه به مې ختم شي دا پښی به مې ختمې شي دا تول به دچنجو خوراک شي دالله نبي فرمایي دا یادوه ( والیذکر الموت والبلاء)

او فرماي څوک دالله پاک نه شرمیږي هغه دی ددونیا ډول او سینګار پریږدي او ژوند دی سده او ساده جوړ کړي ( ایاک وتنعمه وَإِنَّ عِبَادَ اللَّهِ لَيْسُوا بِالْمُتَنَاعِمِينَ ,رسول علیه السلام فرمایي ځانونه دمزو او چړچو نه وساتی دالله بنده ګان په مزو او چړچو کې شپې او ورځې نه سباکوي چې زما ژوند دی په مزو،خوندونو،خواهشاتو او شهواتو کې وي او دا دالله پاک دربښتیني بنده ګانو داسې ژوند نه وي چې داسې دی تیر شي ( فمن فعل ذالک فقد استحیا من الله حق الحیاء ) رسول علیه السلام فرمایي چاچې دا کارونه وکړه کوم چې دی حدیث کې ذکر شوه ده دالله پاک نه حقه حیاء وکړه او دی دالله پاک نه وشرمیدلو نودکلمې اخلاص دادی چې دمحارمو نه ځان وساتل شي

بل حدیث کې راغلي دي من قال لااله الاالله صدقاً عن قلبه دخل الجنه )
چاچې کلمه وویله دزړه په صدق باندې جنت ته به داخل شي ( من قال لااله الاالله مستیقناًبها قلبه دخل الجنه) چاچې کلمه دزړه دیقین نه وویله جنت ته به داخل شي بل حدیث کې راغلي دي («مَنْ قَبِلَ مِنِّي الْكَلِمَةَ الَّتِي عَرَضْتُهَا عَلَى عَمِّي فَرَدَّهَا عَلَيَّ فَهِيَ لَهُ نَجَاةٌ» چاچې قبوله کړه زمانه هغه کلمه چې ما خپل تره ابوطالب ته پیش کړله او هغه په ماباندی دا کلمه واپس او رد کړله دا کلمه دده لپاره نجات دی بل حدیث کې راغلي دي ({إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا أَنَا} [طه: 14] مَنْ قَالَهَا دَخَلَ حِصْنِي، وَمَنْ دَخَلَ حِصْنِي أَمِنَ عَذَابِي " الله فرماي حدیث قدسي دی یقیناً زه الله یمه زما نه غیر بل اله نشته بل حاجت روا نشته بل مشکل کشا نشته چاچې اقرار وکه زما دتوحید هغه زما په قلعه کې داخل شو او څوک چې زما په قلعه کې داخل شو هغه زما دعذاب نه په امن کې شو قدرمنو ورونو ډیره لویه کلمه ده

ورونو دوستانو ډیر مهم شئ هغه دادی چې زړه کې دکلمې مفهوم راشي چې دهر مسلمان زړه کې دا وي چې دکولو والا ذات هغه د الله ذات دی ((وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ) نه کیږي هغه چې تاسو یې غواړی مګر کیږي هغه چې الله یې غواړي چې رب دټولو مخلوقاتو دی نبي

عليه السلام نه چا درېِ پوښتني وکړې ديهودو او مشرکينو په لمسون هغه ورته ووى سبا به ددې جواب درکړم پنځلس ورځې وحې معطل وه کافرانو خندا ګانى مسخرې شروع کړې الله پاک ورته وويل (وَلا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فاعِلٌ ذلِكَ غَداً (23) إِلاَّ أَنْ يَشاءَ اللَّهُ وَاذْكُرْ رَبَّكَ إِذا نَسِيتَ )

زما پيغمبره مه وايه ديو کار په باره کې چې زه يې سبا له کومه او کله چې دا وايې چې سبا له يې کومه نو ان شاء الله ورسره وايه او چې کله درڅخه خپل رب هير شو نو بيا رب يادوه ابن عباس ﷺ فرمايي يوکار باره کې دى چې ووى چې سبا له يې کومه او انشاء الله درنه هير شو کار دى نه کيږي کال بعد چې درته يادشو چې ما ان شاء الله نه وه ويلي کال بعد يې ووايه چې ان شاء الله

سليمان عليه السلام څه وويل وايي سل بيبياني يې وى او دجهاد ډير شوقي وه وى ويل چې بيګا ته دټولو سره صحبت کوم چې الله پاک ماته سل ځامن راکړې او سل واړه به مجاهدين شى (وَأَلْقَيْنا عَلى كُرْسِيِّهِ جَسَداً ثُمَّ أَنابَ ) ټولې بيبياني يې شنډى شوى الله فرمايي يوى بيبي نه يې بچى پيدا شو خو هغه هم ناتمام وو په کرسئ يې ورته واچولو دهغې نه بعد ورته پته ولګيده چې ما ان شاء الله نه دي ويلى .

ان شاء الله څه معنا؟ که الله وغواړي ځکه کيږي هغه څه چې الله پاک يې وغواړي مخلوق څه وغواړي هغه نه کيږي بدر په غزا کې صحابه کرامو اويا کافران مړه کړل اويا يې ژوندي ونيول په دى ژوندو کې درسول عليه السلام تره عباس ﷺ هم وو او زوم يې هم ورکى وو جبريل عليه السلام راغى ورته يې وويل دا شګې راواخله دى کافرانو طرف ته يې ورباد کړه او ووايه ("شاهت الوجوه". مخونه دى سپيره وي دهغوى سترګو کې الله پاک داشګې وروغورځولې ړانده او کاڼه يې کړل کافران يې قتل کړه ابو جهل هم پکې قتل شو الله پاک څه ورته وويل (﴿فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ ولكنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ وَما رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ ولكنَّ اللَّهَ رَمَى ) تاسونه دى وژلي دوى اي پيغمبره لاکن دوى الله ووژل تاويشتل نه دي کړي دشګو چې ورباد دى کړې لاکن الله دا شګې ددوى سترګو ته وررورسولى .

نو کيږي هغه چې الله يې وغواړي نفع اونقصان دالله پاک پلاس کې دى خير او شر دالله پاک په لاس کې دي دبل هيچا پلاس کې نه نفع شته او نه نقصان

حجر اسود ته عمر ﵁ ودريده مشكوة شريف کې حديث دی حجر اسود دجنت نه راغلې تيګه ده دا تکه سپينه وه ( فسودت خطايابني ادم ) دبني ادمو ګناهونو دا تکه توره کړه حديث کې راغلي په ورځ دقيامت به دحجر اسود دپاره سترګې وي ژبه به وي چاچې ښکل کړی وي دهغه دپاره به ګواهي او شاهدي ورکوي الله دی تاسو ټولو ته نصيب کړي رسول عليه السلام به دطواف په وخت کې ښکولوله ( مچې کوله ) عمر ﵁ ورته ودريد (إِنِّي لَأُقَبِّلُكَ وَإِنِّي لَأَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ، لَا تَضُرُّ وَلَا تَنْفَعُ، وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ. أَخْرَجَاهُ فِي الصَّحِيحِ.

ته تيګه يې ته کاڼی يې نه درکې نفع شته او نه ضرر ما که رسول عليه السلام نه وای ليدلی چې ته يې ښکل کړې يې مابه نه وې ښکل کړې زه دی له دې وجه څخه نه ښکلوم چې تاکې نفع ده يا ضررله دی وجه نه دی ښکلوم چې ته دالله نبي ښکل کړې يې نفع اونقصان دالله پاک پلاس کې ده

مظهر حق يوکتاب دی نواب قطب الدين عليه الرحمه ليکلی دی مشکوة شريف شرح ده هغه ليکلي دي چې دموسی عليه السلام په غاښ يا خيټه دردشو فرياد يې کولو يالله يا الله په غاښ مې درد دی ته مې جوړ که الله پاک ورته ووېل هغلته يو بوټی دی هغه راوشکوه هغه دی په غاښ باندی کيږده موسی عليه السلام لاړو هغه بوټی يې راوشکاوه او په غاښ باندی يې کيښودو الله پاک ورته شفاکامله ورکړه بله ورځ چې کله مريض شو بيايې غاښ خوږيده بيا په خپله لاړ دعاء اوفرياد يې ونکړ بوټی يې را وشکوواو غاښ کې يې کيښوده هغه درد يې نور هم زيات شو عرض يې وکړ يا اله العالمين ستا په هداياتو هماغه بوټی مې راوشکاوه په غاښ مې کيښوده مخکې دې رااله شفا او صحت راکړی وه او اوس دې نور هم زما درد پرې زياد کړو

الله پاک ورته ووېل مخکې ستا توجو او فرياد ماته وو چې يا الله ما جوړ کړې اوس دی ماته فرياد ونکړو چې په غاښ مې درد دې راغلې براه راست لاړې بوټی دې راوشکولو او غاښ کې دې کيښودو.

زما محترمو ورونو ! دکلمې دامفهوم دهر مسلمان په زړه کې راشي امير فقير نارينه زنانه ځوان زوړ چې نفع نقصان خير شر عزت ذلت مرګ ژوند کاميابي ناکامي هستي نيستي فتح او شکست امن او بد امني دا ټول دالله پاک پلاس کې دي او په دی ټولو کائناتو قبضه دالله پاک ده په ځمکه

اسمانونو اوبره او ښکته څه چې پکې دی ددې ټولوقبضه دالله پاک پلاس کې ده او په دی ټولو کې اختیار او تصرف دالله پاک چلیږي او دټولو دونیا والاوومادي او معنوي قوتونه او طاقتونه دالله ﷻ دقوت او طاقت په مقابله کې دذرې برابر حیثیت نلري دا دغنې دجال برابرحیثیت نلري عادیانو تکبر کاوه څه یې ویل (فَأَمَّا عادٌ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقالُوا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ) هر چه عادیان وه الله فرمایي دوی تکبراو لویي کړې وه په زمکه کې او دوی ویل څوک زمونږ نه په قوت او طاقت کې زیات دې ، او بې شکه چې قوت خو الله پاک ورکړی وو داسې قوت چې دکجورو ډډونه به یې داسې راوویستل لکه یو وړوکی بوټې چې راباسې او چې کله الله پاک تباه کړه فرمایي (كَأَنَّهُمْ أَعْجازُ نَخْلٍ خاوِيَةٍ ) دوی داسې پراته وه لکه دکجورو ډډونه الله رب العزت وفرمایل (أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ) دوی نه ګوري یقیناً هغه الله چې ددوی خالق او پیدا کونکی دی دا الله ددوی نه په قوت او طاقت کې ډیر زیات دی (أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً) یقیناً ټول قوت او طاقت خاص الله لره دی ، او حقیقت هم دادی چې ټول قوت او طاقت دالله پاک پلاس کی دی دهر مسلمان زړګی دا ومني او دالله پاک دقوت نه او طاقت نه متأثره شي

قدرمنو ورونو دا یقین دهر مسلمان جوړ شي رسول علیه السلام به فرمایل یقین زده کړی الصَّبْرُ: نِصْفُ الْإِيمَانِ، وَالْيَقِينُ: الْإِيمَانُ كُلُّهُ ") صبر نیم ایمان دی اویقین پوره ایمان دی («تَعَلَّمُوا الْيَقِينَ كَمَا تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ حَتَّى تَعْرِفُوهُ فَإِنِّي أَتَعَلَّمُهُ» یقین زده کړې لکه څنګه چې قرأن زده کوې تر دی چې یقین وپیژنی او زه هم یقین زده کوم عبدالله ابن مسعود ﵁ به دعاء کوله («اللهم زدني إيمانا وفقها ويقينا وعلما» الله ایمان مې زیاد کړې الله یقین مې زیاد کړې الله ددین پوهه او علم راته نصیب کړې ،

دیقین لپاره خواري وکړی دعوت او تبلیغ دیقین دجوړیدو خواري ده او دیقین دجوړیدو لپاره دالله نه دعاءګانې وغواړی چې یا الله ستا په ذات او صفاتو باندې زما یقین جوړ کړه اوخومره غیر چې دي دالله نه بغیر دهغوی یقین زما دزړه نه وباسه

رسول علیه السلام په مکه مکرمه کې دیارلس کاله په دی باندی خواري او محنت وکړ نو بیا څنګه خلک جوړ شوه چې کله یې دیقین محنت او خواري ورباندې وکړه جنت او جهنم یې مخې ته راغله

لکه مخکې ما عرض کاوه چې کله به دهغوی نه کوم جرم وشو دا يې نه خوښوله چې ددي جرم او ګناه سزا دي زما سره اخرت ته لاړه شي پغير دجلب نه به يې درسول عليه السلام په محکمه کې ځان حواله کولو چې په ما باندې محکمه اوحد جاري کړه يو دوه واقعې درته وايمه :

جَاءَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، طَهِّرْنِي، فَقَالَ: «وَيْحَكَ، ارْجِعْ فَاسْتَغْفِرِ اللهَ وَتُبْ إِلَيْهِ» ، قَالَ: فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيدٍ، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، طَهِّرْنِي، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَيْحَكَ، ارْجِعْ فَاسْتَغْفِرِ اللهَ وَتُبْ إِلَيْهِ» ، قَالَ: فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيدٍ، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، طَهِّرْنِي، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِثْلَ ذَلِكَ حَتَّى إِذَا كَانَتِ الرَّابِعَةُ، قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ: «فِيمَ أُطَهِّرُكَ؟» فَقَالَ: مِنَ الزِّنَى، فَسَأَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَبِهِ جُنُونٌ؟» فَأُخْبِرَ أَنَّهُ لَيْسَ بِمَجْنُونٍ، فَقَالَ: «أَشَرِبَ خَمْرًا؟» فَقَامَ رَجُلٌ فَاسْتَنْكَهَهُ، فَلَمْ يَجِدْ مِنْهُ رِيحَ خَمْرٍ، قَالَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَزَنَيْتَ؟» فَقَالَ: نَعَمْ، فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ، فَكَانَ النَّاسُ فِيهِ فِرْقَتَيْنِ، قَائِلٌ يَقُولُ: لَقَدْ هَلَكَ، لَقَدْ أَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ، وَقَائِلٌ يَقُولُ: مَا تَوْبَةٌ أَفْضَلَ مِنْ تَوْبَةِ مَاعِزٍ، أَنَّهُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَ يَدَهُ فِي يَدِهِ، ثُمَّ قَالَ: اقْتُلْنِي بِالْحِجَارَةِ، قَالَ: فَلَبِثُوا بِذَلِكَ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً، ثُمَّ جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ جُلُوسٌ، فَسَلَّمَ ثُمَّ جَلَسَ، فَقَالَ: «اسْتَغْفِرُوا لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ» قَالَ: فَقَالُوا: غَفَرَ اللهُ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ أُمَّةٍ لَوَسِعَتْهُمْ»

ماعذ ابن مالک اسلمي رضي الله عنه يو صحابي دی دهغه نه زنا وشوله لاکن دصحابه کرامومتعلق بيا بد ګماني نه ده پکار چې دهغوی نه هم داسې شوي دي دهغوی خو بيا داسې ايمان وو چې پخپله يې ځان محکمه کې حواله کړی دی مونږ ځان حواله کولای شو؟ او هغوی داسې مخلصه او صادقه توبه ويستلې ده چې الله پاک په قرأن کې ورته واي چې ( وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ) ما دوی ته عفوه کړې ده (أُولئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ ) او دوی کامياب دي ، مونږ نه الله پاک داسې ايمان غواړي

دا صحابي راغی رسول عليه السلام ته عرض کوي ( يا رسول الله طهر ني ) دالله نبي ما پاک کړه نبي عليه السلام پوه شو چې څه مسئله خو پيدا ده پرده په واچوه مخ يې ورځخه واړوه چې دا به خاموشه شي بيا راتاو شو ويل يې ای دالله رسوله ما پاک کړه دابلې خوا يې ترې مخ واړاوه هغه بيا

ورته ووی ای دالله رسوله ما پاک کړه نبي علیه السلام پوه شو چې سړی له خپلې خبرې نه اوړي ورته یې وفرمایل ( وفیماطهرک) په څه شي کې دې پاک کړم څه دې کړې دي ، وویل ای دالله رسوله مانه زنا شوې ما باندې حد جاري کړه نبي علیه السلام صحابه کرامو ته وفرمایل چې دا خو به لیونی نه وي هغوی وویل نه لیونی نه دی وفرمایل شراب خو یې نه دي خوړلي یو صحابي اوچت شو دده خوله یې بوي کړه که شراب یې خوړلي وي هغه ووی دالله رسوله دخولې نه خو یې دشرابو بوی نه ځي نبي علیه السلام ووي ورشی اوس یې نو سنګسار کړې ، په مسلمان باندې تر خپلې وسع پرده اچوي چې په جرم دې مسلمان ولیدو غټ اکرام مسلم دادی چې په مسلمان باندې پرده واچوې اوعیبونه یې پټ کړې

حدیث کې راغلي دي رسول علیه السلام فرمایي «مَنْ سَتَرَ عَوْرَةَ مُؤْمِنٍ فَكَأَنَّمَا اسْتَحْيَا موؤودة مِنْ قَبْرِهَا» «رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ» چاچې په مسلمان باندې پرده واچوله ګویا هغه څوک یې راژوندۍ کړه چې ژوندۍ خښول شوې وه اجر او ثواب یې دومره وګڼلی شو دجاهلیت په زمانه کې دا رواج وه چې لورګانې به یې ژوندې په زمکه کې خښولې اوس یو سړی دی ماشومه یې ژوندۍ خښه کړې اوبل سړی راشي داماشومه له خاورو راوباسي نو تاسو ووایې دې سړي ته به الله پاک څومره اجر اوثواب ورکړي نو چاچې په مسلمان پرده واچوله همدومره ثواب الله پاک ده له ورکوي لاکن که په یوه اسلامي محکمه کې جرم ښکاره شو نو بیا دهغې دپټولو ګنجایش نشته او په هغې باندې به دالله قانون او حد جاري کیږي .

مشکوة شریف کې حدیث دی چې یوحد او قانون دالله پاک ژوندی شو دڅلویښت ورځو باران وریدونه ددې برکات او فایدې ډیرې دي

ماعذ ابن مالک اسلمي ﷺ چې صحابه وو هلته بوتلو او په کاڼو یې وویشتو نو دچا دخولې نه ووته چې څنګه شوی رسول علیه السلام وفرمایل مه ! قسم په الله چې دده توبه داسې قبوله شوه که دا توبه په ټولو مدینې والاو تقسیم شي ټول به الله پاک معاف کړي

دوهمه واقعه :

فَجَاءَتِ الْغَامِدِيَّةُ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي قَدْ زَنَيْتُ فَطَهِّرْنِي، وَإِنَّهُ رَدَّهَا، فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، لِمَ تَرُدُّنِي؟ لَعَلَّكَ أَنْ تَرُدَّنِي كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزًا، فَوَاللهِ إِنِّي لَحُبْلَى، قَالَ: «إِمَّا لَا فَاذْهَبِي حَتَّى تَلِدِي» ، فَلَمَّا وَلَدَتْ أَتَتْهُ بِالصَّبِيِّ

فِي خِرْقَةٍ، قَالَتْ: هَذَا قَدْ وَلَدْتُهُ، قَالَ: «اذْهَبِي فَأَرْضِعِيهِ حَتَّى تَفْطِمِيهِ» ، فَلَمَّا فَطَمَتْهُ أَتَتْهُ بِالصَّبِيِّ فِي يَدِهِ كِسْرَةُ خُبْزٍ، فَقَالَتْ: هَذَا يَا نَبِيَّ اللهِ قَدْ فَطَمْتُهُ، وَقَدْ أَكَلَ الطَّعَامَ، فَدَفَعَ الصَّبِيَّ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَحُفِرَ لَهَا إِلَى صَدْرِهَا، وَأَمَرَ النَّاسَ فَرَجَمُوهَا، فَيُقْبِلُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ بِحَجَرٍ، فَرَمَى رَأْسَهَا فَتَنَضَّحَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِ خَالِدٍ فَسَبَّهَا، فَسَمِعَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبَّهُ إِيَّاهَا، فَقَالَ: «مَهْلًا يَا خَالِدُ، فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ» ، ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَصَلَّى عَلَيْهَا، وَدُفِنَتْ

بله ورځې یوه ښځه راغله غامدیه قبیلې نه وه هغې وې یا رسول الله طهرني هغې نه زنا شوې وه وایي یا رسول الله ما پاکه کړه نبي علیه السلام ترې مخ واړولو څه یې ونه ویل ، دماعذ ابن مالک قصه خو په مدینه کې مشهوره وه دغې ښځې خپل ایمان او یقین جوړکړی وه او د ایمان او یقین جوړیدو لپاره یې محنت کړی وو دا ښځه ور ته وایي (يَا رَسُولَ اللهِ، لِمَ تَرُدُّنِي؟ لَعَلَّكَ أَنْ تَرُدَّنِي كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزًا، ) دارنګې ما واپس کوې لکه هغه ورځ دی چې ماعذ ابن مالک واپس کولو ما هم داسې واپس کوې رسول علیه السلام ورته فرمایي څه شي کې دې پاکه کړمه وایي مانه زنا شوې ده او اوس مې په خیټه باندې بچی هم دی رسول علیه السلام ورته وفرمایل چې اوس خو نه کیږي ځکه ستا په خیټه بچی دی او دا خو هغه ژوندې ساه ده بیاخو هغه مړ کیږي او هغه خو ګنهګار نه دی بلکه ته ګنهګاره یې لهذا اوس لاړه شه چې کله هغه وزیږیدوبیا راشه سنګساره به دې کړو هغه ښځه لاړه او ډیره خفه او پریشانه وه که په دغه حالاتو کې راله مرګ راشي او زه له دونیا نه په دغه حالت کې لاړه شم نو دا جرم به ځما سره په غاړه کې وي چې کله یې وضع دحمل وشو یعنې بچی پیدا شو فوراً بیا راغله وایي دادی رسول الله ځما وضع دحمل وشوه بچې پیدا شو نبي علیه السلام ورته وویل چې اوس نو دا ماشوم وړوکې بچې دی دا تی خورې تر هغه پورې چې د ډوډې دخوراک شوی نه وي هغې پورې به ته دا ساتې هغه بیا خفه لاړه چې ځما کار بیا ونه شو ، وروته دوستانو چې کله ماشوم دډوډۍ دخوړلو جوړ شو دنبي علیه السلام دقائع کولو لپاره یې ماشوم ته په لاس کې ډوډۍ ورکړې او په غیږ کې یې رانیولی وو وی ویل دالله نبي نور مهلت مه راکوه ما پاکه کړه رسول علیه السلام صحابه وو ته وویل چې دا ماشوم ترې واخلې او ورشې دا سنګسار کړې هغوی دا سنګسارکړه خالد

ابن وليد ﷺ په صحابه كرامو كې هم ډير شجاع او په كفركې هم ډير بهادر اوشجاع وه دكومې تيگې دلگيدو له وجه دهغې دبدن نه دوينو يوه داره راووتله او دده په جامو پريوته خالد ﷺ بدې ردې وويلې رسول عليه السلام وفرمايل مه خالده ددى په حقله څه مه وايه قسم په الله چې ددى توبه الله پاک داسى قبوله كړه كه ددى ښځې دتوبې نه صاحب مكس له هم برخه وركړل شي هغه صاحب مكس به هم الله پاک وبخښي صاحب مكس څوک دى هغه سړى چې بيت المال خوري ددى نه لويه گناه نشته چې سړى دمسلمانانواجتماعي مال خوري **("لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يومَ الْقِيَامَةِ [يُعْرَفُ بِهِ"** هر غادر او خاين لپاره به دقيامت په ورځ باندې يو بيرغ وي چې دا به په هغې باندې پيژندل كيږي ،

اجتماعي مال دمدرسې دى ودې خوړو، اجتماعي مال ددين دمركز دى ودې خوړو ، اجتماعي مال دكلي او قوم دى ودې خوړواجتماعي مال او بيت المال دملک دى ودې خوړو صاحب مكس دې ته ويلى شي چې دا سړى داسلامي حكومت لخوا نه عشراوذكات راټولوي دى دهغه مال نه څه غلا وكړي

الله پاک څه ښكلى دين راكړى داما‌ل بيرته په خلكو فقرانو اومسكينانو باندې تقسيميږي او دا سړى ددې نه هم غلا كوي دهغه مال نه چې دمالدارو نه رااخستل كيږاو په فقيرانو تقسيميږي ددې نه هم خوراک كوي دې ته صاحب مكس وايي نورسول عليه السلام فرايي ددى توبه داسي الله پاک قبوله كړه كه صاحب مكس ته برخه وركړل شوه دابه هم الله پاک معاف كړي .

قدرمنو ورونو ! تبليغ كې ددې خبرې خواري او محنت دى چې ايمان ترهغې پورې زده كول دي ، زده كول دي تر دې پورې چې څومره دغير يقين دى دا دزړگې نه ووځي جنت او جهنم مخې ته راشي عذاب او ثواب دمسلمان مخې ته را شي بيا به څوک منكر او ناروا كارونه نه كوي دټولو منكراتو او مفاسدو بنياد هغه فاسد اوغلط يقين دى ، غلا ولې كيږي يقين فاسد دى غلا كې روزي نشته دا وهمې سبب دى سود وهم دى رشوت حاصلول دا وهم دى رشوت خوړل دا وهم دى ټگي او دوكه دا وهم دى په غلطه طريقه مال گټل داوهم دى داولې كوي ؟ دغلط يقين له وجه نه ، بخل خلک ولې كوي ؟ غل غدو ټگي برگي دا خلک ولې كوي ؟ دا دبخيلتوب له وجه نه يې كوي چې مؤمن مسلمان بنده بخل كوي مال نه خرچ كوي ذكوة

نه ورکوي  دفقیرانو او غریبانو خیال نه ساتي دده دبخیلتوب له وجه نه  دا فساد جوړ شو چې خلک دوکې کوي خلک تېکي کوي خلک غلاګانې کوي خلک په حرامو کې واقع شوه او دابخیل بخل ولې کوي دغلط یقین له وجه چې الله پاک  راته مال راکړی سبابه یې راته  نه راکوي ، دیو بزرګ متعلق راغلي چې څه به ورته راغله خرچ کول به یې چا ورته ووی تول خرچ کوې لږ خو پریږده وایي په موجود شي باندې بخل کول دا په معبود باندې بد ګماني ده نن الله راکړه ولې سبایې نه راکوي؟

بلال ﷺ مخکې څه پراته وه نبي علیه السلام ورته ووی دا څه دي بلاله ( شئٌ اتخرته لغدٍ یا رسول الله ) دا یو څه شئ دی دسبا ورځې لپاره مې ذخیره او ساتلې دی رسول علیه السلام ورته وفرمایل («أَنْفِقْ يَا بِلَالُ، وَلَا تَخْشَ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلَالًا» بلال خرچ یې کړه دعرش دمالک نه دفقیرې او غریبې مه ویریږه ،

ها أَنْتُمْ هؤُلاءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنْكُمْ مَنْ يَبْخَلُ وَمَنْ يَبْخَلْ فَإِنَّما يَبْخَلُ عَنْ نَفْسِهِ وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنْتُمُ الْفُقَراءُ) خبر دار تاسو داسې خلک یې چې تاسو له دعوت درکړل شي چې مال ولګوی دالله په لاره کې نوبعضې ستاسو نه داسې څوک دي چې دوی بخیلتوب کوي او چاچې بخل وکه ضرر او اوبال یې په همده باندې دی او الله له حاجته غني دی او تاسو محتاج یې

نوزما عزتمندو ورونو ! کلمه د  لااله الاالله دا یقین غواړي چې دهر مسلمان دزړه نه دغیر یقین اوتأثر ووځي او دالله دذات او صفاتو یقین راشي اوهر مسلمان ته دا ښکاره شي چې محمدالرسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې ددونیا او اخرت کامیابي ده او خلاف سنتو کې کامیابي نشته  دسنتو خلاف عمل رواج دی او رواج کې کامیابي نشته رواج دخواهش نه پیدا کیږي خواهش ضلالت او ګمراهي ده او رسول علیه السلام فرمایي : ("لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ" هغې پورې یوسړی کامل ایمان والا نشي جوړیدای تر دې پورې چې خپل خواهش دهغې دین چې ما راوړی تابع نکړي

(قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ) ، زما پیغمبره ورته ووایه که دالله سره مینه کوی نو زما تابع شي الله به تاسو سره مینه وکړي الله به ستاسو ګناهونه معاف کړي او الله ښبنونکی او ډیر مهربانه دی

(فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ) الله پاک فرمايي ودې ويرېږي هغه کسان چې دوی دخپل پيغمبر دامر او طريقې اوسنتوڅخه خلاف کوي ده له به عذاب دردناک ورسيږی يا به دا په فتنه کې واقع شي

(وَما آتاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَما نَهاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا) دالله رسول چې تاسو له څه درکوي هغه کوې هغه واخلې او دالله نبي چې دڅه شي نه تاسو منع کوې له هغې نه منع شي

وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَداءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولئِكَ رَفِيقاً) چاچې دالله او دهغه درسول تابعدارې وکړه دابه دهغو خلکو سره په جنت کې وي چا باندې چې الله پاک انعام کړی دی يعنې پيغمبران ،صديقين،شهداء اوصالحينو سره

زما ورونودوستانو ! لااله الاالله څه معنى هغه دا چې زمونږ اوستاسو يقين بدل شي محمد الرسول الله څه معنى چې زمونږ او ستاسو طريقه بدله شي رسمونه رواجونه دالله دنبي دسنتونو نه قربان کړو قسم په الله په سنتو کې خير دی په دې کې کاميابي ده

دسنتو په عملي کولو کې مه له چا ويرېږې او مه له چا شرميږې او مه دچا يکې خيال ساتی معاويه ﷺ عابشې رضی الله عنها ته خط وليکه چې ماته څه وصيت وکړه او مختصر يې راته وکه ام المؤمنين عائشې رضی الله عنها ورته وليکل («من التمس رضاء الله بسخط الناس، كفاه الله مؤنة الناس، ومن التمس رضاء الناس بسخط الله، وكله الله إلى الناس» چاچې دالله رضا طلب کړله په مقابله دخفګان دخلکو کې خير دی که خلک خفه کيږي او نارضا کيږي خو چې الله رانه راضي وي اوخوشحاله وي دخلکو دمشقتونو او تکليفونو نه به يې الله پاک وساتي (ومن التمس رضاء الناس بسخط الله، وكله الله إلى الناس) چاچې دمخلوق رضا طلب کړله او الله يې خفه کړلو الله پاک به يې خلکو ته حواله کړي دا زړونه خو دالله پاک پلاس کې دي يوسړی سنت قربانوي دخلکو او قوم له وجه دود، دستور، رسم او رواج باندې چليږي او وايي چې خلک خوشحاله شي رسم او رواج دی وکړو او دسنتو خلاف عمل دې وکړو خو ګوره ددې خلکو زړونه دالله پاک په لاس کې دي دا خلک به درنه چيرته هم راضي نه شي او که چيرته دسنتو خيال دې وساتلو ظاهراً خو به درڅخه لږ خلک پريشانه شي خودا ياد لرې زړونه

دالله پاک په لاس کې دي سبا به داخلک درسره مینه کوي یو حدیث کې راغلي دي چې څوک دسنتو او رسول علیه السلام سره مینه کوي او په سنتو باندې چلیږي نیکانو خلکو په زړونو کې الله پاک دده مینه اچوي او بله واوری دبدانو په زړونو کې ددی متبع سنت رعب او ویره اچوي .
زما ورونو غم اوښادي خوړل او څکل معاشره او معامله اخلاق او عبادات جامې اغوستل او ایستل په لاره تلل او راتلل کور ته ننوتل او وتل دجامعې چې څومره کارونه دي داسې یو عمل نشته چې هغې کې دنبي علیه السلام طریقه نه وي دخپل نبي سنت په کې عملي کړو په دې کې امن پروت دی
زما ورونو دوستانو ! حدیث کې را غلي دي امن په څو خبرو کې دی (مَنِ ابْتُلِيَ فَصَبَرَ، وَأُعْطِيَ فَشَكَرَ، وَظُلِمَ فَغَفَرَ وَظَلَمَ فَاسْتَغْفَرَ، ثُمَّ سَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نبي علیه السلام څلور خبرې وکړې چاله چې نعمت ورکړی شو دالله شکریه یې اداء کړه او چاباندې چې ابتلا او مصیبت راغی او په دی باندې یې صبر وکړو او په چاباندې یې ظلم وکړو دالله نه یې بخښنه وغوښته او چا پرې ظلم وکړو مظلوم شو درګذر او عفوه یې وکړه شکر صبر استغفار او څلورم عفوه او درګذري دا څلور کارونه چې چا وکړه نبي علیه السلام نتیجه ونه ویله چپ شو چا عرض وکړ یا رسول الله مَا لَهُ؟ دالله نبي ددې کس لپاره څه دي رسول علیه السلام وفرمایل (فَقِيلَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا لَهُ؟ قَالَ: أُولَئِكَ لَهُمُ الأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ.) چاکې چې دا څلور صفتونه راغلل دوی لپاره امن دی او دوی په هدایت باندې دي ، دا یوه خبره دوهمه خبره «الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ » هغو خلکو چې ایمان یې راوړو او ایمانٌ یې دشرک سره ګډ نه کړو دې خلکو لپاره امن دی او دوی په هدایت دي کافرانو مشرکینو به نبي علیه السلام ته ویل چې راوله په مونږ باندې دالله عذاب هغه عذاب چې ته مونږ دکوم نه ویروي هغه عذاب راوله لاس دې خلاص چلینج ورکړو الله پاک څه ورته وویل (وَما كانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَما كانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ) نه دی الله چې دوی له عذاب ورکړي حال داچې ته ورکې موجود وې اونه دی د الله پیغمبره چې دوی له الله عذاب ورکړي اودوی په اخره شپه کې دالله نه استغفار غواړي هر وخت کې دالله نه استغفار غواړی خو اخره شپه کې ډیر غواړی

زما ورونو محترمو ! قاضي عياض رحمة الله عليه په شفانومي كتاب كې ليكلي لكه څنګه چې دنبي پاک عليه السلام ذات ګرامي دا امن وو او دده په موجود ګی کې دالله پاک قانون داوه چې زه به عذاب نه رالیږمه نوقاضي رحمة الله عليه ليكلي دي چې دنبي عليه السلام په سنتو كې هم امن دی څوک چې نبي عليه السلام په سنتو باندې چلیږي دې قوم له الله امن وركوي او مونږ دافغانستان مسلمانان خو دتولو نه لويه پريشاني او بدبختي كې پراته يو چې ددی ملک مسلمانان هره ورځ ورسره مخ دي هغه بدا مني ده اوس دا بدامني چا په زور غوښتل چې لرې يې كړي قادر نه شوه كه چا په وسلو لرې كول غوښتل قادر نه شول كه چا په پيسو لرې كول غوښتل قادر نه شول دليل ته ضرورت نشته دمشاهدې خبره ده دا امن به الله پاک په دين راولي او په اعمالو ددين به يې راولي دنعمت په شكر دمصيبت په صبر په ګناه استغفار او دارنګه په عفوه او درګذرۍ د توحيد په عقيده دسنتو په عمل الله پاک به په دی ملک كې امن راولي لږ يې درسره په نظر كې ونيسۍ اوحجت هم نور تمام دی الحمدلله اهل حق علماء درس او تدريس كوي دعوت كوي دازمونږ ددعوت برخه ده حق دين يې خلكو ته بيان كړو او حجت پرې تمام شو دا ياد لرې مخكې دحجت دتماميدو نه په ناخبرو قومونوعذاب نه رالیږي **{وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً}** مونږ چاله عذاب نه وركوو چې پيغمبر مونه وي رالیږلی او چې كله زما محترمو قوم خبر شي چې دا حق دی دا باطل دا حلال دی دا حرام دا سنت دی دا رواج او دهغی نه وروسته يو سړی قصداً ضداً عناداً خلاف دسنتو يو عمل كوي دا قوم څنګه امن غواړي او څنګه يې تصور كولی شي الله پاک دی مونږ تاسو دسنتو تابعدار كړي .

نوزما دوستانو كلمه د **لااله الاالله محمدالرسول الله** مونږ نه ديقين تبديلي غواړي او دارنګه دطريقې تبديلي غواړي

دوهم صفت هغه پنځه وخته په پابندی او اهتمام سره لمونځ دی ما تاسوته ويلي وه چې زمونږ دين دصفاتو دين دی اول كلمه ده دوهم لمونځ دی او لمونځ دايمان نه وروسته دوهمه درجه ده رسول عليه السلام فرمايي دلمانځه په حقله دالله نه وويريږي دكافر او مسلمان په منځ كې فرق هغه لمونځ دی دمشرک او مسلمان په منځ كې فرق هغه لمونځ دی

زما محترمو ورونو رسول علیه السلام فرمایي چې الله پاک فرمایي ځوک پنځه وخته په اهتمام پاېندی او باجماعته لمونځ کوي زه یې ضامن یمه چې جنت کې به یې داخلوم ، تاسو ګورئ زمونږ دچا سره څه قضیه راشي اوسېږی راسره غدر او ټګي کوي تر هغې مونږ نه مطمئن کیږو چې تر څو یې راته ضمانت نه وي راکړې او کله یې چې ضمانت راکړي نوبیا وایو اوس مې معامله نقده شوه مثلاً احمد ټګي کوله محمودمې ترې ضمانت واخسته اوس که هغه یې نه راکوي نو دده نه یې غواړم او الله پاک څه وایي چې ځوک په پابندې سره پنځه وخته لمونځ کوي زه یې ضامن یمه او جنت کې به یې داخلوم او چې ځوک پنځه وخته په پابندې او اهتمام لمونځ نه کوي ما باندې وعده او زمداري نشته دی چې زه به یې جنت ته داخلوم خوښه مې ده که جنت کې یې داخلوم او که عذاب ورله ورکوم .
ځوک چې پنځه وخته پابندې او اهتمام سره لمونځ کوي دا لمونځ ده دپاره په ورځ دقیامت رڼا وي ده لپاره نجات وي دخلاصیدو ذریعه وي دا لمونځ دده لپاره دلیل وي او ځوک چې لمونځ نه کوي دلیل نجات او رڼا به دقیامت په ورځ دده لپاره نه وي او بلکه دده حشر به دفرعون هامان سره کیږي
کتاب الزواجر کې حافظ ابن حجر لیکلي چې دقارون سره به دده حشر کیږي نو علماء کرام وایي چې چا نه دمنصب او اقتدار په وجه لمونځ لاړلو دفرعون او هامان سره به یې حشر کیږي ځکه دا منصب داران وه او که چانه دمال او دولت دوکان او تجارت په وجه لمونځ لاړو او قضاء یې کړو نو دده حشر به قارون سره کیږي ځکه دا مالدار وو.
توبه توبه دعوه داسلام کوو په طمع دجنت یو درسول علیه السلام دشفاعت امید هم دی او په میدان محشر کې الله مکره که په لمونځ کې مداهنت او سستي کوو لمونځ بې وخته کوو لمونځ بې اهتمامه کوو لمونځ باجماعته نه کوو الله مکره الله مکره قیامت کې چرته چې فرعون راوچتیږي هلته دا مؤمن مسلمان هم راوچت شي دبې لمانځې دوجه او یا دقارون سره راوچت شي ځومره لویې خجالت او حقیقي شرمنده ګي ده الله دې مونږ تاسې وساتي ، دی وجه نه حدیث کې راغلي نبي کریم علیه السلام فرمایي **(مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ وَهُوَ يَقْدِرُ لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ)** چاچې لمونځ قضاء کړ قیامت کې به الله پاک له په داسې حال کې راشي چې الله رب العزت به ورته په غصه وي ؟

زما عزتمندو ورونو لمونځ باید باجماعته وکړو او کامله اداء دلمانځه داده چې با جماعته وشي اصول فقهې والا لیکلي : قاصره اداء داده چې لمونځ ځانله وشي

حدیث کې راغلي ترمذي روایت دی («لَا صَلَاةَ لِجَارِ الْمَسْجِدِ إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ») ګاونډي دمسجدته لمونځ نشته مګر په مسجد کي نو دنن څخه فیصله وکړئ چې ان شاء الله که له دی نه مخکې راڅخه سستي او غفلت شوی خو نور به دلمانځه اهتمام کومه او دوهمه دا که لمونځ مې بغیر دجمع نه کړې دی ددې اجتماع نه بعد مې دا نیت اوپخه اراده ده چې لمونځ به باجماعته کوم .

## **دریم صفت علم او ذکر :** زما عزتمندو ورونو ! هغه ددیني علم

حاصلولو ده ( بې علم که نتوان خدا را شناخت ) بی علمه سړی نه توانیږي چې الله وپیژني علماء کرام فرامایي : څومره چې دالله پاک نعمتونه دي په هغې زوال او فنا راځي حدیث کې راغلي رسول علیه السلام فرمایي دټولو رښتنی شعر دنبي شعر دی ( الا کل شئٍ ما حل الله باطلو وکل نعیمٌ لامحالة زائلوا ) خبردار هریو شئ بغیر دالله نهٔ بیکاره دی ختمیږي او هریو نعمت چې دی دا زائله کیږي څومره نعمتونه چې دي داټول ختمیږي (كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ (26) وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ) هریو شئ چې په مخ دزمکه باندې دی دا ختمیږي یو دالله ذات به پاته وي

زما ورونو دوستانو! دوه نعمتونه داسي دي چې په دی باندې زوال او پناه نه راځي دونیا کې درسره وي مرګ په وخت کې درسره وي قبر کې درسره وي دقیامت په ورځ به درسره وي جنت له به ددې نعمت سره ځي هغه یو دایمان نعمت دی او بل دعلم نعمت دی ، نبي علیه السلام ددو شیانو داضافه کیدو دعاء کوله یو چې شده به یې وځکلې ( الهم بارک لنا فیه وزدنا منه ) ای الله ماله په دي کې برکت واچوه او نور هم راله زیات کړه اوبل ورته الله پاک څه وایي (وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْماً) ای زما ربه علم ماله زیات راکړه علم مې زیات کړه عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه به دعاء کوله ( الهم زدنا ایماناً ویقیناً وفقهه ) ای الله ایمان مې زیات کړه یقین اوفقاهت او علم مې زیات کړه

درمنثورکي حديث دی نبي عليه السلام به دا دعاء کوله (اللَّهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي، وَعَلِّمْنِي ما ينفعني، وزدني علما،) ای الله ماته نفع راکه چې کوم تا ما ته ښودلی دی او هغه علم ماته نصيب کړه چې ماته نفع او فايده رسوي اوزما علم زيات کړه

زماعزتمندو ورونو علم ډيره لويه سرمايه ده قرأن کې الله پاک فرمايي (يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجاتٍ ) الله پاک اوچتوي خاص کړ

هغه کسان چې علم يې ورله ورکړی دی په ډيرو درجو {ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا » مونږ ميراث کې ورکړی وو کتاب هغو کسانو ته چې مونږ غوره کړي وه دخپلو بنده ګانو نه هغه خلک چې الله ورته علم دکتاب ورکړی الله پاک فرمايي دا ما غوره کړي دي

علي کرم الله وجه فرمايي ( رضينا قسمت الجبار فينا ـ لنا علمنا وللجهال ماله ) مونږ دالله په تقسيم راضي يو مونږ له الله علم راکړي اوناخبره خلکو ته الله مال ورکړی

شافعي رحمةالله عليه به فرمايل (فان العلم نور من الهي ونور الله لا يوصل الى العاصي ) علم دالله رڼا ده خو ماګنهګار له الله علم نه راکوي

(ليس اليتيم قد مات والده بل اليتيم يتيم العلم والادب ) يتيم هغه نه دی چې پلار يې مړ وي يتيم هغه دی چې علم ورکې نه وي او دادب نه محروم وي

عبدالله ابن مبارک رحمة الله عليه به فرمايل : ما لس کاله کې علم زده که او شل کاله کې ماادب زده کړو

زما محترمو ورونو علم ډيره لويه سرمايه ده پخپله ددين علم حاصل کړو بچو باندې هم علم دين حاصل کړوچې دقيامت په ورځ دا بچي زما او ستا لپاره شفيع جوړ شي قيامت په ورځ څنګه چې شهيد شفاعت کوي عالم هم شفاعت کوي حافظ دقرأن هم شفاعت کوي دچا ماشوم بچی مړ شي هغه هم شفاعت کوي روژه هم شفاعت کوي قرأن چا زده کړې او عمل يې پرې کړی هغه هم شفاعت کوي الْقُرْآنُ شَافِعٌ مُشَفَّعٌ وما حل مُصَدَّقٌ وَمَنْ جَعَلَهُ أَمَامَهُ قَادَهُ إِلَى الْجَنَّةِ وَمَنْ جَعَلَهُ خَلْفَهُ سَاقَهُ إِلَى النَّارِ. ) قرأن شافع کتاب دی شفاعت يې قبول دی جګړه کونکی دی جګړه يې منظوره ده چاچې خپلې مخې ته کيښودو جنت ته به يې بوځي چاچې شاته وغورځاوه ايمان پرې نه

راوړي عمل ورباندې نه کوي زده کوي يې نه دعوت او اشاعت يې نه کوي دا دقرآن حقونه دي دا قرآن به يې جهنم ته بوځي

دليمي روايت دی " حَمَلَةُ الْقُرْآنِ عُرَفَاء أَهْلِ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ " عالمان دقرآن به دقيامت په ورځ باندې په جنت کې دجنتيانو مشران وي بل روايت کې دي ( حملة القرأن اولياء الله فمن والاه فقد وان الله ومن عاداه فقد عادالله ) عالمان او حافظان دقرآن اولياء الله دي چاچې دوی سره دشمني وکړه الله سره يې دشمني وکړه چاچې دوی سره دوستي وکړه الله سره يې دوستي وکړه

دې وجه نه زما محترمو ورونو ! علماء کرامو سره مينه محبت ساتې ددوی قدر او عزت کوی ددوی دحوايجو خيال ساتې ددوی تقاضې پوره کوی عبدالله ابن مبارک رحمة الله عليه په محدثينو کې ډير مالدار سړی وو هغه به دخپل مال ډيره زياته برخه په طالب العلمانو باندې خرچ کوله وايي دنبوت نه وروسته ماته دطالب العلمانو نه څوک اوچت نه ښکاري او دا ډيره اوچته طبقه مخلوق دی چې څوک علم دين حاصلوي دملائکو ملکي قوت والا وزرې هغه وزرې چې قوم لوط يې پورته کړ اوپه بل مخ يې په زمکه راوويشته تفسير جلالين ليکلي چې ددوی دسپو او چرګانو بانګونه او چغې په اسمان کې ملائکو واوريدې دملائکو هغه ملکي قوت دطالب العلم دپښو لاندې وي دومره لوړه درجه او مقام يې دی رسول عليه السلام به چې کله طالب العلمان وليده چې هغوی به حديث زده کول ورته به يې ويل (" مَرْحَبًا بِكُمْ يَنَابِيعَ الْحِكْمَةِ، وَمَصَابِيحَ الظُّلْمَةِ، خُلْقَانَ الثِّيَابِ، جُدُدَ الْقُلُوبِ، حُلْسَ الْبُيُوتِ، رَيْحَانَ كُلِّ قَبِيلَةٍ ") ستړې مه شئ دحکمت چينو په تيارو کې چراغانو زړو جامو والاوو او دنوو او تازه زړونو والاو ستړې مه شئ پخير راغلی استقبال يې ورله کاوه

«كُنْ عَالِمًا، أَوْ مُتَعَلِّمًا، أَوْ مُسْتَمِعًا، أَوْ مُحِبًّا، وَلَا تَكُنِ الْخَامِسَ فَتَهْلِكَ»يا عالم جوړ شه يا متعلم جوړ شه يا اوريدونکی جوړ شه يا مينه کونکی ورسره جوړ شه او پنځم مه جوړيږه کنه هلاک به شې تباه به شې او پنځم څوک دی چې دعلم او علماو سره زړه کې بغض او کينه ساتي دا تباه او برباداو هلاک دی يو عالم په قول چې ما داحديث اوريدلی او ليدلی دی چې څوک دعلم او علماو سره بغض او کينه ساتي دا ياد لری ورونو يو دا چې الله پاک به ظالمان پرې مسلط کړي دوهم دروزی نه به يې برکت لاړ شي دريم دا

خطره شته چې داسړی به ددونیا نه بې ایمانه  او محروم  لاړ شي چې دعلماو سره بغض ساتي
حالات الله پاک راوستي  او وجه يې څه ده دبدو او زبونو حالاتو نسبت علماو ته کوو دعلماو نه مو په زړه کې کرکه او نفرت وی داظلم دی وروڼو فتاوی محمودیه کې لیکلي (الاستخفاف للعلماء لکونهم کفرٌ والعلم صفت الله تعالی ) دعلماو پسې استهزاء  مسخرې خندا ګانې او دهغوی سپکاوی له دی وجه نه چې دا علماء ددین  دي دا کفر دی ولی علم دا دالله پاک صفت دی او الله پاک علماو ته ورکړی دی او دعلماو پورې خندا کول دا دعلم پورې خندا کول دي اودعالم پسی مسخرې کول دا دعلم پوری مسخرې دي او علم دالله پاک صفت دی او څوک چې دالله دصفت پورې مسخرې او خندا کوي دا کفر دی
 او یو بل قول يې ذکر کړی دی چې څوک دعالم سره زړه کې بغض ساتي بغیر سبب  ظاهري نه ، سبب ظاهري دادی  عالم سره يې په دوکان مسله راغله په پوله پټي دې ورسره څه خبره راغله نو دا ظاهري سبب دی نو په دې نه کافر کیږی او بل داده چې هیڅ خبره نشته او ګوري چې داداهل دینو نه دی او ستا په زړه کې دهغه نفرت او بغض دی نو په ده باندې دکفر او دایمان دزوال خطره ده چې دا سړی به کافر وي  نو زما وروڼو دوستانو علم سره علماو سره په زړه کې مینه محبت ساتي

دی سره مونږ تاسو دالله **ذکر** کوو په غفلت کې وخت مه تیروئ  الله پاک یادوئ الله پاک قرأن کې فرمايي ({وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا} هغه څوک چې زما دذکر نه اعراض کوي زه به ورله تنګ ژوند ورکړمه {وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى} او قیامت کې به يې ړوند را پاڅوم {وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمَنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَاناً فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ} هغه څوک چې غفلت کوي دذکر درحمن بادشاه نه مونږ به ده پورې  شیطان جخت ولګوو حدیث کې راغلي دي « الشَّيْطَانُ جَاثِمٌ عَلَى قَلْبِ الْإِنْسَانِ،» شیطان دانسان په زړه باندې خرطوم لګولی وي (فَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ خَنَسَ وَإِذَا غفل وسوس) کله چې دالله ذکر کوي شیطان تښتي او چې کله دی غافل شي بیا ورته په زړه کې وسوسې اچوي  لوی ذکر سبحان الله والحمد لله ولااله الاالله والله اکبر دی رسول علیه السلام فرمايي چې دټولې دونیانه چې دا لمر پرې راخیژي داکلمات ماته خوښ دي .

زما محترمو ورونو ! افضل ذکر لااله الاالله افضله دعاء الحمدلله او دتېولو نه لوی ذاکر څوک دی چې هغه دموقع محل هغه اذکار او اوراد پوره کوي مسنون اذکار باره کې بعضې کتابونه داسې دي چې په هغې کې دعاءګانې مستندې نه وي ځنې مستند کتابونه شته چې په هغې کې دعاګانې او اذکار مستند دي دعلماو سره مشوره کوی هغه اخلې دا اذکار سبا او بېګاه پوره کوی دا اذکار او اوراد پوره کول د نفس شیطان اوهر ظالم نه دالله پاک له طرفه قلعه ده حفاظت دی ، دسبا او بیګاه اذکار پوره کوی نور تفصیل نشم کولی وخت کم دی .

## څلورم صفت اکرام مسلم : هغه د مسلمان دحقوقو دی چې مونږ

تاسو دمسلمانانو حقوق تلف نکړو دهر مسلمان قدر وکړو دهر مسلمان داسلام دوجه نه دهغه عزت وکړو دمولنا الیاس رحمةالله علیه ملفوظاتو کې دي وای چې دمسلمان قدر داسلام له وجه نه کوې او دعالم قدر ددو وجهو نه کوی یو داسلام له وجه اوبل دعلم له وجه رسول علیه السلام فرمايي «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَلَمْ يُوَقِّرْ كَبِيرَنَا» هغه زما داومت نه نه دی چې دمشرانو عزت نه کوي او په کشرانو شفقت نه کوي او دعلماو کرامو قدر نکوي

قدرمنو ورونو دمسلمان په مسلمان باندې پنځه حقه دی " حَقُّ المُسْلِمِ عَلَى المُسْلِمِ خَمْسٌ: رَدُّ السَّلَامِ، وَعِيَادَةُ المَرِيضِ، وَاتِّبَاعُ الجَنَائِزِ، وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ، وَتَشْمِيتُ العَاطِسِ " سلام يې حق دی ، مریض شي پوښتنه يې حق ده ، جنازې له تلل يې حق دی دعوت يې درکړ مال يې حرام نه وه اجابت ددعوت يې حق دی او پرنجی يې وکړو جواب يې حق دی

او دمسلمان حق تلفي ونه شي هغه داده چې په لاس او ژبه باندې څوک مسلمان ته ضرر ونه ورسوي «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ» کامل مسلمان څوک دی چې دده دلاس او ژبې نه مسلمان محفوظ شي

قدرمنو ورونو ! دا کامل مسلمان دی چې دلاس او ژبې دضرر نه يې مسلمان بچ شي («مَلْعُونٌ مَنْ ضَارَّ مُؤْمِنًا أَوْ مَكَرَ بِهِ» هغه سړی لعنتي دی چې کوم دمسلمان په خلاف پرګرام جوړوي ،مکر او منصوبه جوړوي نقشه ورته جوړوي چې څرنګه زه دی ذلیل کړمه دده دعزت تلفي څنګه وشي داسړی ملعون دی دا دالله درحمت نه لرې دی ، نبي علیه السلام داسې

دکعبې کوټې ته وکتل او وې ویل حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِالْكَعْبَةِ، وَيَقُولُ: «مَا أَطْيَبَكِ وَأَطْيَبَ رِيحَكِ، مَا أَعْظَمَكِ وَأَعْظَمَ حُرْمَتَكِ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَحُرْمَةُ الْمُؤْمِنِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ حُرْمَةً مِنْكِ، مَالِهِ، وَدَمِهِ، وَأَنْ نَظُنَّ بِهِ إِلَّا خَيْرًا»

ای کعبې الله څومره ښایسته کړې یې څومره ښایسته خوشبوی یې درکړې او الله څومره عزت درکړی دی خومؤمن مسلمان دالله په وړاندې ستانه دعزت په لحاظ او دمقام او مرتبې په لحاظ ای دکعبې کوټې ستا نه ډیر اوچت دی

سوال دادی من حیث مسلمان چې څوک دکعبې کوټې غیبت کوي برداشت به یې کړای شو؟ او چې څوک ورته کنځل کوي ایا دا برداشت کولای شو؟ او که څوک یې ورانوي دا برداشت کولای شو ؟

ولې دمسلمان عزت په دی خپله ژبه اخلو دمسلمان غیبت کوو خو دا برداشت کولی شو ، ورونو دا څومره دافسوس او تعجب خبره ده .

دمؤمنانو مور عائشه رضی الله عنها نبي علیه السلام ته وایي دالله رسوله صفیه تالره کافي ده لنډۍ پستۍ مستۍ ده هغه ونیوله او ورته یې وویل عائشې داسې خبره دی دخولې نه ووتله چې که په خواږه سمندر باندې یې ګډه کړې تریخ به شي تا خو ډیره لویه خبره وکړه

غیبت وایي دی ته چې یو عیب په مسلمان کې وي او ته هغه ته ووایي هغه پرې خفه شي که مخامخ ورته ووایي او یا پشې شاه یې یاده کړې هغه پرې خفه کیږي او چې ورکې نه وو دا خو بهتان دی او بهتان دغیبت نه غټه ګناه ده نن دمسلمان غیبت کیږي یو یې کوي بل یې اوري

یو سړی ویل چې مجلس کې غیبت نه وي مجلس خوند نه کوي چې کله په مجلس کې دمسلمان غیبت واچوې نوخوند پیداکړي داخو دګناه دپاسه بله ګناه شوه یو خوغیبت ګناه شوه بل چې ترې خوند اخلې دابله ګناه شوه بلکه چې ګناه سړي ته ګناه نه ښکاري دابیابله ګناه شوه

چې دایمان خطره هم ورکې ده نودې وجه نه مونږ کوشش وکړو چې مسلمان دخپلې ژبې دضرر نه وساتو

مسلمان ته دګناه له وجه کم ونه ګورو امام غزالي رحمة الله علیه فرمایي که هغه له الله پاک دخالصې توبې توفیق ورکړو نو لوې ولي الله به ترې جوړ شي لکه عمر رضی الله عنه دنبي علیه السلام دقتل پسې توره

راخستيِ وه اوبيا  تاسو وگورئ په ټولو مسلمانانوکي دوهم نمبر مسلمان راغی

مالک ابن دینار رحمة الله عليه شراب خور وو ليکن دوخت اوزمانې څومره لويې سړی ترې جوړ شو.

فضيل ابن عياض غل وو په پرديو کورونو به وراوښتو  يوه ښځه يي دشپې په يوه کور کې په تلاوت وليده دهغې دتلاوت په وجه الله پاک ده ته هدايت وکه څومره دوخت او زمانې لوي سړی ترې جوړ شو دهغه اقوال په تفاسيروکې راځي نو مسلمان ته دګناه له وجه نه  سپک کتل نه دي پکار ، بلکه داچې مسلمان دګناه له وجه شيطن ته پريښودل نه دي پکار مسلمان ګناه کوي او ته يې خيال نه ساتې

عمر رضي ا لله عنه يو شرابي ته خط وليکه اوخط کې يې ورته  دا ايات وليکل (حم (1) تَنْزِيلُ الْكِتابِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ (2) غافِرِ الذَّنْبِ وَقابِلِ التَّوْبِ شَدِيدِ الْعِقابِ ذِي الطَّوْلِ لا إِلهَ إِلاَّ هُوَ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ » دې ايت کې دالله عزمت دی  هغه شرابي چې وليده په ژړا شو توبه يې له شرابو ويسته عمر رضی الله عنه وفرمايل چې يو مسلمان ګناه کوي نو تاسو دشيطان معاونين دهغه په هکله مه جوړيږی مسلمان دی په ګناه باندې وليده او ته هغه نه منع کوې  نو دا خو ته دشيطان سره مدد او معاونت کوې

**پنځم صفت اخلاص :** زماورونو دوستانو ! هر عمل په دې جذبه کوو چې زما نه الله پاک راضي شي  ريا او نمايش څخه ځان وساتو ريا ډيربد عمل دی وړوکې شرک دی شرک دوه قسمه دی يو وړوکی دوهم غټ شرک نو ريا وړوکې شرک دی ريا نمايش دی لمونځ په ريا روژه په ريا حج په ريا تلاوت په ريا نوافل په ريا صدقه او خيرات په ريا  ، حديث کې راغلي رسول عليه السلام فرمايي اوه کسان به دعرش دسيوري لاندې وي يو پکې هغه مسلمان دی چې صدقه په ښي لاس ورکړي چپ لاس پرې خبر نشي او چې په چپ لاس يې ورکړي ښی لاس يې پرې خبر نشي مقصد داچې هيڅوک پرې خبر نشي

زين العابدين رحمة الله عليه داسې هستي تير ه شوې چې دمرګ نه وروسته معلومات وشو چې سل کورنی الله پاک دده په صدقاتو باندې پاللې چې کله

دی وفات شو هغه شی به نه راته پېته پېته به يې صدقات کول هيڅا ته پته نه لګيده

« إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ، وَلَا إِلَى أَمْوَالِكُمْ، وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ » الله پاک ستاسو شکلونو ته نه ګوري ستاسو مالونو ته نه ګوري چې ته ښايسته يې که بدرنګه يې ته مالدار يې که فقير يې لاکن الله جل جلاله ستاسو زړونو ته ګوري او ستاسوعملونو ته ګورى چې ستا په زړه کې دې نيت او جذبه څنګه ده چې کوم يو نيک عمل ددين کوې ايا ستا په زړه کې دا جذبه شته چې په دې رانه الله پاک راضي شي

اخلاص والا دهدايت چراغان دي ددوى په وجه الله پاک د اُمت نه شرونه او فتنې لرې کوي

**شپږم صفت دعوت او تبليغ:** دعوت او تبليغ زمونږ اوستاسو ددې

اومت قومي نشان دى دا فرض منصبي دى الله پاک قرأن کې فرمايي ({كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ} تاسو دالله پاک په علم کې خير اُمت يې او الله پاک دخلکو لپاره راويستلې يې چې امر بالمعروف به کوى اونهې عن المنکر به کوې او ايمان به په الله باندې لرئ

عمر رضی الله عنه به فرمايل (من سره أَن يكون من تِلْكَ الْأمة فليؤد شَرط الله ) څوک چې خپل زړه په دې خبره باندې خوشحالول غواړي چې زه دې خير امت کې راشمه نو دادې دالله شرط اداء کړي ، دالله شرط امر بالمعروف او نهي عن المنکر دى {ولتكن مِنْكُم أمة يدعونَ إِلَى الْخَيْر ويأمرون بِالْمَعْرُوفِ وَينْهَوْنَ عَن الْمُنكر} تاسو داسې امت جوړ شې علماء وايي دا من بياني دى اوبعضي علماء وايي دا من تبعيضي دى لاکن اکثره علماء وايي دامن بيانی دى دليل وربانده‌ې دا ايت دى ({قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي} تاسو داسې يو امت جوړ شې چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوې او الله پاک فرمايي دادله کاميابه ده

حافظ ابن كثير رحمة الله عليه ليکلي دي ( وَإِن كَانَ ذَلِك وَاجِبا على كل فَرد من الْأمة بِحَسبِهِ ) اګرکه دعوت او تبليغ امر بالمعروف او نهي عن المنکر په فرد فرد ددې امت واجب دى محدثين فرض او واجب يو شى ګڼې نو دا په دى امت باندې فرض منصبي او واجب دى او ({قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى

اللَّهِ) زما پيغمبره ورته ووايه زما لاره همدغه لاره ده او ګورئ ورونو په دې ايت کې حصر او مبالغه ده علماء كرام پرې پوهيږي هذه مبتدا معرفه ده ځکه اسم اشاره قسم دمعرفي دى او سبيلي اضافت سره معرفه ده مبتدا اوخبر چې کله معرفه شي هغې کې حصر وي څه معنا زما لاره همدغه لاره ده بله نه ده چې زه الله طرف ته خلک رابلم بصيرت پوهې يقين سره زما او زما دتابعدارو کاردى چاچې دا کلمه ويلي وي چې لااله الاالله محمدالرسول الله ، او الله پاک فرمايي {وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحاً وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ} دهغه نه ښايسته خبره دچا کيدى شي چې څوک الله طرف ته رابلي او نيک عمل کوي غرور او تکبر نه کوي اوکوم استعداد چې الله پاک دقربانۍ ورکړى په هغې عجب او لوي نه کوي بلکه خپل ځان دعامو مسلمانانو غوندې ګڼي او خلک الله طرف ته را بلي .

حسن بصري صاحب به دداعي سړي په حقله ويل ("هَذَا حَبِيبُ اللَّهِ، هَذَا وَلِيُّ اللَّهِ، هَذَا صَفْوَةُ اللَّهِ، هَذَا خِيرَةُ اللَّهِ، هَذَا وَاللَّهِ أَحَبُّ أَهْلِ الْأَرْضِ إِلَى اللَّهِ، هذا خليفة الله" څوک چې دالله دين ته خلک رابلي دا دالله دوست دى او دا دالله محبوب دى دا دالله غوره بنده دى دا دزمکې په مخلوق کې الله ته خوښ بنده دى او دا په زمکه کې دالله ددين نماينده او سفير دى څومره غټ او لوى مقام ددعوت دفضيلت لپاره ټاکلى دى

همدا کافي ده چې دا دټولو انبياؤ پيغمبرانو کار دى او دا دامام الانبياء کار دى دا دختم نبوت صدقه ده او الله پاک په دې امت ويشلي ده او چې څوک کلمه وايي او مسلمان وي دا به ددعوت محنت کوي

دا خو هغه مثبت اړخونه وه چې څوک ددعوت کارکوي او چې څوک ددعوت کارنه کوي هغه منفي حديثونه چې ما په خطبه کې ويلى وه دا وايمه او بس دى

رسول الله عليه السلام فرمايي ((والذي نفسي بيده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر، أو ليوشكن الله أن يبعث عليكم عقاباً منه فتدعونه فلا يستجيب لكم)) حذيفه رضى الله عنه نه روايت دى قسم مې دې وي په هغه ذات چې زما ساه يې په لاس کې ده چې خامخا امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوى او كه يې نكوى الله نه به دعاء غواړې قبليږي به نه ددعاء دنه قبليدو ډيراسباب دي څوک قطع رحمي کوي دعاء يې نه قبليږي حرام خوري دعاء يې نه قبليږي دظالم دعاء نه قبليږي بعضي وايي څوک چې

غيبت كوي دعاء يې نه قبليږي اوچې ځوک ددعوت او تبليغ محنت نه كوي دعايې نه قبليږي داموږ چې دعاګاني غواړواو قبليږي نه علت يې همدا دی

(أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: مُرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ، مِنْ قَبْلِ أَنْ تَدْعُونِي فَلا أُجِيبُكُمْ، وَتَسْأَلُونِي فَلا أُعْطِيكُمْ، وَتَسْتَنْصِرُونِي فَلا أَنْصُرُكُمْ "

الله پاک فرمايي حديث قدسي دی ای خلكو امر بالمعروف كوی او نهی عن المنكر كوی مخكې له دی نه چې بيا به زما نه دعاء غواړې زه به يې نه قبلومه سوالونه به كوی زه به يې نه درپوره كومه حاجت به غواړې حاجت به مو نه پوره كومه دا اوس اوس دالله او ددين او مؤمنانو ددوشمن په خلاف دهر مسلمان ،مؤمن كلمه ويونكي لاسونه اوچت دي او كوم مؤمن او مسلمان به وي چې دالله دوشمن يې خوښ وي ليكن بالمشاهده ددوشمن په خلاف دعامه مؤمنانو دعاء الله پاک نه قبلوي او دوشمنانو اوكفر ته يې حواله كړي دا ولې؟

موږ اوتاسو چې دكوم منصب او كار لپاره الله پاک پيدا كړې وو هغه كار راځخه پاته دی او همدې صحابي حذيفه رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول عليه السلام وفرمايل زما دې په هغه ذات قسم وي چې تر هغې پورې قيامت نه شي قايميدی چې تر ځوپورې داسې وخت رانه شي چې تاسو پخپل منځ كې يو بل قتل نكړې او خپل امام به قتل كړې دا كه امامت كبری وي او كه امامت صغری اوتاسو به پخپل منځ كې په تورو سره ووهې او ستاسومال او دولت به شريرانو خلكو له پلاس ورشي

دا دواړه حديثونه امام ترمذي په باب امر بالمعروف اونهي عن المنكر كې راوړي دي خوپه دی اول كې دامر بالمعروف خبره شته ليكن په دی دوهم حديث كې دامر بالمعروف خبره نشته خليل احمد سهارنفوري رحمة الله عليه فرمايلي دي چې امام ترمذي دا حديث به باب دامربالمعروف كې راوړی دی ددی مطلب دادی چې كله مسلمانان دامر بالمعروف او نهی عن المنكر كار پريږدی دا درې نقصانه به كيږي «لا تقوم الساعة حتى تقتلوا إمامكم، وتجتلدوا بأسيافكم، ويرث دنياكم شراركم» يو به امام بې حيثيته شي او دا به قتلوي او دوهمه داده چې مسلمانان به خپل منځ كې يو بل په تورو سره وهي او دريمه داده چې مال او دولت به دبدانو خلكو لاس ته راشي

ای دافغانستان مسلمانانو ورونو داتوليې خبرې اوس عملي او تحقق ته رسيدلي دي او ددی درد، بد امنيو او بدبختيو، ددی قتل او غارت ، ددی وينو تويولو او ددی تولو وحشتونو اونفرتونو دمسلمانانو خپل منځ کې يواځنی علاج ددعوت او تبليغ محنت دی ـ ورونو که نورو ګناهونو ته ګناهونه وايو او تر اوسه مو چې تبليغ نه دی کړې دا هم يوه لويه ګناه ده راځی په شريکه الله ته توبه وباسو دې نه مخکې چې غفلت او سستي راڅخه شوې په شريکه باندې الله پاک ته په دی ميدان او مسجد کې استغفار اوتوبه وباسو او ددې نه وروسته تول دا نيت او قصد وکړو چې تر مرګه پورې به ددعوت او تبليغ محنت کار کوو دابه دچا نيت او اراده وي لاسونه اوچت کړی ----- جزاکم الله ، الله مو دونيا او اخرت ښايسته کړه اوس اخرنی درخواست دی چې دتللو کوشش به تر هغې نه کوی تر څوچې ددې منبر نه دعاء وشي او خپلې ارادې او وعدې نقدې وليکې والسلام

دټول افغانستان ددعوت او تبليغ عمومي مرکز جلال اباد مرکزي مدرسې مهتمم شيخ القرأن و الحديث مولنا سبحان الله حفظه الله سالانه اجتماع دوه نيم ساعته بيان

( ۱۱ـ ۵ ـ ۱۳۹۷ هـ ش ) مطابق ( ۱۹/ ذوالقعده ۱۴۳۹هـ ق )

مطابق ( ۲۰۱۸ /۲/۸/م ) کال

---

# دریم فصل

## دهندوستان نظام الدين عمومي مرکز له مشرانو څخه

# مولوی شوکت حفظه الله

## یو نیم ساعت سالانه تبلیغي جوړبیان

## (۱۳۹۸/۱/۱هــ ش) مطابق (۲۰۱۹/۳/۲۱م)

## مطابق (۱۴/رجب/۱۴۴۰هــ ق کال)

نحمده ونستغفره ونؤمن به ونتوکل علیه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سیئات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلله فلا هادی له ونشهد ان لااله الاالله وحده لاشریک له ونشهدوا ان سیدنا ومولانا محمداً عبده ورسوله صلی الله علیه واله وصحبه واهل بیته وسلم تسلیماً تسلیما امابعد فاعوذ بالله مِن الشیطن الرجیم ، بسم الله الرحمن الرحیم : وَلا تَهِنُوا وَلا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ )صدق الله مولنا العلی العظیم :

زما عزتمندو دوستانو! الله رب العزت ددي کائناتو او دونیا اصل سرمایه دایمان په دولت بنا کړی او ځمکه او اسمان دایمان په دولت تکیه دي په الله قسم که دایمان لفظ یوه ورځ نه وي په هغه ورځ به قیامت قائم شي . له دې وجه دانسان د بدن اصل سرمایه روح دي ترڅو چې په دې جسم کې روح موجود وي دجسم ټول جوارح او اعضاء به خپل کار سرته رسولی شي لاس به خپل کار کوي سترګه به خپل کار کوي غوږ به خپل کار کوي پښې به خپل کار کوي تردې چې دبدن له سر نه نیولی تر پښوپورې تر هغې کارکوې ترڅو چې روح پکې وې او کله چې روح ختم شو داجسم بیا دخاورو یو ډیری دې هیڅ کار نشي کولی نه سترګې خلاصولی شي نه ژبه

خبرې کولی شی او نه پښنی تګ کولی شي لکه څنګه چې دخاورو ډیری حرکت نشي کولی داسي داجسم هم هیڅ حرکت نشي کولای نوداسې ترڅو چې په دې کائناتو کې دایمان دولت او سرمایه موجوده وي ترهغي به ټول مخلوق څومره چې په ځمکه اسمان کې دي حرکت به کوي او کار به کوي دا دکائناتو روح دی. لمر به خپل کار کوي سپوږمې به خپل کارکوي اسمان به خپل کار کوي ځمکه به خپل کار کوي ونې بوټې به خپل کار کوي درنده ګان پرنده ګان خزنده ګان چارپای دوپای به خپل کارکوي هوا ګانې او دریابونه به خپل کار کوي بلکه ټول مخلوق چې څومره موجود دي ترهغې به خپل خپل کارکوي تر څو چې دایمان دولت موجود وي او کله چې د ایمان دولت ختم شو په الله قسم داځمکه اسمان به راټول کړی شي نه به لمر او سپوږمې وي نه به غرونه او دریابونه وي نه به ونې او هواګانې وي نه به انسان او جنيات وي نه به جبرایل میکایل اسرافیل عزرایل وي ، لوح ، قلم او حتی عرش اعظم به ختم او قیامت به قایم شي (كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ)(كُلُّ مَنْ عَلَيْها فانٍ (26) وَيَبْقى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلالِ وَالْإِكْرامِ.

دایمان په باره کې مولنا الیاس رحمة ا لله علیه فرمایي چې انسان ته الله پاک اویا کاله عمر دهمدې لپاره ورکړی چې په خپل ایمان دومره خواري او محنت وکړي چې دالله نه په غیر په څومره نور مخلوق چې د کیدو یقین موجود وي هغه ختم کړې شي اوپه الله باندې یي یقین راشي چې هرڅه کولو والا صرف یو الله دی دمشرق نه تر مغرب او دشمال نه تر جنوب پورې چې څومره مخلوق الله پیداکړی او دهغې نه دکیدلو یقین په نظر راځي دا ټول ختم او دا یقین جوړ شي چې داټول دالله په حکم چلیږي او دهغه له حکم پرته هیڅ نشي کولای غله دځمکې نه ضرور راوځي دهقان غنم کري او غله په لاس راوړي ظاهر کې غله ځمکه کې د زمیندار دخواری او محنت نه دلاسته راوړنې څخه ښکاري خو ددانې دشنه کیدو او بیا دهغې نه داویاو وږو او دانو جوړول صرف او صرف دالله پاک کاردی ددهقان او زمیندار کار نه دی . دماشوم پیدا کیدل ظاهر کې دمور له ګیډې څخه ښکاري خو دمور په ګیډه کې دبچې پیدا کیدل دمور کار نه دی بلکه دا دالله پاک کار دی له کوموشکلونو څخه چې دکیدلوپه نظر راځي ددې نه دنه کیدلو یقین او دالله نه دکیدلو یقین جوړ کړواو دایقین دومره تکرار کړی شي چې دټولو شکلونو څخه دکیدو یقین ختم او په الله دکیدلو یقین زړه کې راشي .

زما عزتمندو دوستانو داکائنات او په دې کې چې څومره مخلوق دی دا ټول دالله اهل وعیال دی . لِأَنَّ الْخَلْقَ عِيَالُ اللَّهِ ټول مخلوق دالله عیال او کورنې ده او په کوم کور کې چې څومره افراد وي که هغه واړه دي که غټ د ټولو توجه دکورنی مشر ته وي په خوراک څښاک ، جامو کولو کې مریضي تداوۍ کي بلکه هرکار کې ذمدار ته توجواو نظر اوړي که د ماشوم روپۍ یا جامې یابل ضرورت پیدا شي خپل پلار ته اواز کوي او په دې یقین سره اواز کوي چې زما پلار دپیدایش نه تر مرګ پوري زما دټولو ضروریاتو پوره کولو والا دي او ددي خزانې دده سره دي که مټايي غواړي یا میوه دانه غواړي خپل پلار ته اواز کوي او پلار یي هم دده ضروریات ورپوره کوي ځکه چې ماشوم ده ته اوازکړی او دی هم دکورنې دټولو اعضاؤ او غړودضروریاتو دپوره کولو ځان ذمدار او خپل کاریي ګڼي او که خدای ناخواسته کله په کوم کار یا ضرورت پوره کولو کې څه تاخیر او ځنډ راشي نوماشوم مور اوپلار ته ژاړي ځکه نور خو څه قوت او طاقت نه لري اومور پلار هرڅه برداشت کولی شي خو د بچي ژړا نشي برداشت کولی بلکه دهغه ضرورت پوره کولو کوشش کوي نو په دی صورت کې داټول کائنات دیو کور په شان دي او مونږ دغې دونیاته دهمدې لپاره را لیږلی شوې یو لکه څنګه چې ماشوم خپل پلار ته په پوره یقین سره اواز کوي داسی دهغه ماشوم څخه زیات دخپل رب څخه غوښتلو والا جوړ شو او په الله قسم که چیري مونږ دهغه ماشوم په شان په پوره یقین سره دالله پاک نه خپل ضروریات وغواړو او هغه ته وژاړو نو مونږ به یو مخلوق ته هم محتیاج نه کړي او په هغه وخت کې به زمونږ ضرورت پوره کړي .

زما عزتمندو دوستانو ماشوم چې کله دخپل پلار سره روان وي نو پوره یقین سره مطمئن او بې غمه وي ځکه چې پلار دده سره دي او دده هر ضرورت پوره کولی شي که پیسې پکاروي پلار شته او که کیږې پکار وي پلار شته مطمئن او ډاډه روان وي . مؤمن که دماشوم په شان یقین سره ووایي چې خدا دارم چه غم دارم یعنې چه الله لرم څه غم لرم په الله قسم دلاس داوچتولو نه مخکې به ځمونږ ضروریات الله پاک پوره کړي

عزتمندو مولنا الیاس رحمة الله علیه فرمایي که مؤمن خپل یقین دغسې جوړ کړي نوالله پاک ورته فرمایي ( وَلا تَهِنُوا وَلا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ) مه سستیږي مه غمجن کیږې همدا تاسو اوچت او کامیاب یي

) په الله داسې يقين چې کله هم دالله نه په غير طرف ته زمونږ توجه لاړه نشي که ضرورت پيدا شي الله طرف ته نظر لاړشي که څه غواړو دالله نه يي وغواړو که ژاړو الله ته وژاړو الله پاک فرمايي امن يجيب المضطر اذدعاه ) ای انسانه په تنګسيا او سختې کې پغير دالله پاک نه څوک شته چې مرسته اومدد درسره وکړي بلکه نشته او کومې سترګې چې دالله پاک په مخکې اوښکې توي کړي په الله قسم په الله قسم چې داسترګې به ديهودو او نصاری په مخکې هيڅکله زليلې او محتاجې نکړي .

دالله رسول ص داولې ورځې نه دا امت په دې يقين او ايمان اوچت کړی داځکه دا امت دابراهيم عليه السلام ددعاء نتيجه ده په دونيا کې دوه لکه کم اوزيات اومتونه تير شوي يواځنې همدا اومت دي چې غوښتل شوی ځکه خو دا اومت وجود ته راغلی الله پاک محمد صلی الله عليه وسلم ته حکم وفرمايلو چې دااومت دابراهيم ع په غوښتنه وجود ته راغلی نو په ابراهيمي مزاج باندی يي ودروه دابراهيم عليه السلام اولنې مزاج داوه چې ( إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّماواتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفاً وَما أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ) ددي کائناتو هر وړوکي اوغټ شکل څخه لمر ستورو غرونو ځنګلونو دريابونو ،بادشاهانو، وزيرانو، اميرانو ،فقيرانو بلکه دهر وړوکي اوغټ مخلوق څخه مې دزړه يقين کاټ کړو او په الله مې يقين جوړ کړو او ددي ټولو په طرف زما نظر نه لړيږي ځکه زه پوهيږم چې داټول په پيدا کيدو ، ګرځيدو راګرځيدو بلکه هر حالت کې الله ته محتاج دي پخپله هيڅ هم نشي کولی او الله پاک هغه الله دی چې په هيڅ يو ضرورت اومسئله کي هيچاته محتاج نه دی هغه صمد دې بي نيازه دې اودا راته معلومه ده چه دا دونيا دمحتاجانو غريبانو فقيرانو ، مجبورانو بې وسه بې کسو دونيا ده که چيرې يو غريب بل غريب او فقير څخه سوال وکړي هغه خفه کيږي غوسه کيږي او هغه پخپله غريب دی تا سره به څه مدد وکړي او يا يو ړوند له بل ړوند څخه امداد وغواړي هغه پخپله ړوند دې له ده سره به څه مرسته وکړي په دې دونيا کې چې څومره حاجتمند دي وړوکی وي غټ وي انسان وې جنيات وي ملائکې وي جبرايل وي په الله قسم جبرائيل هم الله ته محتاج دی څومره چې وړوکی مخلوق دخپل وجود د بقا او ژوند لپاره الله ته محتاج دی قسم په الله جبرائيل هم همداسي الله ته محتاج دی (( يا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَراءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ) ای دټولې لروبرې دونيا انسانانو

تاسوټول غريب فقير او محتاج يي او په دې کائناتو کې چې غني او بې حاجته دی هغه الله دی ای انسانه ته ما وړی تګې پيداکړی يي ځما ځځه ډوډی وغواړه چې ډوډی درکړم ماتاسو لغړ پيدا کړی يي له ما نه کپړې وغواړه چې کپړې درکړم هر څه ورکولو والا ذات الله دی صمد دی غني دی حميد دی دهر فقير دضرورت پوره کولو والا صرف الله دي ځکه چې هغه غني دی هيچاته محتاج نه دی او مونږ ټول په ټولو کې غريبان او فقيران يو الله پاک نبي ص ته فرمايي ستاامت مې فقير او غريب نه دی پيداکړی بلکه خپل ځان ته مئ محتاج پيداکړي دي ورته ووايه چې په پوره يقين سره په هر ضرورت کې بل هيچاته سوال ونه کړي بلکه ماته سوال وکړې قسم په الله که دايمان او يقين والا دالله نه پغير بل چا ته دخپلو ضرورتونو او تقاضا پوره کولو سوال وکړي دخپل لوي ايمان توهين يي وکړو الله ته پيدا کړی يي او خپل ځان ته يي محتاج کړی يي ياد ساتې که څوک خپل ضرورياتو پوره کولو کي نظر مال والا دولت والا سرو او سپينو زرو والا هيرو او جواهراتو والا طرف ته وګرځوي او الله پرېږدي الله پاک اعلان کوي (يا أَيُّهَا الْإِنْسانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ (6) الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ (7) فِي أَيِّ صُورَةٍ مَا شاءَ رَكَّبَكَ) الله پاک څومره په درد سره انسان ته فرمايي لکه کومې زنانه ښځه چې خپل بچې وانې يا کوهي او يا ډنډ ته وغورځيږي نو دا مور به څومره درد سره چغې او نارې ووهي او وايي هې څوک شته ځما بچی بچ کړي څومره درد چې ددې ښځې اواز کې دی له دې نه زيات درد سره الله پاک خپل بنده ته اواز کوي چې يا ايهاالانسان هی زما بنده زه دې پريښودم چرته لاړې هغه چاته لاړې چې هغه ځما په لاس کې دې ته چې دهغه نه څه غواړي هغه ځما لاس کې دي هغه به کيږي کوم چې زه غواړم دخزانو والا خو زه يم زما نه يي وغواړه زه ورکولو والا يم

زما عزتمندو مشرانو نبي صلى الله عليه وسلم خپل صحابه کرا م رضى الله عنهم اجمعين په دغه جذبه سره تربيه کړل چې الله طرف ته خپل نظر واړوي که وړوکې ضرورت وي که غټ ضررورت وي صرف دالله دخزانو نه يي وغواړی محتاجانو طرف ته هيڅکله مه ګورې هغه خپله محتاج دی تا سره به څه کمک وکړي .

الله دې ځمونږ ايمانونه جوړ کړي ټول بيګاړ او فساد چې جوړ دی ځمونږ دايمانونو له وجه که ايمان او يقين جوړ شو غرونه به لار درکړي ستا

رکاوټ به نه شي کولی بحرونه به په میلونو میلونو لار درکړي ابو هریره رض فرمایي دحضرموت په ساحه کې مونږ ته ۵۴ میله بحر داسي لار راکړه چې (والله ما راینا اثر الماء علی ارجل دواب والجمال ) په الله قسم د۵۴ میله مزل وروسته مونږ دخپلو اسانو او اوښانو په پښو او تلو کې داوبو دیوې قطرې اثر هم ونه لیده .دنبي ص دمحنت له وجه دهغوې ایمانونه دومره اوچت شول چې الله ج کائنات ورته مسخر کړه
دوستانو او مشرانو : دایمان کمال او پوره کیدل دکائناتو دمسخر کیدو ذریعه ده او دا ددې پورې تړلي ده کله چې ایمان پوره او جوړ شو نوملائکي ستا خدمت ته پخپله مخې ته راځې ابراهیم ع چې کله اور کې واچول شو جبرائیل ع پخپله راغلو چا راغوښتی نه وو دالله پاک نه یي اجازه واخسته الله پاک ورته وویل لاړشه که ځما خلیل ستا مدد ته اجازه درکړه مددوکړه جبرائیل ع راغي ابراهیم ع نژدې دی په اور کې واچول شي سوځي اوبالکل خاوره او ایرې ترې جوړیږي داور لمبې او شغلې دومره اوچتې او لوړې دي چې په هوا کې مرغان ترې نه شي تیریدلی جبرائیل ولاړ دی وایي ابراهیم اجازت دی مرسته وکړم هغه ورته وویل الله رالیږلي یي هغه وویل نه نه ځمونږ خپل خواهش وو الله پاک ووي که زما خلیل مدد منظور کړو وکړی ازرائیل اسرافیل مکائیل ټول ولاړ دي لیکن دا مرد مؤمن ابراهیم د کمال ایمان پر یقین ولاړ ته خپله پرشتې راځي او پغیر له کوم مانع څخه مدد ته راځي خو هر وړوکی او غټ مخلوق په هر حالت او هر ضرورت کې صرف الله ته محتاج دی ابراهیم جبرائیل ته جواب ورکوي اما الیک فلا ای جبرائیله تاته ځما هیڅ حاجت او ضرورت نشته مکائیل اسرافیل ازرائیل لاړ شي خپل کار وکړې تاسو ته مې هیڅ حاجت نشته ابراهم ع جبرائیل ع ته فرمایي جبرائیله تاته خو ښه معلومه ده چې ما داولي ورځې نه داویلي (( إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّماواتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفاً وَما أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ) پوره یقین سره ما خپل ځان هغه ذات ته سپارلی چاچه زمکه اسمان پیدا کړي جبرائیله ته هم مخلوق یي لاړ شه او خپل کار وکړه زما او زما درب په منځ کې هیچا ته ضرورت نشته که الله پاک زما سوځول غواړي زر ځله ابراهیم سوځولو ته تیار دی او که سوځول نه غواړي نو زما او زما درب په منځ کې ستا واسطه کول را ته نه دي منظور ځه لاړ شه او خپل کار وکړه داد ایمان پوره والی دی چې هغسې طاقت والا مخلوق دغلام په حیث خدمت

کې حاضرېږي خو دده نظر دهیڅ غیر په طرف نه ځي او له مخلوق نه مدد نه غواړي  ددا سي ايمان دجوړیدو لپاره دالله رسول ص خپل امت راوچت کړو او دا امت فقیر او سوالګرې امت نه دي داد فخر امت دی دا به چاته سوال نه کوي پغیر دالله نه داچې فقیر اوغریب پیدا کړې شوی ددي لپاره چې دالله نه غوښتونکی جوړ شي بل چاته ځان محتاج نه کړي  دا امت رسول الله ص په ا ابراهیمي ايمان جوړ کړو.
ابراهیم ع له جبرائیل ښخه دمدد انکار په الله پاک نظر او داور سختي لمبې چې پرنده ګان پرې دپاسه نشي تیریدلی  اور دالله مخلوق دي دالله دامر نه پغیر ما نه شي سوځولی دادی ابراهیمي ايمان مخامخ اور ته غورځول کیږي هیڅ  چرت يي نه دی خراب دنمرود اور ته ختا کړی شواو فرماي چې دنمرود په اور کې چې کوم دخوند ژوند ما کړې ترمرګه داسې خوندور ژوند مې ونه لیده  دا دی ابراهیمي ايمان په اور کې ورته مرګ په ژوند بدل شوملایکې يي خدمت ته حاضرې شوې که داسې ايمان کامل شو سمندرونه درته لار درکوي اور درته ګلذار جوړیږي الله پاک فرمایي ( ولا تهنوا ولا تحزنو وانتم الاعلون ان کنتم مؤمنین  ) مه سستیږې مه غمجن کیږې همدا تاسې کامیاب يي که مؤ منان وې .
ايمان جوړول بس لږ شانته خواري او محنت غواړي زمکه اسمان لمر سپوږمې ستوري غرونه دریابونه  بلکه  هرڅه  به درته الله پا ک مسخر کړي خوچې کمال ايمان ته ورسیږې  ({وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومُ مُسَخَّراتٌ بِأَمْرِهِ } په تاریخ کې ځلور داسې واقعات ذکر شوي چې بیا هیڅکله داسې نه دي شوي کمال ايمان والا په سفر وه اوبه کمې وي داودسو لپاره نه بس کیدې الله پاک ورته غورځیدلی لمر بیرته راوچت کړو تر دې چې دوي داوداسه اوبو ته ورسیدل اودسونه يي وکړل دمازدیګر لمونځ يي اداء کړو بیا دوباره لمر پریوتو دا دیوشیع بن نون ع او سلیمان ع او داسې ځلور کرتې دکامل ايمان والاو ته الله لمر راپورته او بیا غورځولی . یوصحابي دکفارو په جیل کې په یوه کوټه کې بندي دی دغسل ضرورت شو   کفارو دڅکلو لپاره ډیرې لږې اوبه ورکولې ده ورته وویل ماته په یو وار ددرې  ځلور وختونو اوبه راکړې زه به پرې غسل وکړم هغې ظالمانو اوبه ورنکړې او هلته دلما نځه دقضاء کیدو وخت شو طاقت يي ونه شو الله ته په ژړا شو دعاءيي وکړه  الله پاک په اسمان کې وریځ

راپيدا کړه باران دده په کوټه دپاسه شروع شو ترهغې وريده چې دده غسل هم وشو او دده دځکلو هم کافي شو دا دکامل ايمان له وجه چې صحابه کرامو رضوان الله عنهم اجمعين جوړ کړی وو الله پاک فرمايي (فَإِنَّكُم خلقْتُمْ للآخرة وَالدُّنْيَا خلقت لكم) ای ځما بنده ګانو ددی دونيا زمکه اسمان لمر سپوږمۍ ستوري غرونه دريابونه باد او هواګاني سره زر سپين زر دشتې او ځنګلونه ټول ستاسو غلامان اومسخر جوړ کړي پيداکړه او تاسومې دخپل دين لپاره پيدا کړې يي دا شيان تاته راتلل ستا دغوښتلو پورې تړلې نه دي دادرته په خپله راځي خو چې ځان کمال ايمان ته ورسوې (وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ) په دغه يقين اوايمان سره نبي صلى الله عليه وسلم خپل امت راوچت کړو لکه ابراهيم ع چې اعلان کړی وه (إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّماواتِ وَالْأَرْضَ) يعنې ما دټول مخلوق نه خپل مخ اړولې او صرف او صرف يو الله ته مې مخ کړې نبي عليه السلام خپل امت ته ددې خبرې اعلان کولو چې (أَيهَا النَّاس، قُولُوا: لَا إِلَه إِلَّا الله تُفْلِحُوا ) دالله نه سوا دهيچا پلاس کې هيڅ شی نشته هرڅه دالله پاک پلاس کې دي کولو والا صرف يو الله دی او دټولو کائناتو معبود دالله نه سوا بل ذات نشته او دي سره کاميابي ده کوم رب ته چې ابراهيم ع دعوت چلولو هغه رب طرف ته محمد ص دعوت چلولتر څو دا امت په ابراهيمي ايمان او يقين سره راشي صحابه کرام فرمايي (تَعَلَّمْنَا الْإِيمَانَ، ثُمَّ تَعَلَّمْنَا الْقُرْآنَ ) او ل مونږ ايمان زده کړو بيا موقرأن زده کړو ځکه ايمان اصل شی دی او فرماي ( الايمان يتغذابالمصائب والمشقه ) ايمان په مشقتونو او تکليفونو کې پېټ دی ايمان مو په ډير تکليف زده کړو دايمان باره کې له مونږ څخه ويوښتې چې په څومره تکليف اومشقتونو مو زده کړی دشعب ابي طالب په وادۍ کې درې کاله دمرګ په قيمت مونږ ايمان زده کړو بچيانو مو دتندې او لوږې نه به په ژړا ژړا اوده شوه زمونږ سره دتندې درفع کولو يوه قطره اوبه نه وې
نبي صلى الله عليه وسلم به ال ياسر ته تسلي ورکوله چې (اصْبِرُوا آلَ يَاسِرِ فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى الْجَنَّةِ ) ای ال ياسر صبر کوې ستاسو تګ جنت ته دی الله ستاسو لپاره جنت تيار کړي حضرت عمر رضی الله عنه يو ځل دخپل تير وخت دتکليفونو واقعه بيانوله چې دايمان دجوړيدو لپاره يي تيره کړې وه په دې کې ابو سفيان راغې دځپلو سره ورته ځاي پيدا شو هلته کيناستو لږ وروسته حضرت بلال راغې عمر رض ورته اواز وکړو ای زمونږ سردار

بلاله دلته راشه ته دخپلو دځاي لايق نه يي ته زمونږ د سرونو لايق يي ځان ته يي نژدې راوستو حضرت ابو سفيان ووې زه دقريشو سردار يم ماته يي اواز ونه کړو او بلال يوغلام دي هغه يي دځان سره نژدې کينوو ابوسفيان عمر رض ته ووې چې تا ما سره انصاف ونکړو زه دقريشو سردار ووم اوبلال يوغلام وه عمر رض ورته ووې ابوسفيانه ماچې کوم عمل دبلال رض سره وکړو که چيرې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوس تشريف لرلی هغه به دبلال دمشقتونو او قربانيو له وجه همداسې عمل ورسره کړې وی ابو سفيانه ستا هغه وخت هير شو چې زه او ته به په لاره تيريدو بلال به په ځنځيرونو تړلی وو په کرړو او لښتو په وهل کيدو او دمکې په ګرمو شګو به اچول شوی وو او دپاسه به ورباندې غټې غټې تيګې او ډبرې ايښودل شوې وې په مکه کې يي هيڅوک غمخوار نه وو ابوسفيانه حقيقت دادی چې دبلال په شان خلکو دقربانۍ نتيجه وه چې تا هم ايمان راوړو او ما هم ايمان راوړو.

عزتمندو مشرانوصحابه کرامو به دايمان دجوړولو حلقې په مساجدو کې جوړولې او بيا به دوه دوه او درې درې اوچت شوه دخصوصي ملاقاتونو لپاره به لاړل دايمان مذاکرې به يي خپلو مينځونو کې کولې حضرت ابو هريره رض به بازار کې ګرځيده په اوچت اواز به يي ويل ای بازار والا خلکو مسجد نبوې کې دنبي صلي الله عليه وسلم ميراث تقسيميږي او تاسو دلته ګرځې راګرځې خلک په ډيره چالاکې سره مسجد نبوې ته راغلل لږ وروسته دباندې راووتل ابوهريره رض ورته وويل څه مو وليدل هغوی وويل هلته خو څه نه تقسيميدل صرف تعليم کيدلو ابو هريره رض ورته وفرمايل تاسو څه فکر کوې دانبياوو ميراث درهم او دينار وې ؟ ( ان الانبياء لايورث ديناراً ولا درهم ) انبياء عليهم السلام دينار او درهم په ميراث نه پريږدي حضرت عمر رض به خلک دمسجد په طرف دعوتول اوهلته به يي خلکو ته ددين خبرې ورزده کولی څوک چې ددين دخبرو دذده کړې په نيت مسجد په طرف ته روان شي الله پاک دپوره حج اجر او ثواب ورکوي او پرشتې ورته دمغفرت دعاء کوي ماهيان ورته په درياب کې دعاءګانې کوي معاذ ابن جبل ،عبدالله بن رواحه ، ابی بن کعب او نورو ټولو رضي الله عنهم به ګشت کولويبل ته به يي ددين خبرې تکرارولې اذا تکررالکلام تقرر في القلب کله چې خبره تکراريږي هغومره په زړه کې ځای نيسي

خضرت علي رض فرمايي چې په مسجد نبوي کې دايمان دحلقو جوړيدو په وجه ځمونږ دايمانونو دا حال وه چې په الله قسم که زمونږ مخې ته جنت او جهنم راوړل شي او پخپلو سترګو يي ووينو يوه زره به مو په ايمان کې فرق رانه شي مونږ ته اوس او هغه حالت يو شانته دی دايمان دحلقو بيا داحال وو چې که دنبوت دروازه خلاصه وای نو نبي عليه السلام فرمايي عمر به نبي وو علي رض فرمايي که دعثمان رض ايمان په يوه لشکر تقسيم شي دټول لشکر لپاره به دنجات ذريعه وګرځي ايمان په داسې حلقو کې زياتيږي ( الايمان ينقص ويزيد ) ايمان زياتيږي او کميږي مهنت کوې زياتيږي مهنت نه کوي کميږي يو سړي سره سرمايه وي دهغې دخاوند سره هميشه فکر او خيال وي چې څوک يي راڅخه غلا نکړي کمه نشي .
صحابه کرام سره ددومره لوی ايمان بياهم ډاريده عمر رض باره کې نبي ص فرمايي که ځما نه بعد بل نبي راتلای نو هغه به عمر وای هغه سره له دومره غټ ايمان به يي ويل هي که دالله فضل او کرم نه وي دعمر په هلاکت کې هيڅ شک او شبه نشته او ژړل به يي حذيفه رض عنه چې د نبي پاک ص رازدار او دمنافقينو لست يي ورته ښودلی وو هغه ته به يي ويل چې زه تاته دانه وايم ماته دمنافقينو لست راکړه خو صرف دومره راته ووايه چې عمر خو به دمنافقينو په لست کې نه وې عمر رض ددومره لوړې رتبې صحابې سره هم داغم درد وه چې چيرته منافق خو به نه يم.
نوځکه خو به يي دايمان حلقې جوړولې چې ايمان مو خراب نشي او ددغوحلقو په وجه الله پاک دايمان والاو دايمان حفاظت کوي او دا حلقې دالله پاک درحمت ذريعه ده په کائناتو کې دالله پاک رحمت دومره زيات دی چې دټولې دونيا د مورګانو محبت چې د بچيو سره يي لري راجمع کړې دالله پاک دهغه محبت برابر نشي کيدی چې دخپل يوګنهګار بنده سره يي لري الله پاک دمور په رحم کې خپل بنده جوړوي او په ده ډير رحيم او شفيق وي يوځل نبي پاک ص تشريف فرما وومذاکره راغله چې مور دخپل بچي سره ډيره مينه او محبت لري هيڅکله يي په څپيره نه وهي پلار کله کله بچي وهي خومور دا کار نه کوي او کله کله بچې خپله مور په څپيره ووهي خو مور هغه په غيږ کې ونيسي مچې يي کړي خپلې سينې ته يي رانژدې کړي په دې وخت کې له يوې مور څخه بچې ورک شوی وو او دبچې پسې ډيره لالحانده او سرګدانه ګرځيد دهرچانه يي پوښتنه کوله چې په دغه رنګ او په

دغه قسم جامو والا ماشوم مو ونه لیده اخر څه وخت وروسته هغه بچې راپیدا شو مور  یي ډیرزیات ښکل کړو او خپل بچې یي دډیرې خوشحالي نه په سترګو خوله اوسر ډیر مچې کړو نبي علیه السلام صحابه و ته وفرمایل که دي ښځې ته وویل شي چې دابچې دې په داسي اور کې واچوه چې د سکروټو او شغلو نه ډک وي  ایا تاسو ووایي چې دا ښځه به دا کار وکړي صحابه وو وفرمایل یا رسول الله هغې خو دلږ وخت لپاره خپل ماشوم ورک کړې وو څومره پریشانه او خفه وه نو څرنګه به داخپل ګران بچې چې دلږ ساعت جدا ی یي نه شوه برداشت کولی نو څنګه به یي اور ته وغورځوي رسول الله ص په ساړه حوصیلي سره وویل چې قسم په هغه ذات چې زما روح دهغه په قبضه کې دې چې الله پاک  په خپل ګنهګار بنده ددغې مور نه په زرګونو چنده ډیر مهربانه او محبت والا دی  الله پاک هیڅکله نه غواړي چې خپل بنده دجهنم په اور کې واچوي خو مونږ بنده ګان پخپله ځانونه دګناهونو له وجه اور ته غورځو نو ملامت څوک دې( وَما رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ ) ای محمد ص ستارب پخپلو بنده ګانو هیڅکله ظلم کونکی نه دیً بلکه مونږ خپله خپلې پښې وهو او اور ته ځانونه  غورځوو

ځما عزتمندو ! دالله پاک تعلق دخپلو بنده ګانو سره بی پناه تعلق دي الله پاک هیڅکله دا نه غواړي چې دالله بنده دې دجهنم اور ته لاړ شي او دایمان په حلقو کې دصحابه وو کرامو رضوان الله  علیهم اجمعین کیناستل او راجمع کیدل ددي لپاره وه چې خپل ایمان لوړ او غټ کړی او دین په ټوله دونیا کې خپور شي ددي کار لپاره به شپه او ورځ بې چینه او بې قراره وه او دادعاء به یي کوله چې ای الله ستا دبنده ګانو ددعوت لپاره مونږ ددونیا ګوټ ګوټ ته ورسوې .

دایمان حلقې دومره جوړې کړې او دومره وخت ورکړې لکه صحابه کرامو چې دهمدې حلقو له وجه دخپلو کورونو ټول کارونه ګټې اونقشې  پریښودلې وې

سیرة ولولي او معلومه شوه چې دنبي ص تر شا صفونه صفونه صحابه دلووګې له وجه بې هوشه شوه او راوغورځیدل رسول الله ص دلمانځه نه بعد یو یو پسي لاړه او تسلي یي ورکوله  که تاسو ته دا معلومه شي چې په دې لوګه الله  پاک څه درکوي تاسو به تمنا وکړې چې ای الله دا لوګه ځمونږ دټول ژوند ملګرې وګرځوې.

دوستانو ایمان جوړ کړي او ایمان دایمان په حلقو کې جوړیږي لوګه تیره کړې تردې چې بچیان مو دلوګې له وجه وژاړي او دکور دباندي په سړک روان خلک دهغوی دلوګې ژړا واورې حسنین ژاړي رسول الله ص هلته روان دې برداشت یې نشو کړای دننه لاړو فاطمې بچی حسنین ولې ژاړي ؟ فاطمې رضی الله عنها ورته وفرمایل کور کې دخوراک څه شي نشته ځکه دواړه ژاړي وړي دي نبي علیه السلام خپله ژبه مبارکه خوله کې ورکړه هغوې رودله الله پاک ورته شدې رواني کړې دواړه ماړه شوه داد څه لپاره ؟ داددې دین لپاره داومت دجوړیدو لپاره . بی بی فاطمه رضی الله عنها مریضه ده نبي صلی الله علیه وسلم یې پوښتنې ته راغې ددروازې نه دباندې یې اوازوکړو لورې مونږ درننوځو پرده وکړه چې ځما سره عمران بن حسین قریشي هم دی هغې ورته له کوره اواز کړو پلاره ځما سره دپردې څه شی نشته چې ځان پټ کړم ددواړ جهانونو دسردار دلور دپردې څه نشته نبي صلی الله علیه وسلم ورته خپل څادر ورواچولو هغې په هغه څادر پرده وکړه خو دمریضی او لووګې او تبې له وجه دومره ضعیفه وه چې جګیدلی نشوه ددیوال په نیولو یې کوشش وکړو چې دپلار استقبال ته جګه شي خو توان یې نه وه نبي پاک صلی الله علیه وسلم په دواړو لاسونو راونیوله او خپلې سینې مبارکې ته یې رانژدې کړه هغه نبي چې دطایف په کوڅو کې خلکو په تیګو وویشتو زخمې زخمې یې کړو ونه ژړل خو دلته یې خپلې لور ته په دې حال کې وژړل . دا اومت امام اومت دی دامام په شان په ژوند کوې ټوله دونیاکې دوه لکه امتونه الله پاک پیدا کړي خو دا اومت یې امام اومت پیداکړی یو نبي هم دخپل امت په غم کې دومره نه وه ژړلې لکه محمد ص چې ددې امت لپاره ژړلي ابوبکر رض به ورته وویل چې ته دومره ژاړې چې خپل ځان په هلاکت کې اچوې . عزتمندو دوستانو زمونږ ټولو سره نور څه دې پغیر دقصور او کمي نه بل هیڅ نشته هغو صحابه وو چې خپل وطن یې پریښدو زمونږ وطن ته راغله او ددې دین لپاره یې ځانونه دلته قربان کړل سبا دقیامت په ورځ به په کوم مخ او سترګو دهغوی سره مخ کیږو او څه جواب به ورته وایو او خپل رب الله پاک ته به په کوم مخ اوسترګو ګورو دخپل نبي محمد الرسول الله سره به په کومو سترګولیده کاته کوو او څه جواب به ورته وایو ټول توبه وباسې او دالله نه معافي وغواړي ټول خپل کارونه پریږدې او الله طرف ته ورشې ځمونږ سره نور

هيڅ عذر نشته صحابه کرامو رضوان الله عليم اجمعين ددې دين داحياء لپاره څومره قرباني ورکړه ټول ژوند يي وقف کړو ( کانت حياتهم لحيات الدين وکانت مماتهم لحيات الدين ) دهغوې مرګ ژوند دواړه ددين لپاره وه نبي صلى الله عليه وسلم يوساعت هم قرار نه کيناسته دخپل امت په غم کې غمجن وه الله پاک ورته فرمايي {لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ} اې محمد ص ته په ژړا ژړا ځان وژنې ته ماددومره ژړا لپاره خو نه يي ليږلى هدايت ځمونږ لاس کې دی. په دې مجلس کې همدومره خبرې بس دي خو ټول به دا وعده کوو چې مونږ ټول ددين خوريدو او شاداب کيدو لپاره هرې قربانې ته تيار يو او خپل ځانونه پيش کړو

والسلام

# څلورم فصل

## ډاکتر صاحـــب ګــلاب نـــور حفظه الله

### درې ساعته اوپنځلس دقیقې جلال اباد سالانه اجتماع بیان

### ( ۲۰ /۱۱/۱۳۹۶هــ ش) مطابق ( ۹ /۲/۲۰۱۸م)

### مطابق ( ۲۳/جمادی الاول/۱۴۳۹هــ ق کال )

نحمده ونصلي على رسوله الكريم اما بعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : إِنَّ الَّذِينَ قالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلائِكَةُ أَلاَّ تَخافُوا وَلا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ (30) نَحْنُ أَوْلِياؤُكُمْ فِي الْحَياةِ الدُّنْيا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيها ما تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيها ما تَدَّعُونَ (31) نُزُلاً مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ (32) وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِمَّنْ دَعا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صالِحاً وَقالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ (33 فصلت)

وقال تعالى كُلُّ نَفْسٍ ذائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّما تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فازَ وَمَا الْحَياةُ الدُّنْيا إِلاَّ مَتاعُ الْغُرُورِ ( العمران185) {يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ - يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ} [الحج: 1 - 2]وقال النبی صلی الله علیه وسلم الْكيس من دَان نَفسه وَعمل لما بعد الْمَوْت وَالْعَاجِز من أتبع نَفسه هَواهَا وَتمنى على الله

زما عزتمندو ورونو ! الله پاک دی ستاسو راتګ په خپل دربار کې قبول کړي هر نیک عمل دالله پاک په احسان او کرم سره کیږي او دهر بدعمل څخه بچ کیدل هم دالله رب العزت په احسان او کرم سره کیږي (لا حول عن المعصية ولا قوة على الطاعة إل بتوفيق الله) انسان دګناه نه نشي بچ کیدلی او په نیکې باندې وسع او طاقت نشي موندلای مګر دالله پاک په فضل او کرم سره .

زماعزتمندو چې الله پاک چاته دخير اراده وفرمايي اسلام کې ورته پوهه نصيب کړي (فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلامِ ) پس چاته چې الله پاک دخير اراده وکړي دهغه سينه ددين دزده کړې لپاره پرانيزي مونږ او تاسې اوس دلته الله پاک انتخاب کړې يواو الله پاک راوستې يو په خپل کمال سره نه يوراغلې بلکه الله پاک راوستي يو(وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشاءُ) الله پاک خاص کوي چاته يې چې خوښه شي حضرت بلال رضى الله عنه به فرمايل اى دالله نبي دالله کرم او احسان دى چې هدايت دالله پاک په اختيار کې دى ، دعربو سردان يې وروسته کړه او غلامان يې مخکې کړه او په هدايت يې راوسته که دا دانسانانو په اختيار کې واى نو انسانانو به په ظاهرې نقشه باندې اول حق مشرانو او قومې خلکو ته ورکولو خو داچې هدايت دالله عزوجل په اختيار کې دى سرداران يې شاته کړل او غلامان يې مخ ته کړل .
نو زما عزتمندو ورونو دا زمونږ انتخاب او راتګ الله کريم کړى هغه الله (وَلَوْ أَنَّما فِي الْأَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ أَقْلامٌ ) که دزمکې په مخ چې څومره ونې دي په افغانستان کې په ټوله دونياکې او په پنځو براعظمونو کې دا قلمونه شي (وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ ) او دا موجوده دونيا کې چې څومره اوبه دي دا سيايي او رنګ شي (مِنْ بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ) ددي موجوده اوبو نه چې دا دونيا کې دي داختمې شي اوه چنده نورې هم شي انسانان پريان او ملائکې ټول کاتبان او ليکونکي شي (مَا نَفِدَتْ كَلِماتُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ) دالله صفتونه به ختم نشي او الله زبردسته زورور او دحکمتونو خاوند دى.
هغه الله پاک تاسې دلته راوستي ياستئ چې ددير لوى شان والا دى که ددونيا په اعتبار سره دباچا او يا والي په موټر کې څوک ناست وي هغه دخوشحالئ نه پخپلو جامو کې نه ځايږي وايي زه دوالي په موټر کې ناست ووم ، حسن بصري صاحب نه چا پوښتنه وکړه چې په الله به ګران يمه او که به نه يمه زه څه پوه شمه هغه ورته وفرمايل که چيرې ته يې خپل کورته راوستلې او خپل کتاب يې ستا لاس کې درکولو نو په الله ګران يې او که دا دوه کار يې درسره نه کول نو پوه شه چې نه يې ګران او خپل علاج دې وکړه ځکه قدر دان ميلمه عزتمند ميلمه خلک خپل کورته راولي .
نوزما عزتمندو ورونو دا زمونږ او ستاسو انتخاب الله پاک کړى اوټول ووايې چې الحمد لله .

د سالک په فارسي کې يو شعر دی وايي ( سعادت به زور بازو نيست تا نه بخشد خدای بخشاينده ) وايي دانيکمرغي دمتو په زور نه حاصليږي په مال او په پيسو او قوميت سره نه حاصليږي تر څو چې ښوونکی او مهربانه الله يې چاته ونه بخښي.
نو زما ورونو چې دا مونږ او تاسي الله پاک دی مجلس ته راغوښتي او دعوت کړې يو دا ډير دبرکتونو والا مجلس دی (وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلَامِ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ) الله عز وجل هميشه دعوت ورکوي دهميشه والي اوسلامتيا کورته او لارً سده کوي دجنت په طرف چاته يې چې خوښه وشي هغه الله زمونږ انتخاب کړی او دلته يې راوستي يو.
زما عزتمندو ورونو دا څه وړوکې خبره نه ده دا ډيره عظيمه او لويه خبره ده که مونږ دا ټوله زنده ګي دې ناستې په شکرکې په سجده سره تير کړو بدله يې نشو اداء کولی ځکه ( مَا مِنْ قَوْمٍ اجْتَمَعُوا يَذْكُرُونَ اللَّهَ لا يُرِيدُونَ بِذَلِكَ إِلا وَجْهَهُ إِلا نَادَاهُمْ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: ،) ددي مجلس په اخر کې يو اواز کونکی داسمان نه اواز کوي (قُومُوا مَغْفُورًا لَكُمْ) ودريږی او تاسو وبخښلی شوې يواځې په دې بسنه نه کوي چې وبخښلی شوې بلکه ورته واي ( قَدْبُدِّلَتْ سَيِّئَاتُكُمْ حَسَنَاتٍ ) ددي شيبې نه مخکې ستاسو ټول ګناهونه په نيکيو بدل شوه نو زما ورونو دا دومره دخير او برکتونوډک مجلس دی صحابه کرامو به ديني مجالس جوړول او يو بل ته به يې ويل تعال نؤمن بربنا سَاعَة ) راشه په خپل پروردیګار باندې لږ ايمان راوړو .
يو صحابي نبي عليه السلام ته شکايت وکړو ای داالله نبي عبدالله ابن رواحه ماته وايي راځه ايمان راوړو ولې زه ايمان نه لرم هغه صلی اله عليه وسلم ورته وفرمايل په عبدالله ابن رواحه دی الله پاک رحم وکړي هغه ته ايماني مجلسونه خوند ورکوي فَقَالَ ذَاتَ يَوْمٍ لرجل فَغَضب الرجل فجَاء إِلَى النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فَقَالَ: يَا رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم أَلا ترى إِلَى ابْن رَوَاحَة يرغب عَن إيمانك إِلَى إِيمَان سَاعَة فَقَالَ النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يرحم الله ابْن رَوَاحَة أَنه يحب الْمجَالِس الَّتِي تتباهى بهَا الْمَلَائِكَة
ايماني مجلس څه ته وايي زما عزتمندو ورونوچې کومه زنده ګي محمد صلى الله عليه وسلم مونږه ته راوړې هغه ايماني مجلسونه دي دهغې تذکره او مذاکره ، الله عزوجل فرمايي (وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِينَ ) تاسې مذاکره کوئ مذاکره مؤمنانو ته فايده رسوي او مؤمن چاته وايي قرأن عظيم

الشأن مونږ اوتاسو ته دایمان والا صفت بیانوي چې الله پاک په مثالونو کې انبیاء علیهم السلام پیش کوي ځکه انبیاء دایمان طرف ته بلونکي او داعیان وه الله پاک دپنځه ویشتو یا شپږویشتوانبیاؤکرامو نومونه په قرأن کې ذکر کړي داد محمد علیه السلام دامت لپاره دایمان درس ورکوي چې تاسو به داسې زنده ګې کوۍ.
زما عزتمندو اولنی نبي هغه ادم علیه السلام ؤ دهغه نه اشتباهاً یو کار ترسره شو الله پاک فرمایي (فَنَسِيَ آدَمُ ) ادم علیه السلام خبره هیره کړه (وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْماً ) او مونږ ده لپاره دلیل دقصد پیدانکړو بلکه خبره ترې هیره شوه نوځکه مونږ ته الله پاک دا ذکر کړه چې دادم دبچیو نه به هیره کیږي او ګناهونه به کوي خو څه به وایي (رَبَّنا ظَلَمْنا أَنْفُسَنا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنا وَتَرْحَمْنا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخاسِرِينَ ) ای زمونږ پالونکیه مونږ په ځان باندې ظلم وکړلو دخپل امت لپاره دخپلو بچو لپاره دا بیانوي چې ای زمونږ پالونکیه مونږ په خپل ځان باندې ظلم وکړو تیرې راڅخه وشو ، سهوه او خطا راڅخه وشوله خو که ته مو ونه بخښې نو زه به دتاوانیانو څخه شمه .
نو زمونږ څخه به سهوه کیږي خو مؤمن به همیشه چې کله ترې سهوه او خطا وشوه نو څه به وایي ( رَبَّنا ظَلَمْنا أَنْفُسَنا ) ای الله ای هغه ذاته چې دا ښایسته شکل دې راله بې نقشې او بې قالبه جوړ کړی دی
نو زما عزتمندو ورونو هر موقع محل کې زمونږ تاسو توجه زمونږ دنیکه او زمونږ دپلار ادم علیه السلام دا یوه کارګذاري او واقعه الله پاک بیان کړي چې تاسو نه سهوه او خطاکیږي اواز به الله ته کوې (رَبَّنا ظَلَمْنا ) او دبل چا نه به معافي نه غواړي .
په دی سلسله کې الله پاک په عراق کې نوح علیه السلام راولیږلو دنوح علیه السلام اولني خبره خپل قوم ته داوه او هر نبي چې راغلی خپل قوم ته یې همدا خبره کړې (يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ ) ای زما قومه دیو الله عبادت وکړۍ دیو الله خبره ومنۍ (مالكم من إله غيره ) نشته ستاسو لپاره بل کار ساز بل حاجت روا بل مشکل کشا بل مالک دخیر او شر غیر ددی الله نه او هرنبي دا اواز کړی (ما أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ) زه چې تاسو ته دا تبلیغ کوم دا بیان کومه تاسونه پرې اجر نه غواړمه (إِنْ أَجْرِيَ إِلاَّ عَلى رَبِّ الْعالَمِينَ ) زما اجر په هغه ذات دی چې ټول عالم ته تربیت او روزي ورکوي .

نو دټولو پیغمبرانو او نبیانو اولنۍ خبره همدا وه (يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ ) ای زما قومه دالله خبره ومنۍ.
چې دا مونږ او تاسو ته الله کریم په قرأن عظیم الشأن کې بیانوي چې ای دمحمد علیه السلام امته ستاسو په نبي باندې دهغه دشان او عظمت له وجه نه مې دهغه نه بعد دا نبیاؤ سلسله بنده کړله ځکه مخکې به یویو نبي راتلو او قوم به ډیر ؤ خو مونږ اوتاسو ته الله پاک دانبیاؤ کار راکړلو نو هر مشکل کې به اواز الله ته کوو نو ځکه خو نوح علیه السلام خپل قوم ته همدا اواز وکړلو (يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ ) خو قوم یې خبره ونه منله او مخالفت یې شروع کړو او کله چې ډیر پریشانه او مجبور شو نو لاس یې اوچت کړو (فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ) ای زما پروردیګاره اوس دې خلکو ډیر کمزوری کړم زما مدد وکړې ، ادم علیه السلام څه ویلي وه (رَبَّنا ظَلَمْنا أَنْفُسَنا) ما نه اشتباه وشوله خو دلته داعي او نبي څه وایي ای زما پروردیګاره زما مدد وکړې حالات به داسې راځي چې ستا مقابلې ته به ډیر قومونه را پاڅیږي ډیرې باطلې نقشې به ستا مقابله کوي خو ته به اواز چاته کوې (فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ) ای الله زما مدد ته وکړې نو الله څه وکړل داسمان څخه یې اوبه راخوشې کړې دزمکې نه یې اوبه راوچتې کړې هغه خلکو به چې ویل یې مونږ ډیر او اکثریت یو الله پاک هغه ټول تبا او برباد کړل او هغه څو کسان یې پریښودل چې دنوح علیه السلام خبره یې منلې وه دامونږ ته ښایي چې ای دمحمد صلی الله علیه وسلم امته  په اکثریت او ډیر والي دوکه نشې بلکه نجات او کامیابي دالله جل جلاله په حکمونو او منلوکې ده نه په اکثریت کې .
دهغو نه بعد عادیان راغلل  چې دا ډیر قوي قوم ؤ او داسې قوت الله پاک ورکړی ؤ چې دخرما بوټي به یې راونیول لکه دپیاز  غوټه چې راباسې راوبه یې ایستلو او ویل به یې (مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ) زمونږ نه زورور بل څوک شته  الله پاک ورته په ځواب کې وویل هغه الله زرور دی چې تاسو یې پیدا کړې یې او هود علیه السلام (وَإِلى عادٍ أَخاهُمْ هُوداً قالَ يا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ) عادیانو ته یوکس ددوی قومي ددوی ورور راغی چې له دی څخه داسې معلومیږي کوم قوم ته چې دعوت ورکول کیږي هغه به دهغه قوم خپل سړی یابلدي سړی وي نابلده سړی دعوت نشي ورکولی ځکه چې په هغه خلک اعتماد کوي او په نابلده سړي څوک اعتماد نکوي خلک سوچ کوي چې دا

سړی به څه غواړي لکه مونږ او تاسو چې په دی کړیدلي او ځوریدلي ملک کې ددعوت او تبلیغ کار وکړو او خلکو په مونږ باندې اعتماد وکړو نو دبل ځای خلک کله داسې کولی شي نو له دی وجه عادیانو ته الله پاک دهغوي خپل ورور ورولیږلو ، او ورته یې وویل (يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ ) ای زما قومه دیو الله خبره ومنې (مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ) او ددی الله نه بغیر بل کار ساز او حاجت روا نشته ځکه کارونه الله جوړوي ، مشکلات الله حلوي نو دلته یو خوا قوي قوم او بل خوا داعي دلږو اسبابو سره دعوت چلوي خوهغوي خبره ونه منله او دابه یې ویل چې دنوح قوم کم عقل ؤ کورنه او ابادیانې یې په تیټه کې جوړې کړې وې ځکه داوبو طوفان راغی او ټول یې یوړل او مونږ دغرونو په سرونو باندې ځانته کورونه جوړ کړي ، دوی دا فکر کولو چې دالله پاک سره همدا یوه دتباه کولو نقشه ده چې هغه اوبه دي بله نقشه ورسره نشته دوی چې کله کورونه جوړ کړه الله پاک پرې باد راخوشې کړو اته ورځې او اوه شپې یې داسې واولزول چې داسې اوړده اوږده به پراته وه لکه تاریخونه لیکي چې د هر یواوږدوالی به څلویښت یا پنځوس کزه ؤ او دسینې پلنوالی به یې پنځلس ګزه ؤ او دا یې دا سې په هوا کې اوچت کړه چې کُلمې به ترې راووتلې او بیا به یې زمکې ته راخوشې کړه ( الله دی مونږ وساتي ).

هغه الله اوس هم شته زما عزتمندو ورونو دهماغه طاقت او زور سره لااله الاالله دا مونږ ته خبر راکوي چې ای دمحمد صلی الله علیه وسلم امته تاسوته یې دانبیاؤ علیهم السلام کار درکړی تاسو چې څومره قوي قوم سره مخ شوې تاسو به مدد دالله نه غواړې او په دعوت سره به یې دالله مقابلې ته راولئ دځان مقابلې ته څوک مه راولئ .

دی نه وروسته الله رب العزت دونیا ته ثمودیان راوستل هغوی په تیرو قومونو تهمتونه ولګول چې دا ډیر کم عقل وه دنوح قوم په هواره زمکه کورونه جوړ کړه ځکه داوبو په طوفان هلاک شول ، عادیانو دغرونو په سرونو کورونه جوړ کړه ځکه دهوا او باد په ذریعه هلاک شول دوی هم داسې فکر کاوه چې دالله پاک سره دهلاک کیدو همدا دوه نقشې دي دباد او اوبو او دځان دبچ کیدو لپاره یې دغرونو له سرونو څخه سومځ شروع کړه دغرونو منځ ته به یې راورسوله او ویل به یې اوبه پورته نشي راختلی او باد بنکته دغرونو منځ ته نشي راتللی .

الله پاک فرمايي (وَإِلى ثَمُودَ أَخاهُمْ صالِحاً ) الله پاک ثموديانو ته ددوي يو ورور او قومي او پلدي کس صالح عليه السلام راوليږلو او ورته يې ويل (قالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلهٍ غَيْرُهُ ) اى زما قومه ديو الله خبره ومنې او عبادت يې وکړې دده نه بغير بل اله کارساز او حاجت روا مشکل کشا نشته.

او الله دې مونږ اوتاسو هم ديو الله منونکې جوړ کړي ورونو زمونږ سترګې خوله او هرڅه دالله په مخالفت کې روان دي دوست مو الله دى او دوشمن مو شيطان دى خو حقيقت دادى چې مونږ ټول دشيطان خبره منو دالله پاک سره مو ددوستې اعلان کړې او دشيطان سره مو ددوښمنې اعلان کړى خو منو دچا دشيطن ځکه دخپلو خپلوانو باره کې دا وايو والله که يې پريږدم والله که رانه خلاص شي او په زړه کې مې ورته شته چې دا دشيطان منل دي .

نوثموديانو دمخکنيو په خلاف دغرونو منځ کې يې کورونه جوړ کړه الله پاک ورته نقشه بدله کړه زلزله يې پرې راوسته په سمڅو کې پرې تيګې راغورځيدي او ټول يې چيت پيت کړل .

دوى انجنران وه خو دانجنيرى په نقشه کې يې دخپل نبي خبره ونه منله او نبي ورته دالله خبره کوله او دالله پاک فرمان يې ورته راوړى وه خو دوى ونه منلو الله پاک دانجنيرې په نقشه کې تباه او برباد کړه .

اى دمحمد عليه السلام امته احتياط کوه په غرونو کې دکورونو په جوړولو دوکه نشې کنه داسې به شې لکه هغوى چې شول

الله پاک دچا سره خپلولي نلري دالله پاک سره خپلوي په هغو خبرو قايميږي چې کوم شئ مونږ نه الله پاک غواړي .

دې نه وروسته نمرود راغى او هغه د هغې موجوده زمانې دټولو اباديو بادشاه وٚ ، څلور بادشاهان عالمي تير شوي دوه په مسلمانانو کې او دوه په کافرانو کې ، سليمان عليه السلام او ذوالقرنين په مسلمانانو کې ، نمرود او بخت نصر دا په کافرانو کې تير شوي چې دټولې زمکې بادشاهي ددوى پلاس کې وه ،

زما دوستانو نمرود خپله کاميابي په ظاهري حکومت کې وکتله ابراهيم عليه السلام ورته وويل اى نمروده دالله پاک خبره ومنه دهغه الله چې لمر دمشرق نه راخيژوي او په مغرب کې يې غورځوي او هغه الله چې مړه کول او

ژوندي کول کوي  دې بې وقوفه دوه بنديان راوبنکل په يو دازادۍ فيصله شوې وه او په بل داعدام او وژلو حکم شوی ؤ هغه چې دخوشې کيدو ؤ هغه يې  اعدام او هغه چې داعدام ؤ هغه يې خوشې کړو او وی ويل دا کار خو زه هم کولی شم عقل يې کار ونکړو نو دبادشاهۍ په نقشه کې مغروره شو او دا دحکومت او منصب ډيره خطرناکه نشه ده چې دچا په دماغو کې ننوته بيا يې نه پرېږدي .

نمرود دابراهيم عليه السلام مقابله شروع کړه ابراهيم عليه السلام ديو الله طرف ته دعوت ورکولو خو نمرود بيا دخپل ځان دربوبيت دعوت چلولو.

نو زما عزتمندو ورونو هميشه داعيان او حق پرسته انسانان کم وي ، نمرود دخپلو وزيرانو سره مشوره وکړه ابراهيم عليه صلاة والسلام باندې يې پاپندۍ ولګوله او وی ويلې چې څوک په بازار کې دغلې خريد کوي هغه به دنمرود نه اجازه اخلي ، دابراهيم عليه السلام په کور کې غله خلاصه شوه راغی نمرود ته يې وويل اوړه مې نشته نمرود ورته وويل سجده وکړه ورته يې وويل تا مردار ته سجده وکړمه نن مسلمان دپنځه روپو لپاره چاته سجده کوي ؟ او نن مسلمان خپله کاميابي چرته ګوري دالله ددوستانو سره او که د الله ددوشمنانو سره ؟  ابراهيم عليه السلام روان شو  وی ويل غله مې پکار نه ده والله چې مرګ راته راشي دا ماته بهتره ده نه داچې تاته سجده ولګوم اوستا سره دوستي وکړم .

مونږ او تاسو دابراهيم عليه السلام په ملت کې يو (مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ ) دابراهيم عليه السلام اتباع به کوی هغه په تاسو باندې دمسلمان نوم ايښی دی ، ابراهيم عليه السلام روان شو او تشه بوجۍ يې شاته اچولې کورته چې نژدې شو دشګو نه يې ډکه کړه او کور ته يې يوړه بوجۍ يې ديوال ته ودروله او خپله اوده شو ، بی بي چې وکتل بوجۍ کې تکه سپين ښکلې اوړه دي  هغې نه يې ډوډۍ پخه کړه او بيايې خپل خاوند رابيدار کړو چې ابراهيمه پاڅه ډوډۍ وخوره هغه ورته وويل ډوډۍ دی دځه نه پخه کړه هغې ورته وويل دهغو اوړو نه چې تا راوړي وه اوس ووايې دا شګه په اوړو چا بدله کړه ؟ ( الله) لااله الاالله ، دې ځمکې نه غنم څوک راباسي ؟ دی ځمکې نه جوار څوک راباسي ؟ دی ځمکې نه کيلې او مالتې څوک راباسي ؟ او دې ځمکې نه دا لوبيا او دالنخود څوک راباسي ؟ الله پاک يې راباسي ، ابراهيم عليه السلام شګه وړې وه الله

پاک په اوړو باندې بدله کړه او الله پاک خپل دوست نه ذليله کوي که په حقيقي معنا چا دالله پاک دوستي شروع کړه الله يې نه زليله کوي .
(إِنَّ اللَّهَ يُدافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا ) الله پاک دمؤمن نه دفاع کوي (كانَ حَقًّا عَلَيْنا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ ) الله پاک وايي په ما دمؤمن مدد حق دی زه يې کومه وَلا تَهِنُوا وَلا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ) مه سستيږئ او مه خفه کيږئ دلوړې مرتبې والا ياستې خو که ايمان راوړئ ابراهيم عليه السلام يو الله طرف ته دعوت ورکولو او بيايي دنمروديانو بتان مات کړه او نمرود په ده باندې دجهنم فيصله وکړه او هغه زمانه کې يې اور ورته بل کړو په خلکو يې نزرانه ولګوله چې دخپلو خدايانو مدد وکړئ چا دانګورو لرګي راوړل چا دکيلو او زردالوګانو ونې پرې کړې او دابراهيم عليه السلام دسوځيدو لپاره يې راوړل ابراهيم عليه السلام يې تړلی اود اذر خاندان چې دده قوميان وه دی کلک تړلی او اور ته يې روان کړې دی قوم يې ورته وايي تا وژني اور کې دې اچوي وی ويل څوک مې اچوي ؟ هغوی وويل نمرود او اور خو ګورې هغه ورته په ځواب کې په ډير اطمنان سره وويل اور چې دچا په اختيار کې دی هغه زما سره دی لااله الاالله ـ له بل خوا په اسمانونو کې غوغا جوړه شوه ملائکو او جبريل عليه السلام شور جوړ کړو چې جليل ګوري او خليل اور ته روان دی  جبريل عليه السلام وايي ای الله خليل اور ته اچوي او لاسونه او پښې يې دده تړلي دي .
الله کريم ورته وويل جبريله ورشه که ستا نه کمک غواړي ورسره يې وکړه چې راغي مخامخ ورته ودريدلو ګوري لاسونه يې تړلي او مچنوزغه کې يې کينولی او اوس يې داور منځ ته ګذاروي اواز يې ورته وکړو (يَا إِبْرَاهِيمُ أَلَكَ حَاجَةٌ؟ ) ای ابراهيم ماته دې حاجت شته کنه ، ابراهيم عليه السلام ته معلوم وه چې جبرايل عليه السلام کې الله پاک څومره طاقت ايښی دی او هغه دده او دالله پاک ترمنځ واسطه وه وحې به يې راوړله  ابراهيم عليه السلام ورته وايي (قَالَ: أَمَّا إِلَيْكَ فَلَا ) ای جبريله تاته مې حاجت نشته  او وی ويل (حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ) الله ماته کافي دی او هغه بهترين ذمه دار دی .دا دمحمد عليه السلام امت ته خبرداری دی چې پام کوئ دغټو طاقتونو نه ونه ويريږئ او چې کله داسې وشوه وايې به (حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ) .
نه بې موقع مرګ راتلی شي (قُلِ اللَّهُمَّ مالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلى

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ) الله نه پغير بل هيڅا سره خير اوشر نشته او نه يې څوک ورسولى شي ، عزت ، ذلت خوشحالي او خفګان فتح او شكست دا ټول دالله پاک پلاس کې دي او بس . په نافرمانۍ کې ناكامي او فرمانبردارۍ کې كاميابي ده ، ابراهيم عليه السلام اور کې غورځيږي الله پاک ورته ګوري دالله نبي دجبريل نه مدد ونه غوښته اسباب يې استعمال نکړه نو الله پاک هم اسباب استعمال نکړه براه راست اور ته وايي (قُلْنا يَا نارُ كُونِي بَرْداً وَسَلاماً عَلى إِبْراهِيمَ) اى اوره يخ شه ، تفاسيرو ليکلي چې په دغه وخت دنمرود په بادشاهۍ کې چې څومره اورونه بل شوې وه ټول يخ شوه داسي يخ شوه چې په اور کې به دې ګوته ننويستله لکه په يخچال کې چې ننه باسې بيا چې دايې ورته وويل سلامٌ على ابراهيم نورو اورونو خپل كار شروع كړو او دابراهيم عليه السلام اور يخ پاته شو .

اور دسپوږمۍ درڼا په شان جوړ شو دباندې اور او دننه ګلذار وو ، چاچې دكومو ميو لرګي راوړې وه دده دهلاكت لپاره هغوى ټولو ميوې ونيولې دانګورو لرګي انګور ونيول دزردالو لرګيو زردالو ونيول اودمڼو لرګيو مڼې ونيولې او داسې نورو ، دا كار چاوكړو ؟ الله وكړو ، لااله الاالله ، الله هر څه كولى شي بل څوک دا كارونه نشي كولى .

ادم عليه السلام يې د وچو خاورو نه پيدا كړو او دهغه دبدن څخه يې بي بي حوا پيدا كړه عيسى عليه السلام يې بې پلاره پيدا كړو او دا زما اوستا په غنمو کې دا سپړى پغير دمور او پلاره جوړولى شي نو لااله الاالله .

بس همدا الله يې كولى شي دقصاب نه غوښه واخله دوه ورځې يې كيږده چنجي پكې راپيدا شي قصاب ته وايه وه قصاب ماما تا نه خو ماغوښه وړې وه دا چنجي لا دكومه پكې راپيدا شوه ، ددى مړې غوښې نه دا چنجي چاجوړ كړه ـ الله جوړ كړه ، لااله الاالله ـ ابراهيم عليه السلام ته الله پاک په اور کې دمني او ژمي ټولې ميوې پيدا كړې او په باغ او ميوو کې ګرځي ،نو ځكه مونږ ته الله پاک فرمايي (فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ إِبْراهِيمَ حَنِيفاًوَما كانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ) قدم په قدم به دابراهيم عليه السلام پسې روانيږې هغه دلوى طاقت والا هيڅ پروا ونه ساتله فقط دالله پاک پروا يې وساتله ( مَنْ كَانَ لِلَّهِ كَانَ اللهُ لَهُ ) څوک چې دالله شو الله پاک دهغه شو .

زما عزتمندو ورونو دده نه بعد فرعون راغى هغه ديو ملک بادشاه ؤ او موسى عليه السلام ديو الله دعوت وركولو او دټولو انبياؤهمدا يوه خبره وه

لااله الاالله ـ دلا نه مطلب دادی چې اول به د ټول مخلوق نفي وکړې چې دوکان نه نه کيږي بلکه دالله نه کيږي دا اسباب دي دالله پاک په اختيار کې دي زمکه زما واستا حاجت نشي پوره کولی بلکه حاجت څوک پوره کوي لااله الا الله ـ بس نورې نقشې نه چليږي پغير ديو الله نه الله پاک قرأن کې فرمايي (أَلَيْسَ اللَّهُ بِكافٍ عَبْدَهُ ) ايا الله دخپل بنده لپاره کفايت نه کوي .

زما عزتمندو وروڼو موسی عليه السلام نمرود ته دالله صفت کولو ،او مونږ چې چرته لاړشو دخپل ځان صفت کوو ، زه فلانی خان او ددومره کمالاتو والا او په دی خپل صفت زمونږ نه دالله صفت هير شي ، زماعزتمندو دا وواېې چې علم به دانبياؤ زيات وي که ددې زمانې علماؤ ؟ دانبياؤ زيات دی يو نبي ته څوک نه وايي شيخ القرأن موسی عليه السلام او شيخ الحديث ابراهيم عليه السلام دنبي اوله خبره دلااله الاالله نه شروع کيږي ځان خلکو ته نه ښيي بلکه الله ورته ښاي او دهغه تعريف ورته کوي موسی عليه السلام خپل قوم ته راغی فرعون ته يې دعوت ورکړلو خو فرعون به ويلې (أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلى ) زه ستاسو لوی پالونکی يم (وَنادى فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قالَ يا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهذِهِ الْأَنْهارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي أَفَلا تُبْصِرُونَ ) فرعون خپل قوم ته وويل ايا زه دمصر بادشاه نه يم او دانهرونه زما دکور لاندې زما دفرمان او قوماندې لاندې چليږي ولې تاسو سترګې نلرئ ؟ فرعون دموسی عليه السلام قوم دشت طيح ته راويستلو يو طرف سمندر بل طرف ته دفرعون فوج دلوی طاقت سره دموسی عليه السلام قوم وويلې (قالَ أَصْحابُ مُوسى إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ) ای موسی مونږ راګير شولو داعي ورته څه وای (قالَ كَلاَّ إِنَّ مَعِي رَبِّي سَيَهْدِينِ ) داتاسو چې کومه خبره کوې داسی نشي کيدای رب زماسره دی هغه به ماته لاره سده کوي ، له دی دا مطلب شو چې ای دمحمد عليه السلام امته ته چې چيرته ځې او ددعوت کار کوې نوتا سره رب دی او ته به هم داسې وايي (إِنَّ مَعِي رَبِّي ) ما سره زما رب دی

زماعزتمندو الله پاک هغه څوک چې ويل به يې دادريابونه اونهرونه زما په قومانده چليږي په همدې درياب او نهرکې يې له ستونې کلک ونيوه او چغې يې ترې وايستې (قَالَ فِرْعَوْنُ: آمَنْتُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ ) ما په هغه چا ايمان راوړو په چا چې بنو اسرائيلو ايمان راوړې له هغه چايې چغې وايستې چې ويل به يې (أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلى ) زه لوی پالونکی او رب

يمه ، الله پاک ورته خپله لويي وښودله ، هغه الله چې موسی عليه السلام ورته دعوت چلولو ، هر نبي خپل ځان طرف ته دعوت نه دی چلولې بلکه ديو الله په طرف يې خلک رابللي دي او په دغه وخت کې موسی عليه السلام دخپل قوم توجه الله پاک ته واړوله ، نو ای دمحمد عليه السلام امته کله چې له داسي پيښنو سره مخ شوې دخپل ځان او خپل قوم توجه به الله ته اړوې زماعزتمندو ورونو دذکرياعليه السلام بچې نه وو الله پاک په قرأن کې فرمايي (ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا) ستا رب چې پخپل بنده ذکريا عليه السلام کومه مهرباني کړې دهغې يادول دي چې په يو عجيب انداز کې يې اواز وکړو (إِذْ نَادَى رَبَّهُ نِداءً خَفِيًّا )کله چې يې خپل رب ته په عاجزانه انداز کې اواز وکړو او وی ويل ( رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعاءِ ) ای زماربه ماته يو بچې بخشش راکړې چې پاک وي او ته ددعاء اوريدونکی يې ، اوس که چيرې يو سړی نجار ته ووايي چې ماته يوه کړکې جوړه کړه چې دومره په دومره کې وي او رنګ يې سپين وي ، نجار ورته لرګی ،چيراسونه ، زلفي او نور ټول سامان اخلي کړکی جوړوي اخر کې يو بل ورکوي چې دکړکی دومره روپۍ شوې نوالله پاک به هم دقيامت په ورځ دابل راباسي چې ديو يو ويښته او نورو اندامونو لکه ماغزه چې څومره ښه دکوپړې په هډوکي کې ځای پر ځای شوي که دا هډوکی نه وی نو ماغزه به مو په څه کې ساتل او داسې سترګې او په سترګو کې دوربينونه يو تفسير ليکلي چې دانسان په سترګو کې ديارلس لکه کمرې الله پاک لګولي دي دا تاسې چې ناست يې ماشاء الله څومره ډير يې ماته جدا جدا ښکاری څومره ميوې ترکاری جدا جدا ښکاري تر اوسه الو ګان چاته دمنو په شکل کې نه دي ښکاره شوي داکمرې تر يو څه وخت پورې کار کوي بيا ورو ورو ديد کموي تر دی چې بيا خپلي ښځې ته وايي بچې څوک يې خپله ښځه هم نه پيژني چې دا څوک ده اوبيا وايي سترګې مې کار نکوي زما عزتمندو ډير خيال ساتې

نوذکريا عليه السلام چې کله بچی نه وو چاته يې سوال وکړو؟ الله ته يې سوال وکړو وی ويل ای ربه ماته زوی بخشش راکړې يو عالم خبره کوله ماته يو سړی راغی وی ويل څه نلرم شکايت يې وکړو چې الله پاک هم څه نه راکوي عالم وايي ماورته وويل ښه ده سبا راشه هر څه به وشي سبا راغی ما ورته ووې چې يو څوک دی هغه سترګې نه لري واي که څوک پيدا

شي ماته سترګې راکړي څومره مال دولت چې غواړي وربه يې کړم سړي وويل والله که به په دا ټوله دونيا يوه سترګه ورکړم زه به دونيا څه کړم چې سترګې مې نه وي ، ورونو که دا خبره دپوزې باره کې شنډو باره کې داسې دژبې باره بلکه دهر اندام باره کې وشي نو هر اندام څوک په ټوله دونيا نه ورکوي نوهغه عالم وايي چې مادې سړي ته وويل چې دالله نيکبختـه دالله پاک نه دې پرون څومره شکايت وکړو چې ماته يې څه نه دي راکړي او اوس وګوره په يوه لويشت ځای کې يې څومره نعمتونه درکړې دي

( وَإِذْ قالَ رَبُّكَ لِلْمَلائِكَةِ إِنِّي جاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً )کله چې ستا پالونکي ملائکو ته وويل چې زه زمکې ته يو خپل نائب او خليفه ليږم ، يو چا په هندوستان کې دپښې دزنګنو سترګې دهډوکې اپريشن کړی وو شپاړس لکه هندۍ روپۍ يې ترې اخستې وی چې دلته راغی ور لاندې وازدې شنې شولې چې کله بيا ورغلو اته لکه يې ترې نورې واخستې ماورته ووې حاجي صاحب څوروپۍ دی ولګيدې هغه وويل ۲۴ لکه روپۍ مې ولګيدې ماويل اوس جوړ شوی يې هغه وې نه ـ نه يم جوړشوی لکه طوطي غوندې به نيغ په چوکۍ ناست وو ، ماورته وويل حاجي صاحب ددې دوو بندونو درڅخه هندوانو ۲۴ لکه روپۍ واخستې که الله پاک دبدن دټولو بندونو بل وغواړي څومره به شي او که ددې دحرکتونو بل راشي بيا به لا څومره وي زما عزتمندو ورونو الله پاک انسان ته ډير عزت ورکړی کاش چې مونږ په خپل عزت پوه شوې وای ، يوسړي ته چادسعودي نه ساعت راوړی وو هر وخت به يې دهغه سړي صفت کولو چې فلاني خان راته دسعودي نه ډير ښه ساعت راوړی الله دې ښه ورسره وکړي چا ورته وويل ساعت دې دڅه پورې ترلی هغه ويل دلاس پورې هغه ورته وويل دالله بنده لګ خو دهغه چا هم صفت کوه چې لاس يې درکړی

زما عزتمندو امريکا کې يو ماشوم پيدا شو سره له دې چې امريکا ځان ته سوپر طاقت وايي او غورې دربې کوي ددی ماشوم ګل مو په مخ دډکو متيازولاره بنده وه هغه ځای يې ورته سوری کړو او غټه کولمه يې ور پورې وتړله خو لاستيک نه وو چې څه يې خوړل لاندې ترې تويدل ، که زمونږ او ستاسو لاستيک نه وی څه به مو کول بس پمپر به مو ترلی او غورځولی ، امريکا اعلان ولکولو چې چا دغه لاستيک جوړ کړو څو ميلونه

روپۍ به ورکوو چې ماشوم متیازې وکړي او بیرته راټول شي خو چا پیدانکړلو ، الله پاک خومره احسان او کرم په مونږ کړی.
نو اواز به چاطرف ته کوو ؟ الله طرف ته (رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعاءِ ) ای زما پالونکیه دخپل طرف نه ماته بچی راکړې او داوازونو اوریدونکی ته یې .
ای کاش چې زما اوستاسو دایقین جوړ شي چې داواز اوریدونکی الله دی ، نو الله پاک وفرمایل (فَاسْتَجَبْنا لَهُ) د ذکریا علیه السلام سوال مونږ قبول کړو ، مونږ ته الله پاک دا کتاب قرأن دهمدې تربیت لپاره رالیږلی چې ای دمحمد علیه السلام امته اواز ماته کوه (كِتابٌ أَنْزَلْناهُ إِلَيْكَ مُبارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آياتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُوا الْأَلْبابِ ) دبرکتونو والا کتاب مو درته لیګلی وو ددې لپاره چې دی نه پند واخلي او عقلمند خلک له دی نه پند او نصیحت اخلي ، ورونو دبرکتونو والا کتاب خو مووپیژانده چې دالله کتاب دی خو اوس ووایي چې نن سبا زمونږ پیسې په قرأن لږیږي او که په انګریزی ؟ یویو بچې ته خومره روپۍ ورکوو چې انګریزي زده کړي خو بل خوا دخپل بچي دقرأن زده کولو لپاره مو مدرسه کې څوروپۍ داخلې کړیدي ووایې ؟ چې دبچې په دودی تنګ شو نو وایو مدرسې ته یې یوسه هلته به وظیفې تولوي او دودی به خوري ،
نو الله پاک فرمایي (وَوَهَبْنا لَهُ يَحْيى ) بخشش مې ورله یحی ورکړلو (وَأَصْلَحْنا لَهُ زَوْجَهُ) دده بي بي چې ۹۶ نوي کالو شنده وه بچي راوړلو ته مې جوړه کړه ، نو ای دمحمد علیه السلام امته که بچی دی نه وي نو له الله پاک نه یې غواړه ځکه ورکولو والا الله دی ،لااله الاالله ، هیڅوک بچی نشي ورکولی پغیر دیو الله نه .
زما عزتمندو ورونو ایوب علیه السلام ناجوړه شو خو دی ته مو پام وي چې کله څوک مریض شو دا دذلت خبره نه ده چې خلک ووایي الله ووهلو او په مرض یې اخته کړو ګوری ایوب علیه السلام دالله قدردان نبي وو علماء لیکي درې یا اوه یا اتلس کاله مریض وو الله ته یې سوال وکړو (أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ )ای زما پالونکیه ماته ته ضرر رسیدلی او ته ارحم الراحمین یې (فَاسْتَجَبْنا لَهُ فَكَشَفْنا ما بِهِ مِنْ ضُرٍّ ) الله فرمایي دده سوال مې قبول کړو او ضرر مې ترې لرې کړو، نو وایو چې مرض لرې کولو والا الله دی

( فلله المالک الملک ) ای ربه ته بادشاه دبادشاهانو یې ، (لِلَّهِ مُلْكُ السَّماواتِ وَالْأَرْضِ )اختیار داسمانونو او زمکې دالله پاک سره دی (يَخْلُقُ ما يَشاءُ ) پیدا کول کوي څنګه چې وغواړي (يَهَبُ لِمَنْ يَشاءُ إِناثاً) الله چاته وغواړي لورګانې ورکوي (وَيَهَبُ لِمَنْ يَشاءُ الذُّكُورَ ) چاته وغواړي زامن ورکوي (أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْراناً وَإِناثاً) چاته چې وغواړي هلکان او جنکې دواړه ورکوي (وَيَجْعَلُ مَنْ يَشاءُ عَقِيماً إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ) چاته چې وغواړي بې بنیاده یې کړي الله دښه علم او قدرت خاوند دی.
نو زما دوستانو بادشاهي دالله پاک سره ده څه چې وغواړي هغه کوي ، بعضي خلک داسې دي چې کله ښځه یې لور راوړي بیا ورته په غوصه وي او ورته وایي که داخل دې لور راوړه طلاق درکوم نودا دالله پاک په نظام کې مداخله ده یو سړی وو نهه لورګانې یې وې بل واده یې وکړو چاورته ووې دا ولې هغه وې دا ځامن نه راوړي ځکه مې بل واده وکړو کال ته ددواړو ښځو بچي وشول دنهو لورګانو ښځې زوی راوړو او هغه نوې ښځې لور راوړله پنځه کاله سر په سرهمداسې دلورګانو مور زامن او دزامنو لپاره یې چې کړې وه لورګانې راوړلې ، سړي ویل یاالله توبه توبه دا څه شی وشول ، کیږي به هغه چې الله پاک یې غواړي (وَما تَشاؤُنَ إِلاَّ أَنْ يَشاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعالَمِينَ ) که زمونږ خوښه چلیدلی هیڅوک نه غواړي مریض شي ، هیڅوک نه غواړي غریب شي (كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ ) هره ورځ هغه په یوه نوي شأن او نظام کار کوي ، څوک خندوي څوک ژړوي دچا واده وي دچا غم له یوه کوره دخوشحالۍ اوازونه اوچتیږي او له بله دژړا او غم نارې سورې اوچتوي ، څوک دبادشاهۍ په نقشه کې توټه توټه کړي او څوک دغریبۍ او ملنګۍ په نقشه کې لوی مقام ته ورسوي څوک دځان لپاره دعزت نقشه جوړه کړي هغې کې ذلیله شي او څوک دذلت په نقشه کې چلیږي هغه عزتمندکوي دالله رب العزت سره بادشاهي ده .
کله چې محمد صلی الله علیه وسلم راغی دحق او باطل مقابله شوه دحق والا کم وه باطل والا ډیر او په وسلو سمبال وه رسول علیه السلام لاسونه پورته کړه دعاء یې وکړه ( الهم اغثنا یامغیث ) ای پریاد اوریدونکیه زمونږ پریاد قبول کړه او ای الله که دا څوکسه سر لوځي او پېښې لوځي ختم شي نو دزمکې په مخ به بیا څوک نه وي چې ستا نوم واخلي ، الله پاک ته یې اواز وکړلو ظاهري نقشو ته متوجه نشو عباس رضی الله عنه دنبي علیه السلام

تره ډیر قوي سړی وو یوخوار کمزوري صحابي له متو تړلی وو او نبي علیه السلام ته یې تړلی راوستو هغه ډیر خجالت وو نبي علیه السلام ته یې وویل ای وراره ته ما خوشي کړه بیا دی ما دا خلک وتړي زه نه پوهیږم هغه چا چې زه وتړلم او س په تاسو کې نشته چې کله یې ماته ګوتې راوړلې تول یې سره راټول کړم ، نو زما عزتمندو دا نقشه الله پاک جوړه کړه ،
عبدالله ابن عباس رضی الله عنه په اخر عمر کې په سترګو ړوند شولو چادلاسه نیولی وو او دبدر میدان کې روان وو هغه چا چې دلاسه نیولی وو هغه ته وایي که زما سترګو کار کولی نو ما به هغه هوایي میدان درته ښودلی وو چې ملائکې پرې سورې آسونه له اسمان څخه راکوزیدل خو سترګې مې اوس کار نه کوي ، زما عزتمندو دمحمد علیه السلام او دهغه دملګرو سره دا مدد دهغه دین په نسبت سره وو کوم چې الله پاک محمد صلی الله علیه وسلم ته ورکړی وو، چې دالله طاقت دالله جل جلاله دوعدو سره دی او دالله پاک وعدې حاصلیږي داحکامو په پوره کولو سره او حکمونه دانسان په زنده ګې کې راځي په دعوت سره او حکمونه پوره کیږي دایمان په طاقت سره اودادایمان طاقت دی چې یو سړی په نیمه شپه کې الله ته ودریږي تهجد کوي بل خوا چوکیدار ټوله شپه پیره کولی شي خوتهجد نشي کولی ، او که مونږ تاسو ته څوک ووایي چې بیګا ته دشپې یوسړی راځي في نفر ته ۵۰۰ افغاني ورکوي نو څه فکر کوی خپل ماشومان به دځان سره ویښ کښیننوو؟ چې هغه څوک راشي نو ورته به وایو ګوره مونږ ماشومان زنانه ټول ناست یو ۳۰ نفره یو راکړه ۱۵۰۰۰ روپۍ ، خو دالله نبي فرمایي **«إِنَّ اللَّهَ يَنْزِلُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا »** چې الله عزوجل دزمکې اسمان ته راکوزیږی څنګه چې دهغه مبارک له شان سره مناسب دی **(حِينَ يَمْضِي مِنَ اللَّيْلِ الثُّلُثُ )** کله چې دشپې دوه حصې تیرې شي یوه حصه پاتې شي الله پاک اوازونه کوي .
شاعر وایي : انګاه که خبر یافتم زملک نیم شب ــ من ملک نیم روز به یک جو نمې خریم ،هغه وخت چې زه دنیمې شپې له بادشاهې نه خبر شومه دا دورځې بادشاهي په یوه وربشه هم نه اخلم ، ددونیا به څه بادشاهي وي او څه به یې عزتونه وي او څه به یې نعمتونه او خوشحالي وي .
زما ورونو الله عز وجل اوازونه کوي **« فَيَقُولُ: هَلْ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ، هَلْ مِنْ تَائِبٍ، هَلْ مِنْ دَاعٍ »** ګنهګار څوک شته چې مانه معافي وغواړي زه یې

معاف کړم حاجت مند څوک شته چې مانه حاجت وغواړي او زه یې ورته پوره کړم ، ،سائل څوک شته چې مانه یې وغواړي زه یې ورکړم « هل من داع فأجيبه؟ هل من مستغفر فأغفر له؟ هل من سائل فأعطيه؟ ،ای --هی -- ! وایي دمرغلرو باران اوري ـ زه کم نصیبه تري نه تشه جولۍ وړمه .
اواز الله پاک کوي خو حاجت مند قلاره په کمپله کي اوده پروت دی ، الله پاک دی حقاني علماء زمونږ دسر نه نه کموي یو عالم وو چې کله به یې دشپې دوه رکعته لمونځ وکړو نو بیابه یې ژړل او ویل به یې یا الله زه یم یا الله زه یم ،یا الله زه یم چا ورته وویل مولوي صاحب دعاء وکړه هغه ویل نه الله اواز کوي حاجت مند څوک دی؟ ، کنهګار څوک دی؟ ، سائل څوک دی ؟ اوس دا وواېي دا ناسته مجمع کې څوک دا وعده کوي چې پس له دې به مونږ په نیمه شپه کې دالله پاک نه دا غواړو او دا نیت وکړو چې دشپې دوه حصې تیرې شي او یوه حصه پاته وي راپاڅیږو به او دې اوازونو ته به خپل ځان پیش کوو او دا اوازونه مونږ او تاسو ته کوي خو مونږ اوتاسو قلاره اوده وو ، بیا دورځې شکایت کوو چې والله ډیر مشکلات دي او که دا اعلان دجلال اباد والي وکړو چې بیګا ته دوه بجې دشپې ولایت مخې ته څوک راغی زر زر افغاني ورکوم نوتاسو ووایې چې د ولایت مخې ته به ځای وي او که نه ـ ؟
زما ورونو په هر حال کې چې الله ته اواز کوې دي ته وایي ایمان حاجت روا مشکل کشا څوک دی ؟ الله ، نو الله فرمایي ( أَلَيْسَ اللہ بکاف عَبده ) ایا الله دخپل بنده لپاره کفایت نه کوي .
اوس دا وایو چې سترګې چا راکړي ؟ او دسترګو داستعمال احکام چا رالیږلي ؟ خو افسوس همدا سترګې چې الله راکړي غلطې استعمالوو ، یو مولوي صاحب ښیرا کوله چې هغه سترګې دی ووځي چې الله پاک وایي مانه یې غواړه او دا سترګې بیا بل چاته ذلیله اوړي راوړي ، مثال خولۍ دسر لپاره ده خو څوک یې راواخلي او پښو ته یې واچوي ورونو دایې ښه کار وکړ که بد ؟ بد کار یې وکړو ځکه دا دسر لپاره جوړه شوې او دا یې پښو ته اچوي نوداسې سترګې هم داستعمال خپل ځای لري نو اواز به چاته کوو الله ته به یې کوو .
او ګورئ یو سړی قو مانداني ته لاړ شي یا ولایت ته لاړ شي والي صاحب سره ګورم درته واي نن وخت نلري سبا راشه خو زما ورونو الله کریم هر

وخت خپل ور خلاص پريښني هر وخت ورتلای شي هر وخت ورته عرض كولی شي ، والي صاحب قوماندان صاحب اوده کيږي خو الله پاک نه اوده کيږي هميشه ويښ دی
موسی عليه السلام ځخه لاره ورکه شوه داور په لټه کې راغی الله پاک ورته ووي {إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدْنِي} زه الله يمه زما نه بغير بل اله نشته زما بنده ګي کوه « اذْهَبْ إِلَي فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى » لاړ شه فرعون ته سرکشه دی « فقولا لَهُ قولا لينًا لَعَلّه يتَذَكَّر أَو يخْشَى » نرمې نرمې خبرې ورته وکړه کيدای شي ايمان راوړي (وَأَقِمِ الصَّلاةَ لِذِكْرِي ) کله دی چې زه يادولم لمونځ کوه، لمونځ کې به الله يادوو بل خوا به توجه نه اړو صرف الله به يادوو ، يو مولوي صاحب نه مازديګر لمانځه کې سهو وشوه مقتديانو ته يې وويل درې رکعته مې وکړل كه ځلور چا ويل درې چاويل ځلور دي وکړل يو مقتدي ورته ويل درې دي وکړل مولوي صاحب ورته ووی ته ځه پوه شوې هغه ووې ځما ځلور زامن دي ځلور دوکانه لري هر مازديګر ورسره حساب كوم په درې رکعته کې مې له دريو سره حساب خلاص كړو او يو پاته شو نو درې رکعته شوي يو پاته دی .
الله پاک فرمايي (قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ ) ما لمونځ زما او زما دبنده ترمنځ تقسيم کړی کله بنده ووايي (فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ : {الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} الله پاک ورته جواب کې وايي ( قَالَ اللَّهُ: حَمِدَنِي عَبْدِي ) زما بنده زما صفت وکړو اوکله چې ووايي (وَإِذَا قَالَ {الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} جواب ورکوي (قَالَ: أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي ) زما بنده زما ثنا وويلې او چې کله ووايي (وَإِذَا قَالَ: {مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ} جواب راځي ( قَالَ: مَجَّدَنِي عَبْدِي ) زما بنده زما لويي بيان کړله ،او کله چې ووايي (وإذا قال: إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ) الله ستا بنده ګي كوم او ستا نه مدد غواړم « قال الله: هذا بيني وبين عبدي ».دازما اوزما دبنده په منځ کې ده ، او کله چې ووايي « اهْدِنَا الصِّراطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ » يا الله ماته مستقيمه لاره وښايه دهغو خلکو لار چې تا پرې انعام کړی نه دهغو خلكو چې غضب کړ ی شوي او ګمراه دي " يَقُولُ اللَّهُ فَهَؤُلَاءِ لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ" الله پاک ورته په ځواب کې وايي دا زما دبنده حق دی اوزما بنده چې څه غواړي ورکوم يې

نو مسلمان یې له الله پاک نه غواړي ، یو سړی وو ماته یې وویل دا تاسو تبلیغیان تر او تازه او خوشحاله خوشحاله ګرځې دا تاسو ته یې څوک درکوي ؟ ماووی دا سړی حاجي هم دی اوښه سړی هم وو راشه لږ یې خوشحاله کړم ما وویل مونږ ته یې انګریزان راکوي هغه ډیر خوشحاله شو ماته وایې یاره ته ډیر ښه سړی یې فقط همدا تا رشتیا خبره وکړه نور یو هم حال نه وایي په دغه وخت کې جنازه تیاره شوه دده اودس نه وو تیمم یې شروع کړو ګل مو په مخ پرتوګ یې ویسته او شګو ته کینستو او استنجا یې شروع کړه ماورته ووی خوله ونیسه چې شګې زه زر زر درواچوم چې ناوخته دی جنازه درڅخه تیره نه شي نو ماته وایي چې تیمم کې شګې خولې ته اچول نشته ما ورته ووي چې خولې ته نشته نو کوناټو ته هم اچول نشته ، نو بیا مې ورته تیمم وښوده او ورته مې وویل چې حاجي صاحب مونږ ته انګریزان ددی لپاره روپۍ راکوي چې تیمم زده کړو ، سړی په ژړا شو وی ویل بد مې کړي ما وبښه ما ورته وویل ماته مه وایه الله نه معافي وغواړه ، که مادرته ویلې وای چې الله یې راکوي نو بیابه هم تا ویل نه بنیاد یې چرته دی؟ چې درته مې وویل کافران یې راکوي تاوی ربښتیا دی وویل ، سبا په محشر کې تا نه پوښتنه وکړي چې دا کافرانو ته چا روزي ورکوله ته به څه جواب وایې ؟ (وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الأَرْضِ إِلا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا ) په زمکه یو خوځیدونکی نشته مګر روزي یې په الله ده (وَكَأَيِّنْ مِنْ دَابَّةٍ لا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ) څومره ډیر خوځیدونکي دی ماران لړمان ورګې سپګې دوی تولو سره بوجۍ او پلاستیکونه نشته ، الله پاک فرمایي ( اللَّهُ يَرْزُقُها وَإِيَّاكُمْ ) الله هغوی ته هم رزق ورکوي او تاسوته یې هم درکوي . حدیث قدسي دی (ابْنَ آدَمَ خَلَقْتُكَ لِعِبَادَتِي فَلَا تَلْعَبْ، وَتَكَفَّلْتُ برِزْقِكَ فَلَا تَتْعَبْ، فَاطْلُبْنِي تَجِدْنِي، فَإِنْ وَجَدْتَنِي وَجَدْتَ كُلَّ شَيْءٍ، وَإِنْ فُتُّكَ فَاتَكَ كُلُّ شَيْءٍ، وَأَنَا أَحَبُّ إِلَيْكَ مِنْ كُلِّ شيء») ای دادم زویه ته مې دعبادت لپاره پیدا کړی یې لوبې مکوه او درزق اندازه مې درته ټاکلې خپل ځان مه ستړی کوه .که ماغواړې پیدا به مې کړې او چې زه دی پیدا کړم هرڅه دې پیدا کړه او که دی زه ورک کړم هر څه دی ورک کړه او زه درته دهر شي نه ښه یم

نو زما ورونوایمان وای دی ته چې په هر موقع اومحل کې زمونږ توجه الله طرف ته وي چې په دغه وخت په دغه ځای کې الله پاک مانه څه غواړي .

حجاج بن یوسف نوم به مو اوریدلی وي مسلمان وه خو ډیر ظالم وو باډي ګارډان یې دځان سره نه ګرځول چا ورته وویل چې ولې یې نه ګرځوې هغه وی چې دبره نه کومه فیصله راشي لاندې خپله کیږي دا خلک یې نه شي حصارولی ، بې شکه ددونیا اسباب دي انسان ورته ضرورت لري خو دحفاظت لپاره لویې وسیله ایت الکرسي ده څوک چې ایت الکرسي لولې دهغه دحفاظت لپاره الله پاک ملائکې مقرر کړي ، څوک چې دکوره وځي چېه پښه له دروازې وباسي او دجناب محمد الرسول الله پاکه دعاء ووایي (بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ) دالله په نامه او په الله مې توکل دی یعنې ځان مې الله ته سپارلی او دالله نه بغیر څوک چاته نفع او ضرر نشي رسولی ، نو دپاسه اواز کیږي ستا حفاظت وشو تاته هدایت وشو ستا کفایت وشو او ته دشیطان نه بچ شولې ، ورونو دا دعاء ګانې به یادوو په دی به ځان ساتو .

حجاج بن یوسف دیوې ټانګې والا سره سور دی ټانګې والا ته وایي حجاج پیژنې هغه ورته وویل چې نه ! نه یې پیژنم خو دومره ترې خبر یم چې ډیر ظالم سړی دی الله دې دی تباه کړي ښې ډیرې ښیرا او سپکې سپورې یې ورته وکړې کله چې هغه ځای ته ورسیده پیسۍ ورته ورکړې او ورته یې وویل چې حجاج زه یم دټانګې والا لاسونه ورپیدل پیسې ترې ولویدلې او ورته یې وویل صاحبه زه په هفته کې یوځل لیونی کیږم نن زه لیونی شوی یمه نه پوهیږم چې څه اپلتې وایم ، ګورې چې نه یې پیژندلو څه یې ویل چې ویې پیژندلو څه ویل یې شروع کړه ؟

ورونو اوس دا ووایي چې مونږ خپل رب پیژندلی او که نه ؟ چې د مسلمان بی عزتی کوو کله مو دا ویلی دی چې زما رب دا اوري او بد ترین سود دمسلمان بې عزتي ده او دسود یوه روپۍ د۳۶ زناګانو دسزا سره برابره ده، دمحشر په میدان کې به دسود خور خیټه دمارانو لړمانو ډکه ډکه وي الله ته به پیش کیږي ځکه داهغه کس دی چې الله پاک دده سره دجنګ اعلان کړی دی {فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ} دالله او درسول جنګ ته ځان تیار کړه ، ورونو ددوو کسانو سره الله پاک دجنګ اعلان کړی یو سودخور سره او بل هغه څوک چې دالله پاک ددوست سره دوشمني کوي یعنې یو سړی ښه پوهیږي چې پلانی ښه سړی دی دینداره دی صفات یې دمسلمان دي زنده ګي یې دمسلمان ده او زه او ته ورسره دوشمني کوو ( مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا )

ځوک چې ځما ددوست سره دوشمني کوي (فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ ) الله پاک واي دده سره مې دجنګ اعلان دی .
نن سبا چې چیرته ښه سړی دی دهغه سره مو دوشمني شروع کړې او دمسلمان په سپکه کې خپل عزت ګورو ،
څنګه ورونو پس له دې به توبه اوباسو او کنه یې اوباسو ؟ بد ترین سود دمسلمان بي عزتي ده بیا لا فخر هم پرې کوو چې همدا زه ځوان ووم چې سپک مې کړو کنه بل چا داسې کولی شوه، الله پاک دی زمونږ په زړه کې هم داسې یقین راولي چې مخې ته مو حرام راشي دا ووایو چې الله راته ګوري .
فضیل بن عیاض یو غټ بدمعاش او غل وو خپل زوی یې یو عالم ته کینوو هغه ورته بغدادي سپاره شروع کړه په اول کې یې ورته ووی زویه دا الف دی او دالله پاک دنوم اولنی ټکی دی او الله هغه ذات دی چې هغه ته تیاره او رڼا یو برابر ده او هغه ذات دی چې زمکه اسمانونه یومیږی دهغه دنظر نه نه شي پناه کولی او الله پاک هغه ذات دی چې چپه یې کړي ځوک یې مقابله نشي کولی او الله پاک هغه ذات دی چې چاته عزت ورکول غواړي دذلت په نقشه کې عزت ورکوي دالله پا ک صفتونه یې ورته وکړه ، دا هلک خپل پلار فضیل بن عیاض دشپې دځان سره دغلا ځای ته بوتلو او ورته یې وویل زویه دلته کینه شاوخوا ته ګوره که ځوک راغې او زه یې وکتلم نو ماته به اواز وکړې ، کله چې یې پلار دیوکور په دیوال وروختلو اوکورته اوړي زوی یې پرې اواز کړو پلاره درته ګوري ګوري ، پلار ځان راګوزار کړو شاوخوا ته یې وکتل او وګرځیدو هیڅوک نه ښکاره کیدل نو ځان سره یې وویل ماشوم دی سترګو به یې تور خوړلی وي ، بیا دیوال ته اوچت شو ماشوم پرې اواز کړو ګوري درته وپلاره ګوري درته پلار یې راکوز شو ورته وایي زویه ځوک راته ګوري دلته خو ځوک نشته بچې ورته ووی الله درته ګوري پلار ماغزه سد ته راغله چې زما بچي دیو الف په ویلو الله پاک دومره وپیژندلو نو سمدستي یې دغلا سامان ټول میده میده کړو او وی ویل دبل په بې عزتۍ کې خپل عزت لټوم ، توبه یې ویسته او دعالمانو صحبت یې شروع کړو دوخت لوی عالم او ولي الله ترې جوړ شو اوس مونږ ورته فضیل بن عیاض رحمة الله علیه وایو ، ورونو دبچي په یوه خبره چې الله درته ګوري ځومره تغیر پکې راغی .

مونږ اوتاسو ټوله چې په يوه کوټه کې دعياشۍ په اسبابو لکه فيسبوک يا ډرامو او فلمونو په ليدلو کې مشغول شو او دروازه ټک ټک شي يا پلار راشي نو دا بنده وو او کنه يې بندوو؟ او بندوو يې او بله داچې پردې راکش کړو چې څوک مې ونه ويني الله پاک ورته اواز کوي ای زما بنده دخلکو نه حياء کوې او مانه حياء نه کوې .
نو ايمان وايي دی ته چې په هره موقع کې دالله نه حياء وکړو هغه حاضر او ناظر وګڼو اوپه هر حاجت او ضرورت کې اواز هغه ته وکړو( لااله الاالله ) ای الله بل حاجت پوره کولو والا نشته پغير له تانه .
(أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعادٍ ) ای قرأن والا ته نه ګورې چې ستا پالونکي دعاديانو سره څه وکړل (إِرَمَ ذاتِ الْعِمادِ ) هغه دارم قوم چې لوړې لوړې بنګلې يې جوړې کړې وی (وَثَمُودَ الَّذِينَ جابُوا الصَّخْرَ بِالْوادِ ) او هغه ثموديانو چې غرونه يې سوري سوري کړې وه او ځان ته يې کوټې جوړې کړې وې (وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتادِ ) او دهغه فرعون سره يې څه وکړل چې دخپل نافرمانو په لاسونو او پښو يې ميخونه ټک وهل ، ټول يې تباه کړل پام کوئ چې تاسو مخالفت ونه کړئ .
زماورونو صحابه کرام راغلل نبي عليه السلام ته يې ووی ای دالله نبي الله لرې دی که نژدې ؟ که لرې وي چې په زوره اواز وکړو او که نژدې وي چې په قلاره اواز وکړو ، دا اواز الله پاک فوراً واوريده او دا ايت يې راوليږلو «وَإِذا سَأَلَكَ عِبادِي عَنِّي» کله چې زما بنده ګانو تانه زما باره کې پوښتنه وکړه «فَإِنِّي قَرِيبٌ» زه ډير نژدې يمه (نَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ ) زه درته دشاه درګ نه هم ډير نژدې يمه (أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذا دَعانِ ) قبلوم اواز داواز کونکې کله چې ماله اواز کوي ، دی کې څوک خاص نه شو نر ښځه مسلمان  کافر دهر چا اواز اوري او هر وخت يې اوري رسميات نشته چې په دغه وخت يې اوري او په دغه يې نه اوري هروخت هرځای کې يې اوري ، خو زما خبره ومنئ ( فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي ) او په ما اعتماد او باور وکړئ ( وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ) بيابه تاسو سمه لاره پيدا کړئ .
ابو امامه رضی الله عنه په مسجد کې ناست وو نبي عليه السلام راغی وی ويل ابو امامه زه خو دې نن ډير خفه وينمه هغه وويل ای دالله نبي ډير قرضداره يم او دخلاصيدو درک راسره نشته  نبي عليه السلام ورته وويل

ابو امامه یوه دعاء درته وښایمه که دیمن دفلاني غر په اندازه درباندې قرض وي الله پاک به یې خلاص کړي هغه ووی ضرور یې وښایې یا رسول الله (اللَّهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ) یا الله زما کفایت وکړې دحلال مال له وجه نه او دحرام مال نه مې بچ کړې یا الله پغیر دخپل ذات نه مې بل چاته مه محتاجه کوې .

نن مونږ دحرامو او حلالو تمیز کړې او کنه ؟ کوم واده ته لاړ شو دا سوچ مونږ کله کړې چې دده رزق دکوم ځای څخه دی او عاید یې له کوم ځایه څخه دی او ده چې په دومره لږو ورځو کې دومره پیسې پیدا کړې دا یې دکوم ځای څخه کړي او بیا دتعمیر دپاسه ولیکي ( هَذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّي ) وګوره دا فضل دکومه ځایه پرې شوی ، نبي علیه السلام خپل صحابي ته دعاء وښودله ، مسلمان به داعي وي او دعاء به کوي ، الله طرف ته به دعوت ورکوي اوهغه نه به دعاء غواړي .

ابو امامه رضی الله عنه دعاء شروع کړه لږه زمانه تیره نه وه چې الله پاک دده ټولې قرضې اداء کړې او څه روپۍ ورسره پاته شوې دا یې په مسکینانو وویشلې .

ورونو قرأن حق دی او په قرأن کې وعدې حق دي (ذٰلِكَ الْكِتابُ لا رَيْبَ فِيهِ هُدىً لِلْمُتَّقِينَ ) دې کتاب کې شک نشته دا متقیانو ته لاره سده کوي (وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِما أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولئِكَ هُمُ الْكافِرُونَ ) څوک چې دالله پاک په رالیږلي دین فیصله نه کوي دا کافر دي بل ځای فرمایي (وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِما أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ) داظالمان دي بل ځای کې فرمایي (فَأُولئِكَ هُمُ الْفاسِقُونَ ) دا فاسقان دي

دنوح علیه السلام په زمانه کې وچکالي شوه الله پاک ورته وویل (فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كانَ غَفَّاراً ) ما نوح علیه السلام ته وویل خپل قوم ته دې ووایه دخپل رب نه معافي وغواړی هغه ښښونکی دی دا مونږ ته تربیه ده چې ای دمحمد علیه السلام امته کله چې وچکالی راغله دالله نه معافي وغواړی الله پاک به ابادي راولي بارانونه به وشي ځکه الله پاک ښښونکی دی .

یو سړی دسلو کسانو قاتل وو الله پاک وبښلو هغه توبه ویستله او دنیکانو خلکو مجلس ته روان وو په لاره کې ورته مرګ راغی

یوې بد کاره زنانه په تګي سپي اوبه وڅکلې الله پاک یې دجنت فیصله وکړه ، نو اوس ووایې چې یو سړی یو ګنهګار سړي ته دعوت ورکړي او هغه نیک بنده او جنت ته تلو والا جوړ شي الله پاک به په دی تاته څومره بدله درکوي ؟ چې دسپي په اوبه کیدو ښځې ته جنت ورکوی دانسان له اور نه په بچ کیدو به څه ورکوي ؟ نن خو هر سړی وایي بلا مې ورپسې خدای دې دسر ه جنت ته نه بوځي .

ورونو محمد علیه السلام چې کله مکه کې پیغمبر شو نو یو کس هم مسلمان نه وو څومره خواري او محنت یې وکړو چې دټولو خلکو زنده ګي یې بدله کړه مونږ نن کافر خو پریږده په مسلمان مو مسجد نه پیرزو کیږي چې رایې ولو.

نو نوح علیه السلام ته الله پاک وویل خپل قوم ته دی ووایه استغفار وغواړي زه به یې ښښنه وکړم ، استغفار به داسې غواړو چې دشپې را وچت شوې دوه رکعته لمونځ به وکړې او بیا به خپلې ټولې کمیانې مخې ته کړې زړه دروغ نه وایي ټولې کمی در په یادوي چې دادې کړي او دادي کړي ځکه دا زړه الله پاک ددین لپاره پیدا کړی او ددروغو یکې ګنجایش نشته لکه پښتانه وایي اوس دې را ته دزړه خبره وکړه ، خپل زړه ته ووایه چې نن تا خپلې سترګې څه قسم استعمال کړي ، تا نن دا ژبه څرنګه استعمال کړه ، تا نن داغوږونه څه قسم استعمال کړه ، په دغه وخت کې دسترګو نه اوښکې لاړې کړې او ووایې یا الله توبه («یَا ابْنَ آدَمَ، إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي فَإِنِّي سَأَغْفِرُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ، وَلَوْ لَقِيتَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطَايَا لَلَقِيتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً، وَلَوْ عَمِلْتَ مِنَ الْخَطَايَا حَتَّى تَبْلُغَ عَنَانَ السَّمَاءِ مَا، لَمْ تُشْرِكْ بِي شَيْئًا ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي، لَغَفَرْتُ لَكَ، ثُمَّ لَا أُبَالِي»(مسند احمد وترمزی)

ای دادم زویه که ماته اواز وکړي او ماته امید وکړې بیا مانه معافي وغواړې زه به دی معاف کړم هغه چې په تاکې دي که ستا ګناهونه دزمکې کنارو ته ورسیږي زما مغفرت به هم دزمکې کنارې ونیسي او که ستا ګناهونه دومره زیات وي چې تر اسمان پورې ورسیږي خو چې زما سره دې څوک شریک کړی نه وي او ما نه بخښنه وغواړې نو زه به دی وبخښم ( ثُمَّ لَا أُبَالِي ) بیا په ما باندې هیڅ پروا نشته یعنې هیڅوک نشته مانه پوښتنه وکړي چې دا دی ولې وبخښلو

ماورته ووی چې خپل قوم ته دی ووایه چې ما نه ښښنه وغواړې ( فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ) ځکه ستاسو رب ښښونکې دی (يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا) اسمان څخه به بارانونه دضرورت په وخت کې راوروي ، دوهم (وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ) الله پاک به مالونه او اولادونه درکړي ، دریم (وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ ) الله پاک به درته پریمانه باغونه درکړي غرونه به درته باغونه جوړ کړي تاسو وګورئ دکنړ په غرونو کې داقیمتي میوې خوست پکتیا پکتیکا اونورو غرونو کې داجنغوزي چې تور زر ورته وا یي الله پاک پیدا کړي داتول باغونه دي دازرې منګلو غرونو ته ورشي داښکلې زردالو دبدخشان غرونو کې پسته او بادام او داسې نورو کې دا میوې الله پاک پیدا کړي (وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا ) ویالې به درته داوبو نه ډکې کړي (مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا )په تاسو څه شوې چې دامید سترګې الله ته نه اړوئ .

حسن بصري صاحب طالبانو ته درس ورکولو یوسړی راغی وی ویل زوی مې نشته هغه ورته وویل استغفار وایه ، بل راغی وی ویل مال نلرم هغه ورته وویل استغفار وایه بل راغي وای بارانونه نشته وی ویل استغفار وایه بل راغی وایي باغونه نشته ورته یې وویل استغفار وایه بل راغی چې ویالې وچې شوې وویل استغفاروایه خلک تلل اخریو طالب ورته ووی استاد مرضونه جدا او علاج دې ورته یو وښوده حسن بصري صاحب ورته وویل دا علاج ما نه دی ښودلی بلکه دا الله پاک ښودلی (فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا، يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا، وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ، وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ، وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا ، مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ) .

بادشاه دزمانې وو ښکار ته ووتلو عسکر ترې پاته شوه دښکار پسې دغره سر ته وختلو ښکار هم ترې پاته شو دیو شپونکي خیمې ته ورغی ستړی ستومانه دی شپونکي ولیده چې ښایسته سړی دی میړه یې راولویشله ګرمې شدې یې پرې وڅکلې ، باچا ولیده چې په دی کور کې نور هیڅ نشته نو خط یې ولیکه چې کله دی حاجت شو دا لاندې کلې ته به راشي مابه درته خلک وښایي ، وچکالي شوه شپونکي ته بی بی وویل لاړشه هغه سړي ته که څه درکړي رایې وړه شپونکی روان شو خو ډیر وښیار وو خط یې خلکو ته وښوده خلکو وویل دا خو دبادشاه خط دی بادشاه ته یې ورسولو بادشاه چې ولیدو چې داخو هغه شپونکی دی چې شده یې ماته راکړې وه او خپل ځانونه یې په نهاره پریښوده نو خپلې کوټې ته یې بوتلو بادشاه مسلمان وو

دشپې تهجدو ته جګ شو لمونځ يې وکړو او بيايې لاس اوچت کړو وايي يا الله وچکالي ده فلانې ځای وچ شو فلانی ځای وسوځيدو خو دبادشاهۍ ځايونه ورته ښايي شپونکی ورته ګوري سهار شو بادشاه ورته ووې چې ماخو تاته خط درکړی وو چې څه حاجت دې وي راشه څه وکړم وايه ، شپونکي ورته وويل بس ته مې ليدلې بل حاجت نلرم هيڅ يې ترې ونه غوښتل او هيڅ يې ترې يونه وړل ، کور ته لاړو بی بی ورته وويل دسمې سړي څه درکړل هغه ورته وويل بی بی هغه خپله سوال ګر وو مابه څه ترې غوښتي وای او ما نه هم ډير سوالګر وو خو ما ځای وپيژندلو ځای مې پيداکړو او وخت مې هم معلوم کړو او هغه ترتيب مې زده کړو چې هغه ټوله بادشاهي په چا چلوله ، شپونکی نيمه شپه پاڅيدو اودس يې وکړو دوه رکعته لمونځ يې وکړو او په ژړا شو واي چې ای الله دهغه بادشاه ټوله بادشاهي خوته چلوې ماخو اوس ته وپيژندلې چې ته خو دبادشاهانو بادشاه ته يې دا زما غرونه راته اباد کړه چې څو سهار کيده نری نری باران شروع شو او په هفته نيمه کې دا ګياګانې داسې راوچتې شوې چې دشپونکي مال پړی موړ او ښې شدی ورکولې نور شپانه خبر شول چې دفلاني شپون سره منطقه اباده ده خپل مالونه يې دلته راوسته هغوې دده خدمت ته غاړه کيښوده چې ستا به خدمت کوو خو مونږ دلته پريږده لږه موده وروسته شپونکی سردار شو او هم مالدار شو ، اوس ووايي وخت مو وپيژانده ترتيب مو وپيژانده او هغه ذات مو هم وپيژانده نو څنګه مو خوښه ده دا به پس له دی عملي کوو کنه ؟ او مونږ به پس له دې رابطه صرف دالله پاک سره ساتو او خپلو بچيو او بی بی ته هم دا تربيه ورکړو او دا ورته ووايو چې ستاسو رزق دالله پاک په لاس کې دی بيشکه دا ددونيا اسباب دي ددی استعمال منع نه دې خو ګټه اوتاوان دالله پاک سره ده۔

ډير خلک دي دوکانداري وکړي دکال په اخر کې دسر روپۍ هم پکې ورکې کړي ، ډير خلک دي زمکه په اجاره واخلي اخره کې بيا ډير تاوان وکړي نو معلومه شوه چې دګټې او نقصان والا الله دی هغه الله چې مور به پياز او ډوډۍ خوړه او بچي ته به يې ترې سپينې شودي راويستلې که وګورو نو دخولې نه تر تيونو پورې يوه لويشت مسافه ده په خوله څه خوري او په تيونو کې څه ترې جوړيږي دا څوک کوي دا الله پاک کوي الله پاک ، که چيرې په شدو کې دپيازو بوی وی نو بيا به دا بويي چاترې لري کولی

داماشين چا پکې لګولی او دارنګه دی مور غرمه غوښه وخوړه مازدیګر ترې شدې چا جوړې کړې ؟ مور دشپې دال نخود وخوړه سهار ترې کوم ماشين دزيرو دالو نه سپينې شدې جوړې کړې ؟ او بيايې شنه پالک وخواړه له شنو پالکو نه دا سپينې شدې چا جوړې کړې ؟ دا کار پغير دالله نه بل څوک کولی شي ؟ او بيابه نيا اواز وکړلو چې ماشوم وتږه بيا به يې ترې تونې تاوکړې او کلک پلک به يې وتړلو او بيا هم مور راته شدې راکولې دا شدې مور کې چا پيداکولې او جوړولې ، الله ، اوس چې زلميان شولو روزي الله راکوي خو --- ايا هغه وخت پکې خو – وه ، او ګورې کله چې ماشوم تی روي درودلو چل ماشوم ته څوک ښيي ؟ ايا غوږونو کار کولو چې مور ورته ويلې وای چې بچيه تی کش کړه کش کړه ، او کله چې دميږې يا اوزې بچی پيدا شي لس دقيقې وروسته دمور په طرف ورځي تی ترې نيسي روي يې او چې کله شدې پکې کمې شي سر ورته تمبه کړي دبی دبی دمور غولانځه ووهي ښه يې پسته کړي لکه يخچال کې بوتل ايښی وي اوبه پکې يخې شوې وي چې لږ يې وډبوې نو يخ اوبه شي داچل ورته په دومره لږ وخت کې کوم ساينس دان او تکنالوجست وښوده ؟ ( الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى (2) وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى ) الله هغه ذات دی چې پيدا يې کړه اوبيايې برابر کړه او هغه ذات دی چې اندازه يې کړه او لارښونه يې ورته وکړه

يو انجنير ته مې وويل چې ديوې پايې په سر به څو کوټې جوړې کړې هغه راته وويل دی شلم قرن ته وګوره او ستا دی کم عقلوخبرو ته وګوره ما ورته ووی يو انجنير پيدا شوی جوړوي يې هغه وويل عالي تحصيلات يې چيرته کړي ما ويل دلته نژدې هلته مې دغومبسو جالې ته بوتلو ما ويل ګوره پايه يوه او کوټې مو چې حساب کړې شپيته کوټې پکې وي او هغه هم سر چپه او رازوړند، ددې کوټو مساله او کرش او سيمټ دکومه راځي او بيا پکې سرچپه هګې واچوي هغه بچی شي دکوټې خوله بنده وي بيا دا چا راويسته ؟ الله جل جلاله ورته وښوده ، انسان ډاکتر شي انجنير شي څومره غاوره وي خو دتوتکې انجنيري وګوره دښوی تير پوري څه قسم خپله ځاله نښلوي ، يوه ورځ دلته مرکز کې دتوتکو ځاله وه څلور پکې بچي وه مور او پلار يې دواړه جلا جلا معلوميدل زه ورته لږ ساعت ځير شوم پلار يې راغی خوراک يې راوړلو څلور واړو بچيو سرونه را وچت کړه خو يوه ته يې خوراک ورکړو بيايې مور راغله بيا څلور واړو سرونه را وچت کړه خو

خوراک يې دوهم ته ورکړ بيا يې پلار راغي دمخکې په شان څلور واړو سرونه راوچت کړه خو خوراک يې دريم ته ورکړ ما ويل عجيبه نظام دی مور او پلار يو بل څنګه خبرېږي چې ګوره سيدمحمد ته ماخوراک ورکړو ګل محمد ته يې ته ورکړه نو فکر مې وکړو چې دوی سره سم نظام روان دی ( الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى ، وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى )
الله پاک فرمايي ( سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ) زه دخپل قدرت دلايل ددوی شاوخوامحيط او ددوي په نفسونو کې يې هم ورته ښايم تر څو چې دا خلک اقرار وکړي چې الله حق دی ، دنارنج ، ليمواو مالتې بوټي يو دي د شل قسمه انګورو ونې بوټي پانې يو دي خاوره او اوبه يې يو دي کود ياسره يوقسم ورکول کيږي خو دا شنه او بانجاني او سره او زيړ رنګونه پکې دکومه شول ؟ او په دی کې دا جدا جدا خوندونه چا واچول (سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ ) دا ګرد چاپيره ميوو او دانو ته وګوره دا څوک پيدا کوي او جوړوي ؟ لااله الاالله ، دا دالله پاک کار دی بل څوک دا کارونه نشي کولای نو اواز به هم همدغه الله ته کوو دا ايمان دی دايمان فايده څه ده ګورې ورونو هرشی خپله فايده لري يو ايمان مطلوب دی يو ايمان موجود دی مطلوب او موجود ايمان دادی مثال برق کور ته راغلې دی خو تار يې نرې دی يخچال نشي چالانولی بخارې او پکئ نشي چالانولی برق خو شته خوتار يې کمزورې دی او برقي څه وايي چې پام کوه دا برق يخچال ته ورنکړې چې سوځوي يې دې برق ته به ستپلايزر لګوې چې درجه دبرق ۲۲۰ ته جګه کړي بيا يخچال چالانوي او سوځوي يې هم نه ، دبرق انرژي په سترګو نه ښکاري يوه ده خو ديخچال په ذريعه واوره جوړوي ،دايرکنډيشن په ذريعه هوا يخوي ، دبخارې په ذريعه هوا ګرموي شئ يو دی په سترګو نه ښکاري خو کارونه بيل بيل کوي ، داسې ايمان يو دی په سترګو نه ښکاري خو کارونه بيل بيل کوي دا ايمان مطلوب ايمان دی صحابه کرامو دا مطلوب ايمان زده کړې وو مطلوب ايمان صفات لري چې دچا په زنده ګې کې راغی په هغه کې يې صفات معلومېږي لکه دڅارندوي عسکر او دلوا سرحدي عسکر جدا جدا معلومېږي او دشاروالي والا بيل معلومېږي شاته يې سرې سرې يا زيړې زيړې پټې وي دشپې دموټر رڼا ته هم ځليږي په ډاګه معلومېږي چې دشاروالی کسان دي .

زما عزتمندو چې کله دا ایمان راشي لکه ابوبکر صدیق رضی الله عنه دا ایمان دمحمد علیه السلام نه یاد کړو کله چې دمسلمانانو امیر شو عمر فاروق رضی الله عنه به دشپې ګرځیدو دبې وسه خلکو حال به یي معلومولو سهار ګوري یوه کوټه ده دحویلۍ دیوال یې هم تیټ دی یوبوډۍ ښځه پکې ناسته ده کور یې پاک صفا جارو وه پوښتنه یې وکړه مورې خاوند دې شته هغې ویل نه ، زامن دې شته نه ده ورته وویل دا خدمت دې څوک کوي هغې وویل بچیه نه پوهیږم څوک راځي هر څه پاک کړي ،سبا عمر رضی الله عنه بیا راغی چې دا خدمت به څوک کوي چې ویې کتل بیا کور جارو وو اوزه لویشل شوې شدې تودې شوي اوبه تیارې دي بله ورځ بیا وختي راغی بیا هرڅه شوي وه څلورمه ورځ تیاره کې راغی چې ګوري له دې کوره صدیق اکبر رضی الله عنه راووتلو چې دمسلمانانو خلیفه او امیر وه دوه درې ورځې وروسته ابوبکر الصدیق رضي الله عنه وفات شو کله چې دده تدفین وشو عمر رضی الله عنه ته هغه بوډۍ مور ور په یاد شوه چې اخ چابه یې خدمت کړی وي خپلو ملګرو ته یې وویل زه په منډه چرته ځم کار لرم چې کله معذورې مور بی بی ته ورغې ځای جارو نه وو اوزه نه وه رالویشل شوې اوبه هم نه وې زر زر یې کور ورته پاک کړو اوزه یې راولویشله شدې یې ورته ګرمې کړې مخې ته یې کیښودې او به یې ورته راوړې ، بوډۍ مور وویل زویه الله دې درسره ښه وکړي مخکې یو بل سړی وختي راتلو نن هغه رانغی ته ناوخته راغلې عمر رضی الله عنه په کړیکو کړیکو په ژړا شو وی ویل مورې هغه ابوبکر صدیق وو زمونږ امیر وو نن هغه ستا دکور په ځای بل کور ته لاړو چې بیاېې دونیاته راتګ نشته ښځه دغه وخت کې خبره شوه چې زما خدمت امیر کولو چې هغه دخارو لاندې شولو .

دی ته وایي ایمان خدمت یې صرف دالله درضا لپاره کولو هیچاته یې ځان نه ښودلو .

فاروق اعظم رضی الله عنه دمدینې په کناره کې ګرځیدو رڼا یې وکتله نژدې ورغی یو سړی ناست دی دهغه نه لږ اخوا دزویرګي اواز راځي دی ورته واي شپونکیه څه خبره ده هغه پرې غوصه کیږي چې څه یې کوې ده ورته ووې نه ضرور اوایه هغه وویل زما بی بی ده دماشوم دپیدا کیدو تکلیف دی ده ورته ووی بله زنانه ورسره شته ، هغه وویل نه عمر رضی الله عنه

په منډه منډه خپل کور ته لاړو خپلې بی بی ته چې دعثمان رضی الله عنه لور وه وویل الله پاک تاته دخدمت لپاره موقع برابره کړې خدمت ته تیاره یې هغې ویل هو ولې نه څه دي ده ورته وویل هغلته یو شپونکی دی دبی بی یې ماشوم پیدا کیږي ته یې دایتوب وکړه ، ربښتیا ووایې چې نن سبابه یو تبلیغي چې کلونه کلونه یې لګیدلي وي او یا دیوې دیني مدرسې مهتمم به داسې وکړي بادشاه او قوماندان صاحب خو لا څه کوې ؟  په لکونو او کروړونو علماء او تبلیغیان دی دعمر رضی الله عنه دیو ویښته نه قربان شي .

زما عزتمندو بی بی یې له ځان سره کړه څه توتې او خوراک شیونه یې هم راواخسته زر زر لاړه بی بی یې دننه خیمې ته ولیږله او ده زر زر اور بل کړو غوړي یې واچول حلوا یې پخه کړه دخیمې نه یې بی بی اواز وکړو چې امیر المؤمنین دوست ته دی زیری ورکړه چې زوی دی پیدا شو  ، دادی ایمان ( فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا) ای صحابه وو که دا ورستنیو خلکو ستاسو په شان ایمان راوړو او زه یې وپیژندلمه نو سمه لاره یې پیدا کړه (وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّما هُمْ فِي شِقاقٍ) او که لاره یې بدله کړه نو دوی بد بخته شوه.

شاعر وایي ( قسم بکعبه نمي رسي ای اعرابي  ـ این راه که تو مې روي به ترکستان است ) ای اعرابي مقصد ته نشې رسیدی دا ته چې په کومه لار روان یې دا ترکستان ته تللې ، اوس ووایې چې مونږ کومه خوا روان یو کعبې ته که ترکستان ته ؟

زمونږ دمریض پوښتنه هم په بدل ده فلاني ماته نه وو راغلی والله که زه هم  ورشم ، څوک چې دمریض پوښتنې ته ورشي مازدیګر وي تر سهاره او که سهار وي تر مازدیګره اویا زره ملا ئیکې ورته دمغفرت دعاء ګاني کوي او مونږ وایو والله که ورشم ، دهغه مریض له وجه الله پاک دې پوښتنه کونکې ته اویازره ملائیکې مقرروي که پخپله همدا مریض درته دعاء وکړه څومره اجر به وي ، دا مونږ چې تباه یو دالله پاک حکمونه مو مات کړي الله پاک مو خفه کړی دی .

موسی علیه السلام الله پاک ته سوال کوي چې ای الله مونږ څنګه پوه شو چې ته مونږ نه خفه  یې او که خوشحاله ؟ الله پاک ورته وویل موسی زما دخفګان علامه داده چې ستاسو باران ته حاجت وي او زه یې دربانده بند

کړم زه خفه یم ،که حاکمان مې دربانديِ ظالمان مقرر کړه زه خفه یم ،که مالداران بخیلان شوه زه خفه یم ،اوس ووایې الله پاک زمونږ نه خفه دی که خوشحاله ؟ ناراضه دی ناراضه ، ته اوس دیوحاکم دفتر ته ورشه بیا که نر وې په خیر ترې راووځه ، ته محکمې ته ورشه هغه چا چې دشرعیاتو پوهنځې لوستی او دین یې دژبې په سر دی ته خو بیرته ترې روغ راووځه ، داولې ؟ ځکه مونږ الله پاک خفه کړې ظالمان یې په مونږ حاکمان کړه ،که مونږ الله پاک راضي کړو دعمر فاروق رضی الله عنه غوندې حاکم به راکړي چې په نیمه شپه به لکه غلام غوندې راته خدمت ته ولاړ وي .

دهر شي اثر وي ، کوم کور کې چې رات کې رانې گل وي خوشبوي یې دکور نه دباندې راوځي او کوم کور کې چې گل مو په مخ ډیران وي بد بوي یې هم دباندې راوځي ، دغسې په کوم کور کې چې قرأن لوستل کیږي دهغې کور نه گرد چاپیره درحمت ملائیکې گرځي راگرځي او په کوم کور کې چې تلویزون او ساز سرود وي په هغه کور به دالله عذاب وریږي دخوشحالې طمعه ترې مه کوې ، دالله نبي فرمایي په کوم کور کې چې تصویر او یا سپی وي هغه کور ته درحمت ملائکې نه راځي اوس چې دا بازارونه دعکسونو ډکه ډک دي دې بازارونو ته به درحمت ملائیکې راشي ؟ دا ددوشمن سکیمونه دي او عذاب دی .

یو صحابي راغی نبي علیه السلام ته یې وویل ورور مې مریض دی هغه ورته وفرمایل لاړ شه عثمان رضی الله عنه ته ووایه چې شات راکړه صحابي راغی عثمان رضی الله عنه ته یې وویل ای عثمانه ماته شات راکړه ورور مې ناجوړه دی ، قافله راغله پنځوس شپیته اوښان دي قافلې والا نه پوښتنه کوي شات پکې شته هغوی وویل هو شته دا مځکې اوښ دواړه ژې یا دځرمنو بوجیو کې شات دي عثمان رضی الله عنه ورته وویل ده ته داکاسه ترې ډکه کړه غلام ورته ووی قربان دا وری کړیږي ورته یې وویل ټول وری ورکړه غلام ورته ووی دا پغیر له اوښه نشي وړلی وایي دا اوښ هم ورسره ورکړه غلام ووی دا اوښ دټولو سرداراوښ دی پغیر له دغه اوښ قافله نه ځي هغه ورته وویل دا ټوله قافله ورکړه غلام زر تر زره پرې له لاسه خوشې کړو چاورته وویل چې څنگه دې پرې زر خوشې کړو غلام وویل که ما ویلې وای چې قافله پغیر له ما نشي تللی نو زه یې هم ورکولم عثمان رضی الله عنه ته خو غلامان زیاد پیدا کیږي خو ماته دعثمان غوندې

بادار بیا کله پیدا کیږي ، عثمان رضی الله عنه پوهیدو چې دا محمدالرسول الله رالیږلی دی نو دهغه درالیږل شوي ځخه یې توله قافله قربان کړه .
دی ته وایي ایمان عثمان رضی الله عنه همدغه کلمه ویلې وه کومه چې مونږ وایو لااله الاالله محمد الرسول الله دهغه عمل ته وګوره او ماواوتاته وګوره کنه نو کلمه مو یوه ده ، نن چې کله دمدرسي طالب العلم په دروازه کې اواز وکړي چې الله مو اوبښه وظیفه راوړې ربښتیا وواییې کومه ډوډۍ ورکوو توده که سړه ؟ کوم قطغ یاترکاري ورکوو زوړ که تازه ؟ او بیا ورپسې اواز هم کوو زار مو شه یوه ورځ خو مونه ده هره ورځ راخوشې یې ( **يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِما تَعْمَلُونَ**) ای مؤمنانو دالله نه وویریږۍ او هریو کس به یې سبا ته وګورۍ چې دځان نه یې مخکې څه لیږلي دي .
عثمان رضی الله عنه دیوې کاسې شاتو پر ځای توله قافله داوښانو سره ورکوي چې دا سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم رالیږلی دی نن ما اوتا دقرأن دحافظ او عالم قدر کوو اوکنه ، تر دې چې ددې فرق نکوو چې داعالم دی که مزدور په ورځ دقیامت به حافظ دقرأن ته وویل شي راشه لس کسه دخپلو دوستانو ځخه جهنمیان چې دګناهونو له وجه جهنم ته تللي دي سفارش وکړه ، خوشحالي خو به دهغه چاوي چې زوی یې حافظ وي او دی له جهنمه راوباسي چې بابا راځه خورې راځه مورې راځه ، بیشکه ددونیا منصبونه پرې وګټه خو والله که خودې له جهنمه راوباسي ، عالم به راوغواړي چې ای د قرأن عالمه ای دحدیثو عالمه راشه داسمان دستورو په اندازه دجهنم ګنهګارانو خلکو سپارش وکړه او جنت ته یې بوزه زما عزتمندو خپل بچي به حافظان او عالمان جوړوو دا ډیر لوي منصب دی
یوبله خبره زما او ستا حجره پخپلو پیسو جوړو که چنده ورته راټولوو او که څوک ورته چنده راټوله کړي مونږ هغه ته بې غیرته وایو خو دالله کور ته چنده راټولو کوم یو په خپلو پیسو مسجد جوړ کړی خپل کور په خپلو پیسو جوړو او دالله کور په چنده او سوال جوړو، ولې داخیرات خور الله پاک دی ؟ کټ مو اچولی وي راواچوی چنده راواچوۍ چې دالله پاک کور جوړیږي بیا جبونه لټوو چې دسودا نه کومه میده روپۍ پاته وي هغه دمسجد په چنده کې اچوو ، او چې بیا ترې پوښتنه وکړې حاجي صاحب دا روپۍ دی دکومه کړي نو وایي شکر دی الله راکړي دي ،ورونو دا خبرې زه

اول خپل ځان ته کومه رحمان بابا واي : نوم دا ستا او دبل اخلم ځان ته وايم ــ څه مې کار څه مې غرض دی په بل چا.
نو کوشش وکړو مساجد پخپلو پيسو داو طلبانه جوړ کړو هريو دبل نه پکې ډيرې ولګوو او دالله په لار کې ښه مال ولګوو خراب نه (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ) دايمان کاملې درجې ته نشئ رسيدلی (حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ )تر څو چې کوم په تاسو ګران وي هغه مال دالله په لار کې خرڅ نه کړی.
دا ايت په قرأن کريم کې په څلورمه سپاره کې دی رښتيا ووايې مونږ کله په دې ايت عمل کړی ؟ طالب چې وظيفه غوښتې سره ډوډئ مو وروړې او که توده ډوډئ او يا کله مو دمستو کټو مولوي صاحب ته وړې ، دا ايت چې ابوطلحه رضی الله عنه واوريدو دالله نبي ته وايي چې الله ښه مال غواړي هغه ورته وفرمايل هو ښه مال غواړي ابو طلحه رضی الله عنه ورته وويل ای دالله نبي صلی الله عليه وسلم زما داباغ ډير خوښ دی دا ما الله ته ورکړو په دی کې پنځه سوه ونې وې دخرماو نه ډکې وې داوبو ښکلې چينه او مزه دارې اوبه پکې وې په هره ونه کې چې درې منه خرما ونيسې نو يونيم زر منه خرما شوې دايې الله ته ورکړې ، نو له دې نه پس دچا اراده ده چې مونږ به مدرسې ، عالم او مسجد ته ښه نه ښه مال به ورکوو ( الدَّالُّ عَلَى الخَيْرِ كَفَاعِلِهِ ) دخير طرف ته بلل داسې دي لکه هغه کار چې ده پخپله وکړلو .
ورونو دمرګ او قيامت هغه سختې شيبې مخې ته کړو او بيا هغسې عمل وکړو څنګه چې لازم وي ، فرمايي چې ستا ډوډئ دې متقيان اونيکان خلک اوخوري نو ځکه خو عثمان رضی الله عنه ديوې کاسې شاتو په ځای ټوله قافله ورکړه دا دايمان علامه ده .
زمونږ دايمان اندازه داده لکه يوسست برق چې فقط هغه سره اشاره يې لګولې خو نور يخچال يا پکی سوځوي دومره ضعيف دی .
دعلي رضی الله عنه نه زغره پريوته يوه يهودي واخسته ددوی دعوه شوه يوه ويل زما ده بل ويل زما ده موضوع قاضي ته راغله قاضي شريح دی هغه چې علي رضی الله عنه وليده وويل علي په خپله قاضي دی شريح له خپله ځايه اوچت شو او خپله توشکه يې وده ته پريښوده يهودي ګوري چې اوس به مسلمان څه قسم فيصله کوي قاضي ورته وويل امير المؤ منين څنګه راغلی يې هغه وويل ځما نه زغره پريوتې او دغه يهودي راخستې

زما زغره ده دی پرې دعوه کوي هغه ورته وویل ته مدعې یې هغه ویل هو دوه ګواهان شته ؟ علي رضی الله عنه ورته وویل یو حسن ځما زوی دمحمد علیه السلام لمسی او دا بل زما غلام وه او اوس مې ازاد کړې دی قاضي وویل دا غلام ګواه منم خودا نه منم هغه ورته وویل ولې دا ته نه پیژنې چې دمحمد الرسول الله لمسې دی قاضي وویل ښه یې پیژنم خو دهمده نیکه راته ویلي چې دچا په کوم مال کې حصه وي دهغه پکې ګواهي نه چلیږي دا ستا زوی دی قاضي ویل بل ګواه راوله هغه وویل بل ګواه خونشته قاضي یهودي ته وویل زعره ستا شوه ، یهودي چې دا فیصله ولیده چغه یې کړه لااله الاالله محمد الرسول الله ایمان یې راوړو او ویل یې ما مسلمانان لیدلې وه مسلماني مې کتله ، علي رضی الله عنه چې وکتل یهودي ایمان راوړو جب ته یې لاس کړو اوه سوه درهمه ورسره وه هغه یې هم ورکړه خپل اس یې ورته خلاص کړو هغه یې هم ورته بخشش کړو .
نیمه شپه ده یوه لور اوزه لویشي مور ته یې اواز کړو مورې اوزې نن شدې کمې وکړې موریې امتحاناً وویل لورې لږ اوبه پکې واچوه لور ورته وویل مورې عمر فاروق رضی الله عنه په شدو کې داوبو اچولو نه منع کړې ده مور ورته وویل په دې توره شپه کې عمر فاروق چیرته دی لور ورته وایي مورې که عمر فاروق نشته الله خویې شته ، عمر فاروق رضی الله عنه ددروازې شاته ولاړ دی خبره یې واوریده .
سعد اسود یو تور صحابي وو او مخ باندې یې دانې هم وې نبي علیه السلام ته راغی ورته یې وویل ای دالله نبي خلکو ودونه وکړل ماته هم واده وکړه ، ددی نه مخکې دمدینې یوتجار راغلی وو نبي علیه السلام ته یې وویل ای دالله نبي لور مې پیغله ده چاته یې په نکاح کړه ، نبي علیه السلام سعد اسود ته وویل لاړ شه فلاني صحابي ته ووایه چې تا نبي علیه السلام ته کومه خبره کړې وه هغې ته یې زه رالیږلی یم ، لاړ دروازه یې وټکوله هغه راووتلو ورته یې وویل سعداسوده څنګه راغلی یې هغه ورته وویل تاچې کومه خبره سهار کړې وه هغې ته یې زه رالیږلی یم ، سړي وکتل یو خوا شهزادګۍ دتجار لور او بل خوا تور غلام او په مخ یې هم دانې ، ورته یې وویل لږ صبر وکړه کور ته ننوځم ، لور یې ددروازې نه دننه دپلار او سعد اسود خبره اوري ، کله چې ننوتلو لور یې ورته ووی پلاره څوک دی پلار ورته ووی لورې سهار مې نبي علیه السلام ته ستا باره کې ویلې وه چې

لور مې پیغله ده چاته یې ورکړه هغه سعد اسود رالیږلی دی هغې ورته وویل نو ته څه غواړې ؟ هغه ورته وویل دمور سره دی مشوره کوم ، هغې وویل دڅه شي مشوره کوې ؟ پلاره څوک چې راغلې هغه ته مه ګوره چاچه رالیږلی هغه ته وګوره زما قبول دی زما نکاح ورسره وتړه .
نن سبا مسلمانان شته خو مسلماني نشته که مونږ داسې حالت سره مخ شو نو وبه وایو نه نه ده سره خپلوې نه کوو ، که حافظ دقرآن لپاره مرکه وکړو وایې نه نه لور به مې دوظیفې تږوک ته ناسته وي ، دا تاسو ووایې چې زمونږ خپلولي په ایمان باندې ده او که په بې ایماني باندې ؟ دیني استعداد یې ګورو که دنیوي استعداد یې ګورو او که بنګلوته یې ګورو ؟
سعد اسود نبي علیه السلام ته لاړو زیری یې ورکړو چې کار وشو هغه ورته وفرمایل لاړ شه عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ته او هغه ته ووایه چې دولیمې روپۍ درکړي ، دعبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه کور دمدینې په کناره کې وو چې ورغی عبدالرحمن رضی الله عنه دخپلې بی بی سره په کور کې په لانجه بوخت وو چې بیګاه ولې تیل زیات سوځیدلي سعد اسود رضی الله عنه بیرته راوګرځیده چې دا څومره سخت سړی دی چې دبی بی سره یې په تیلو جګړه ده نو ماته به دولیمې روپۍ چرته راکړي بیرته لاړ دالله نبي ورته وویل پیسې یې درکړي نه ای دالله نبي هغه پخپله دخپلې بی بی سره په تیلو جنګ وه نو ماته به یې څنګه راکړې وې هغه ورته وفرمایل خیر دی بیا ورشه راغی دروازه یې وټکوله عبدالرحمن رضی الله عنه راووتلو وی ویل سعده څنګه راغلی یې وی ویل دالله نبي رالیږلی یمه کوژده مې وشوه دولیمې روپۍ هغه لاړو یوه بوجې یې داشرفیو ورته راوړله وی ویل واخله سعدرضی الله عنه ورته وویل عبدالرحمن زه مخکې راغلې ووم تا دخپلې بی بی سره په تیلو جنګ وه او او س دی دا بوجۍ دپیسو داسې راکړه لکه چاباندې چې پیټې وي او له خپلو اوږو یې راښکته اوبل له یې ورکړي هغه ورته وویل چې زما ورسره په دی جنګ وو چې مونږ په هغې کې دالله بنده ګې نه وه کړې او تیل سوځیدلې وه دهغې مونږ نه قیامت کې پوښتنه کوي او دا تا ته مې چې درکړې ددی بدل مونږ ته په قیامت راکول کیږي ، سعد اسود مدینې بازار ته راغې قراره قراري ده هیڅوک نشته مسجد نبوي ته راغی هلته هم څوک نشته نبي علیه السلام هم نشته مشران صحابه یو هم نشته پوښتنه یې وکړه چرته دي چا وویل هغوې

فلاني ځای ته جهاد ته تللي ده وويل هو ته به واده کوې او هغوی به نه وي لاړ په دغو پيسو يې اس او دجنګ سامان واخسته او په هغه طرف روان شو چرته چې نبي عليه السلام تللي وه  په جهاد کې شريک کيږي اوياغشي په سينه لږيږي نبي عليه السلام امر وکړ چې دشهيدانو لاشونه راجمع کړې ګوري چې سعد اسود پروت دی او وينې ترې رواني دي ،رسول الله صلى الله عليه وسلم راغې او دده سر يې په خپله غيږ کې کيښوده اودده آس او اسلحه يې دده ښځې ته وليږله او ورته يې وفرمايل چې ورته ووايې چې الله هغه ته ستاسو له پيغلې ښځه غوره بی بی په نکاح ورکړه او دا ستاسو ميراث دی . چې داقصه دجلبيب دقصې په شان ده چې مخکې تيره شوې

فقال: خطبت إِلَى عامة من بحضرتك، ومن ليس عندك، فردني لسوادي ودمامة وجهي، وَإني لفي حسب من قومي بني سليم، قال: " فاذهب إِلَى عمر "، أو قال: " عمرو بْنِ وهب "، وكان رجلًا من ثقيف، قريب العهد بالإسلام، وكان فيه صعوبة، فاقرع الباب، وسلم، فإذا دخلت عليهم، فقل: " زوجني نبي اللَّه فتاتكم "، وكان له ابنة عاتق، ولها جمال وعقل، ففعل ما أمره، فلما فتحوا له الباب، قال: إن رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زوجني فتاتكم، فردوا عليه ردًا قبيحًا، وخرج الرجل، وخرجت الجارية من خدرها، فقالت: يا عَبْد اللَّهِ، ارجع، فإن يكن نبي اللَّه زوجنيك فقد رضيت لنفسي ما رضي اللَّه ورسوله، وقالت الفتاة لأبيها: النجاء النجاء قبل أن يفضحك الوحي، فخرج الشيخ حتى أتى النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال: " أنت الذي رددت علي رسولي ما رددت "، قال: قد فعلت ذاك، واستغفر اللَّه، وظننا أَنَّهُ كاذب، وقد زوجناها إياه، فقال رَسُول اللَّهِ: " اذهب إِلَى صاحبتك فادخل بها "، فبينا هو في السوق يشتري لزوجته ما يجهزها به، إذ سمع مناديًا ينادي: يا خيل اللَّهِ اركبي، وبالجنة أبشري، فاشترى سيفًا، ورمحًا، وفرسًا، وركب معتجرًا بعمامته إِلَى المهاجرين، فلم يعرفوه، فرآه رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلم يعرفه، فقاتل فارسًا حتى قام به فرسه، فقاتل راجلًا وحسر ذراعيه، فلما رَأَى رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سوادها عرفه، فقال: " سعد؟ " قال: سعد.فلم يزل يقاتل حتى قَالُوا: صرع سعد. فأتاه رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فوضع رأسه في حجره، وأرسل سلاحه وفرسه إِلَى زوجته، وقال: قولوا لهم: " قد زوجه اللَّه خيرًا من فتاتكم، وهذا ميراثه  وما أشبه هذه القصة بقصة جليبيب، وقد تقدمت. ( اسدالغابه ط العلميه  ۲ ج ۴۱۸صفحه )

دجنت حورې (كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ) مخونه يې ګلابي دي شنډې اناري دي دملغلرو غوندې ښايسته دي (لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلا جَانٌّ  ) تراوسه ورته نه چاګوتې وروړې او نه دکلې خليفه ورته ويښتان جوړ کړي نه دکلي ملا صاحب ورته په غوږ اذان کړی او نه يې دم کړې اونه کاکا او ماما غيږ کې نيولی (حُورٌ مَقْصُوراتٌ فِي الْخِيامِ ) دالله نبي فرماي که دجنتي حورې په خيمه کې لمر له يو کنجه روان شي سلو کلونوکې به دخيمې بل کنج ته ونه رسيږي په داسې خيموکې بندې کړی شوي دي الله پاک فرمايي (إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ: " أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لا عَيْنٌ رَأَتْ وَلا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ ) ما دخپلو صالحو بنده ګانو لپاره داسې نعمتونه ساتلي چې سترګو نه دي ليدلي غوږونو دهغې صفت نه دی اوريدلی او نه په زړه کې دهغې وسواس او خاطرات تير شوی (هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُمْ مَا يَدَّعُونَ سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ ) دوې او بيبيانې به يې په سوري کې قلاره تکيه کونکي ناست وي دوی ته به ميوې ورکول کيږي بلکه څه چې غواړي هغه به ورکول کيږي او بيا به

دپاسه ورباندې الله رحیم دسلامونو اواز کوي (وَالْمَلائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بابٍ ) ملائکې به دهرې دروازې نه ورته راځي او په دوی به سلامونه اچوي او ورته به واي مزې کوئ (سَلامٌ عَلَيْكُمْ بِما صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ) په سبب دهغه چې په دونیا کې مو صبر کړې وو او څومره ښایسته او دنعمتونو ډک کور دی ( الله دی زمونږ نصیب کړي ) (إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ) دالله نه ویریدونکي خلک به په باغونو اونهرونو کې وې (فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ مُقْتَدِرٍ ) په لوړو درجو کې به وي  دزرور بادشاه دربار کې به همیشه ناست وي .

داهغه خلک دي چې متقیان دي او متقیان هغه خلک دي چې هرمحل هروخت دالله نه ویرېږی او دهغه خبره هروخت مني او په هرعمل کې سوچ او فکر کوي چې په دغه کار زمانه الله پاک خفه کیږي که خوشحالیږي  په دغه کار الله پاک ما جهنم ته بیایي او که جنت ته زما عزتمندو همدا دایمان علامې دي چې دا ایمان نر ښځه غریب مالدار وړوکي غټ ټولو کې راشي نو بیا وګورې الله پاک څه فیصله کوي ( وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرى آمَنُوا وَاتَّقَوْا ) که دا کلیو او قریو والا ایمان راوړي او الله خفه نه کړي ( لَفَتَحْنا عَلَيْهِمْ بَرَكاتٍ مِنَ السَّماءِ وَالْأَرْضِ  ) الله پاک فرمايي نو زه به خامخا داسمان او زمکې نه دبرکاتو دروازې پرې راخلاصې کړم  خو دوی دی دوه کاره وکړي یو ایمان دوهم دالله نه ویره پیداکړي یعنې اول به الله پیژني بیا به یې خبره مني.

حجاج بن یوسف دبیت الله شریف نه طواف کولو یو چا قرأن لوستلو او بیابه یې دخلکو نه سوال کولو ورسره کیناستو سړي ته یې وویل قرأن دې زده دی هغه وی هو حجاج ورته وویل چې په دې دې کار نه کیږي هغه وویل نه کار نه کیږي حجاج لاړه دوه منئ تیګه یې دده مخې ته کیښوده ورته یې وویل دا څه شئ دی هغه وویل تیګه ده حجاج ورته وویل زما دی په هغه ذات قسم وي چې چا ستا په دی زړګي کې قرأن ځای کړی که تر سبا سهاره پورې دی داتیګه په دی تلاوت په سرو زرو بدله نه کړه  په دی توره به دې سرکټ کړم  ما پیژنې زه حجاج بن یوسف یم ده سړي حجاج پیژانده چې خپله خبره نه بدلوي چې څه وواي هغسې کوي دسړي نه سوال هیر شو او دخپل سر ورسره غم شو  دکعبې له غلاف سره به ونښتو او چغه به یې کړه چې یا الله حجاج مې سهار وژني چې ساعت تیرېږي سړی نری کیږي  سهار چې حجاج لمانځه ته راغی سړي دکعبې په غلاف یا پوښ کې ځان تاو کړی

وو چې ددی په خاطر به ماته څه ونه وايي هغه دلاسه ونیوه او رادیخوا یې کړو سړی رپیدو چې اوس به راځخه سر غوځوي ورته یې وویل هغه څه شئ دی هغه چې وکتل هماغه تیګه پړکاری کوي دسرو زرو تجلا یې کوله ویې لیدل چې دسرو زرو ګرځیدلې حجاج ورته وویل دچا له ډاره دی ورته ژړلي ؟ سړي ورته وویل ستا له ډاره مې ورته ژړلي حجاج ورته وویل قسم په الله که دالله له ډاره داسې وژاړې غرونه به درته سره زر کړي ( إِنَّما أَمْرُهُ إِذا أَرادَ شَيْئاً أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ) کوم کار ته چې اراده وشي فقط ورته وايي شه نوهغه کار وشي ،

چې زمکې ته ووايي وخوزیږه نو څوک شته چې راتینګه یې کړي ؟ که سمندر ته ووايي چې اوبه دی راوچتې کړه څوک شته قابو یې کړي ؟

نو زما ورونو که دا کلیو والا الله پاک داسې وپیژني نوملک به اباد او ګل ګلذار شي دا زمونږ ملک ولې وران دی وچکالیاني ولې ډیرې دي ځکه چې مونږ هغه اصلي ځای ته متوجه نه یو په اصلي ځای زور نه اچوو چې کار ترې کیږي مونږ بې ځایه زورونه شروع کړې لکه مبایل کې پیسې نشته او ته په تکمو لګیاوې زورونه وهې هغه درته وايي ستا په مبایل کې دوصلیدو پیسې نشته چې اواز دي ځای له ورسیږي اوس دا راته ووايي چې مبایل کې روپۍ ډیروو او که لاس تر زنې ورته کینو ؟ بلکه پیسې پکې اچوو چې دومره زور پکې پیدا شي چې زمونږ اواز تر ځایه ورسوي .

مونږ دعاء کوو یا الله امن راولې قراري راولې ، نه امن راځي نه قراري راځي ولې هغه شئ نشته چې اواز ځای له ورسوي (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ ) چاچې الله وپیژندلو او دالله پاک نه یې پغیر بل چاته سترګې وانه ړولې او دخپل الله سره یې بل څوک شریک نکړو دغو خلکو ته امن دی او دوی به په سده لاره روان وي او جنت ته به رسیږي ،

زما عزتمندو ورونو اوس خو معلومه شوه چې د ملک ابادي او امن په ایمان راځي او چې کله دالله پاک په دې صفاتو (الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ) ایمان راغی ښایسته ژوند شروع شو (مَنْ عَمِلَ صالِحاً ) څوک چې نیک اعمال وکړي دمحمد علیه السلام تابعداري وکړي او صالح عمل هغه ته وايي چې دنبي علیه السلام په ترتیب برابر وي .

يو سړی دی په لمانځه ولاړ دی په قیام کې التاحیات لولي او په قاعده کې بیا الحمدلله لولي دا لمونځ کیږي ؟ تاسو ټولو وویل چې نه نه کیږي په داسې حال کې چې دا دواړه الحمدلله او اتحیات په لمانځه کې شته خو ترتیب یې غلط کړی لاندې باندې یې کړی نو ځکه لمونځ غلط شو .
مؤذن چې کله اذان کوي شیطان تښتي او په ورځ دقیامت دمؤذن اواز چې هر شي اوریدلی وي لکه ونې بوټې په ده ګواهي ورکوي او څومره پورې چې دده اواز ځي تر هغه ځایه زمکه دده لپاره دنیکیو څخه ډکیږي او څومره انسانان چې دده په اواز لمانځه ته راځي ددومره کسانو دقبول شویو لمونځونو اجر دده په عملنامه کې لیکل کیږي.
ورونو دا اذان ددین دیو رکن لپاره دعوت دی دومره اجر او ثواب الله پاک ورکوي چې دټول دین لپاره څوک دعوت چلوي دهغه لپاره به څومره اجر او ثواب وي اوس که همدا قیمتي اذان داختر دلمانځه لپاره وکړي دغه سړي ګټه وکړه او که تاوان ؟ تاوان یې وکړو ځکه چې نبي علیه السلام داختر لمانځه لپاره نه دی ویلي .
الله پاک ته دانسان هغه حالت ډیر خوښ دی چې دی په سجده پروت وي او سر یې په خاورو کې ایښی وي ، که یوسړی په لمانځه کې ددوه سجدو پر ځای درې سجدې ولګوي لمونځ یې کیږي او یا یوه سجده وکړي ؟ تاسوخو ټول وایې چې نه نه کیږي ولې نه کیږي ؟ ځکه نه کیږي چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دطریقې خلاف یې وکړو په دین کې نه څوک کموالی کولی شي او نه زیاتوالی (مَنْ عَمِلَ صالِحاً ) په نیکو اعمالو کې به قدم په قدم درسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري کیږي (مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثى وَهُوَ مُؤْمِنٌ ) که نارینه وي که زنانه وي (فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَياةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ ما كانُوا يَعْمَلُونَ ) ښایسته او پاک ژوند به ورکړم او دده دعمل نه به زیاته اوښکلې بدله ورکړم .
دا په څه حاصلیږي په ایمان او دنبي پاک صلی الله علیه وسلم په تابعداري حاصلیږي . ورونو کله چې دسړي ژوند ښایسته شو نو بیا دا سړی غواړي چې منصب یې هم زیات شي لکه دا وکیلان ټول پیسه داره ښه ژوند لري نو اوس دلوړ منصب دحاصلولو لپاره یو خوا بل خوا منډې رامنډې وهي هر سړي ته ماما وایي چې ووټ راکړي ، ما یو چاته وویل که دادومره منډې مو دالله لپاره کړې وی نو الله پاک به درته دا تیکې یاقوت ګرځولې وه او

دالله پاک سره هرڅه ډیر دي ( وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ)څوک چې الله وپیژني اوعمل درسول الله په طریقه سره وکړي الله پاک به یې دټولې زمکې بادشاه کړي (كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ) لکه مخکنیو ته مې چې ورکړې وه .
یوخو دټوپکو بادشاهي ده ، عسکر لاره کې ولاړ وو یو مولوی صاحب راغی عسکر ورته وویل مولوی صاحب لړ ودریږه چې دا رزیل تیر شي کوم حکومتي مشر راروان وو چې کله تیرشو ، مولوي ته یې وویل مولوي صاحب مهرباني وکړه څه رزیل لاړه او هغه ته یې رزیل وویل او مولوی ته یې مولوي صاحب وویل ، عسکر دټوپکو بادشاه ته څه وویل او دزړه بادشاه ته یې څه وویل او دهماغه نه تنخواه هم خوري ، کله چې مونږ ابوبکر نوم اخلو نو ورسره وایو رضی الله عنه ، ایا هغه مو لیدلی دی ؟ خو زمونږ دزړه بادشاه دی ځکه ورسره رضی الله عنه وایو ټول پیغمبران ، صحابه کرم علماء کرام زمونږ دزړه بادشاهان دي ځکه یې نومونه په عزت سره اخلو او که زه ووایم قارون ، فرعون تاسو به زړه کې ورته څه تیر شي لعنت الله علیه دا ځکه چې هغوی دټوپکو بادشاهان وه کنه نو اسباب ماديات ټولې نقشې ورسره وې خو بیاهم دهغه پسې دالله لعنت دی .
نو دزمکې خلافت الله پاک ایمان والا او دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نوراني طریقو والا ته ورکوي او کله چې چاته بادشاهي ورکړل شوه هغه دوستانو ، وزیرانو ته ضرورت لري چې بادشاهي پرې سمبال کړي ( إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا) چاچې ایمان راوړو او دنبي علیه السلام اتباع یې وکړه نو رحمن بادشاه به دده محبت دخلکو په زړونو کې واچوي دده په لیدلو بیا خلک شکر اوباسي چې الحمدلله فلاني مې ولیدو چا به لیدلی هم نه وي خو په نوم به یې خلک عاشقان وي ځکه چې الله رب العزت ته چې څوک نژدې شي الله پاک جبریل علیه السلام ته ووایي فلاني ما په دوستۍ نیولی هغه ورته وایي یا الله ماهم ونیولو زمکې اسمانونو والا ته اعلان وشي چې تاسو یې هم په دوستۍ ونیسئ او برعکس کوم شخص چې دالله درحمت نه لیري شي الله پاک ووای جبریله فلانی ما په دوشمنۍ ونیولو جبریل ووایي ما هم ونیولو زمکې اسمانونو والاو ته اعلان وشي چې فلانی په دوشمنۍ ونیسئ بیا هر چاته

يې چې نوم اخلې وايي ورک کړه رنګ دی ورک شي نوم يې راته مه اخله
.
( إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمنُ وُدًّا ) څوک چې ايمان راوړي او نيک اعمال وکړي نو دوستان به يې ډير شي ، نو دا کار چې وشي بيا مهمانخانې ته ضرورت دی الله پاک ورته مهمانخانه هم ورکوي (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحاتِ كانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلاً ) چاچې ايمان راوړو او نيک اعمال يې وکړه جنت فردوس به يې مهمانخانه وي ، نبي عليه السلام فرمايي (خلق الله جنَّة عدن بِيَدِهِ لبنة من درة بَيْضَاء ولبنة من ياقوتة حَمْرَاء ولبنة من زبرجد خضراء ملاطها الْمسك وحصباؤها اللُّؤْلُؤ وحشيشها الزَّعْفرَان وَسَقْفُهَا عَرْشُ الرَّحْمَنِ ) يوه خښته به يې دسپينو ملغلرو وي يوه خښته به يې دسرو ياقوتو وي بله خښته به يې دشنو زمرودو بله دمرجانو سمټ به پکې دمشکواو عنبرو لګيدلي وي دروازو مخې ته ټول مرواريد او ملغلري خو وړې وړې دي ګياه ګانې يې ټول زعفران دي او سقف يې درحمن بادشاه عرش دی او اواز به کيږي (سَلامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ ) . زما عزتمندو ورونو ددونيا به څه زنده ګي وي نو ددونيا ابادي خوشحالي امن سکون او ارامي الله پاک دايمان او اعمال صالحه سره وتړله او دا ايمان راځي په محنت اوخوارۍ سره ، کور ته چې برق او رڼا راولې نو مفته به يې راوړې که پيسې به لګوې برقيان به راولې لاين به راوړې ميټر به اخلې پيسې به لګوې نو بيابه برق او رڼا راځي ، نو چې کور ته ايمان راوړې داټول به منې .
ورونو زه يو خبره درته کوم مونږ اوتاسو دمحمد عليه السلام امتيان يو محمد عليه السلام مبارک چې دموره پيدا شو پلار يې نه وو يتيم پيدا شو نه يې ورور وو نه يې خور وه چې دشپږو کلو شو مور ته يې وويل مورې ماته دخپل پلار قبر راوښايه چې چيرته دی دهغه قبر بنو نجار قبيلې تر څنګ مدينه منوره کې وه مور يې عبدالمطلب دده نيکه ته لاړه چې لمسی دې دپلار قبر غواړي څنګه وکړمه ژاړي چې دخلکو پلرونه شته زما نشته نو قبر خويې راته وښايه هغې مدينې په طرف روان کړو دمدينې نه واپسۍ کې راروان دی چې دابوا په مقام کې يې مور مړه شوه له موره يې لاسونه تاو کړې ژاړي چې زه دې چاته پريښودم چاسره چا کره لاړشم کله چې قافله راغله دده مور يې خښوله ده په قبر کې ځان غورځولو چې زه دی چاته

پرېښودم ، ام ايمن رضی الله عنها فرمايي چې ما نبي عليه السلام شيږ کرتي په اوښ سپور کړو او بيا به يې چغې کړې چې وا مورې او ځان به يې له اوښه وغورځولو او له قبره به يې غېږه چاپيره کړه چې مورې زه چاکره لاړ شم ، دپلار قبر ليدو ته راغلو مور يې له لاسه ورکړه دداسي پيغمبر امتيان يو چې نه يې مور نه يې خور نه يې پلار نه يې ورور وه يتيم يسير پيغمبر امتيان يو چې کله بابا ته راغې دوه کاله بعد هغه هم مړ شو بيا تره ته حواله شو او دده تربيت لاندې وو او کله چې الله رب العزت ورته نبوت ورکړلو نو الله پاک ورته وويل ( اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ )ولوله دهغه چا په نوم چې ټول مخلوق يې پيدا کړی .

يتيم يسير محمد عليه السلام سخت وډارشو لړزه پرې راغله ځان يې شړی کې تاو کړو بيا پرې اواز وشو ( يَا أَيهَا المدثر قُم فَأَنْذر) ای کمبله اغوستونکيه پاڅېږه خلک وويروه (وَرَبك فَكبر ) او دالله لويي بيان کړه ، او چې کله يې دشپې سر کيښوده نو بيا پسې فرمان راغی (يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلاً نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلاً أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلاً ) ای کمپله کې پټ شويه جګ شه دشپې الله ياد کړه او قرأن تلاوت وکړه په ترتيل تجويد او تدبر سره (إِنَّا سنلقي عَلَيْك قولا ثقيلا ) يقينا تا ته مو درنه خبره درکړې ده .

بازار ته لاړو خلکو ته يې وويل ( ياايهاالناس قُولُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ تُفْلِحُوا )
ای خلکو لااله الا الله ووايې تاسو به کامياب شئ دا وخت خو په مکه کې وو ولې اواز يې عالمي دی يو صحابي فرماي (مُنِيبٍ الْأَزْدِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَهُوَ يَقُولُ لِلنَّاسِ: " قُولُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ تُفْلِحُوا "
) ما نبي عليه السلام وليدو زه په هغه وخت کې دجاهلانو څخه ووم چې ويل يې ای خلکو لااله الاالله ووايې تاسو به کامياب شې (فَمِنْهُمْ مَنْ تَفَلَ فِي وَجْهِهِ) ځينو خلکو دده په مخ لاړې توپ کړې (وَمِنْهُمْ مَنْ حَثَا عَلَيْهِ التُّرَابَ) بعضې به په خاورو او شګو ويشتلو (وَمِنْهُمْ مَنْ سَبَّهُ) بعضو به ورته کنځلې کولې ( حَتَّى انْتَصَفَ النَّهَارُ) تر دی چې ورځ نيمايي شوله .

دانه وو چې مولوی صاحب تبليغي صاحب سترې مشې بلکه په تيکو شګواو توکانو ويشتل وه بل خوا دنبي عليه السلام پلار ، ورور، زوی ، خور، مور هم نشته چې مخ يې ورپاک کړي (فَأَقْبَلَتْ جَارِيَةٌ بِعُسٍّ مِنْ مَاءٍ )يوه وړه جلې

راغله داوبو لوټکه ورسره وه ( فَغَسَلَ وَجْهَهُ أَوْ يَدَيْهِ ) مخ او لاس يې پرې ومينځل ، لور ته تسلي ورکوي زما لورجانې لوريې ژاړي دخپل پلار مخ ، لاسونو او کاليو ته ګوري او دا ورته وا يي ( يَا بُنَيَّةُ، لَا تَخْشَى عَلَى أَبِيكِ عَيْلَةً وَلَا ذِلَّةً» اى زما وړې لورجانې په پلار دناځاپي او ذلت مرګ نه مه ويريږى،
منيب الازدى وايي« فَقُلْتُ: مَنْ هَذِهِ؟ قَالُوا: زَيْنَبُ بِنْتُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ » ماپوښتنه وکړه دا څوک ده خلکو وويل داد رسول الله صلى الله عليه وسلم لور زينب رضى الله عنها ده ( وَهِيَ جَارِيَةٌ وَضِيئَةٌ ) او دايې مشره وړکې لور وه .
اوس ووايې مونږ چې دنبي عليه السلام امتيان يو مور پلار ، ورونه زامن ، مال دولت ، جايدادونه هر څه الله پاک راکړي خو دالله دين مخ په ذلت روان دى او که مخ په عزت ؟ دمسلمان ژوند او رواج ددين ددوشمنانو دى او که دمسلمان ؟
(يَا أَيهَا المدثر ) صرف دهغه لپاره وو او که زما اوستا لپاره هم دى (قُلْ هذِهِ سَبِيلِي ) اوايه امتيانو ته دى دا زما لار ده (أَدْعُوا إِلَى اللَّهِ ) الله طرف ته خلک رابلم (عَلى بَصِيرَةٍ ) عاقلانه تعريفمندانه (أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي ) دا زما او زما دامتيانو کار دى مونږ يې امتيان يو .
(يَا أَيهَا المدثر ) دا ايت زمونږ لپاره هم دى (يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ )دا ايت هم زمونږ لپاره راغلى ، خومونږ لاس تر ځنې ناست يو او دالله بنده ګان دجهنم په طرف روان دي ، کفار خو لا څه کوي چې مسلمان نن کوم طرف ته روان دى دمسلمان سيرت او صورت دچا غونډې دى ، دمسلمان واده دچا غونډې دى ، دمسلمان دلور جامې دهندوانو غونډې دي که دمسلمانانو غونډې ، دکميس لستونې يې شته او که نشته ، په ودونو کې کومې نخرې نه کوو بيا لا وايو چې دوستان خفه نشي ددوستانو دخوشحالې غم راسره وي خو دالله او دهغه دپيغمبر غم راسره نه وي چې هغه خفه شو که خوشحاله په داسې حال کې چې مونږ يو دالله بنده ګان او دمحمد عليه السلام امتيان او دهغوی دخفګان راسره هيڅ غم نشته .
(وَمَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ ) چاچې دکوم قوم سره مشابهت وکه هغه به په ورځ دقيامت دهماغه قوم سره راپاځيږي ، والله چې چا دخپلې لور لپاره دالله ددوشمنانو جامې راوړلې قيامت کې به دالله ددوشمنانو سره ودريږي او چې

کله ورته ووايې ولې ؟ بيا وايي واړه دي واړه خير دی ، متل دی وړه لښته چې ګکه وي سده کيدای شي خو چې کله غټه شي بيا نه سده کيږي .
مشر ته وايي ستا ماغزه کار نه کوي مترقي زمانه ده چې دشپيتو شي په ويشتو شي زه خپل کار دی کوه.
دزرو قدر په زرګر وي نبي عليه السلام فرمايي («كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى» ، زما ټول امتيان به جنت ته داخليږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي (قَالُوا: وَمَنْ يَأْبَى؟ ) دا بدبخته انسان چې انکار کوي دا څوک دی يا رسول الله (قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى» چاچې زما اطاعت وکړو جنت ته به داخل شي او چا چې سر کشي وکړه دا به جهنم ته داخل شي ، که هغه نارينه وي که زنانه که بادشاه وي که غريب حکم يې عام دی ، بل ځای فرمايي ((من احيى سنتى فقد أحياني ومن أحياني فقد أحبني ومن أحبني كان معى فى الجنة) چاچې زما سنت ژوندی کړو هغه زه راژوندی کړم اوچاچې زه ژوندی کړم هغه زما سره مينه وکړه او چاچې زما سره مينه وکړه هغه به زما سره جنت ته داخل شي .
بل ځای فرمايي : (من حفظ سنتى أكرمه الله بأربع خصال المحبة فى قلوب البررة والهيبة فى قلوب الفجرة والسعة فى الرزق والثقة بالدين) چاچې زما دسنتو ساتنه وکړه الله پاک به دده څلور قسمه اعزاز او اکرام وکړي اول : دنيکانو خلکو په زړونو کې به دده سره محبت واچوي دوهم : دبدکارو په زړونو کې به له ده ډار او رعب واچوي يعنې بدکاره خلک به ترې ډاريږي دريم : رزق به يې پراخه وي څلورم : په دين کې به ورته غوره والی ورکړي
نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم لوی سنت هغه په مکه کې ديارلس کاله ديا يهاالناس قولو لااله الاالله اواز وو لومړۍ په اخري کلونو کې فرض شو حج ،ذکات ،روژه دا په مدينه منوره کې فرض شوه خو دهر حکم ديوره کيدو لپاره دعوت اولنی شرط دی ځکه اذان ته (اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ ) وايي او بيا يې دا ګلالي صحابه ددونيا کنارو ته تقسيم کړه ، معاذ ابن جبل يې يمن ته ليږلو او دالله مبارک نبي ورسره روان دی معاذ چې دامت لوې عالم دی په سورلۍ سپور دی اونبي عليه السلام ورسره پياده روان دی دادهغه کس اعزاز او اکرام دی چې دالله پاک په لار کې تشکيل کوي چې نبي ورسره پياده اودی يې په سورلۍ سپور کړی دی او ورته وايي (إِنِّي لَأُحِبُّكَ

يَا مُعَاذُ ) اى معاذ ته راباندې ډير ګران يې او بيا ورته وايي (يَسِّرْ وَلَا تُعَسِّرْ ) اى معاذ ته چې يمن ته ځي دخلكو سره اسانتيا كوه سختي مكوه ، نن مونږ دخپلو بچوسره اسانتيا نه كوو نور خلک خو لا پريږده چې خبره تاو راتاو شي نو سمدستي ورته وايو اى دكافر زويه ، نومعاذ رضى الله عنه ته بيا وايي (وَبَشِّرْ وَلَا تُنَفِّرْ)خلكو ته دالله درحمت زيرى او خبر وركوه كركه او تنفر مه پيدا كوه ، الله پاک فرمايي (يَا عبَادي الَّذين أَسْرفُوا على أنفسهم) ورته ووايه اى زمابنده ګانو چې دګناهونو په وجه مو پخپلوځانونو ظلم كړى (لَا تقنطوا من رَحْمَةَ الله ) دالله پاک درحمت نه مه نااميده كيږي (إن الله يغْفر الذُّنُوب جَميعًا إِنَّه هُوَ الغفور الرَّحِيم ) يقيناً الله پاک ټول ګناهونه معاف كوي ځكه چې هغه ښښونكى او مهربانه ذات دى .

(نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ) زما بنده ګان خبر كړه چې زه غفور او رحيم يمه ، صحابه كرامو چې دا ايت واوريدو ډير زيات خوشحاله شوه ،نوبيا ورته وايي معاذه تاسره چې كوم ملګري دي ( لن تروني بعد عامٍ هذا ) تاسو چې واپس مدينې ته ددې كال نه وروسته راځئ نو ما به ونه وينئ ( وتمرون على قبري ) او تاسو به زما دقبر سره تيريږئ ، اول ورته وايي يحبک او بيا ورته واي چې تاسو راځئ نو زه به نه يمه.

معاذ رضى الله عنه چې كله دنبي عليه السلام سره خداى په اماني وكړه نو خپل مخ يې داوښ شاته واړوه او نبي عليه السلاته يې مخ كړو او په كړيكو كړيكو ژاړي تر دى چې دمدينې غرونو ورځخه نبي عليه السلام پناه كړو دهغې نه وروسته يې خپل مخ داوښ ومخ ته واړوو.

زما عزتمندو ورونو داسې معزز او جان نثاره صحابه كرام يې ددونيا ګوټ ګوټ ته وليږل ، دا زمونږ افغانستان ته تميم انصار ، جبير انصار ، ليث ابن قيس ابن عباس ، عبدالرحمن ابن عمرو ابن عاص رضى الله عنهم اجمعين دا دمكې او مدينې سرداران دلته راغلل دوى هم مورګانې خورګانې او بچې لرل هغه ټول يې پريښودل زما اوستا داسلام راوړلو په خاطر دلته راغلل او هر څه يې قربان كړل .

يوماشوم دځومياشتو وه چې كله غټكى شو نور هلكان دادا نارې وهي خپله مورله لاسه كلكه نيسي چې مورې زما پلار چرته دى پلار يې په كابل كې خښ وه مور يې ورته وويل بچيه پلار به دې په محشر كې دروښيم خپل ماشوم ته دپلار دملاقات وعده دمحشر ميدان وركوي .

نن دهغه دين چې دوی په دومره تکليفونو مونږ ته راوړی وه څه حال دی ؟ نن دمحمد عليه السلام دسنتو کوم حال دی ؟ که زما او ستا دديوال يوه تيګه يا خښته څوک وغورځوي زه او ته به ورسره څه کوو؟ خو دنبي عليه السلام سنتونه چې څوک ماتوي  ما او تا ورسره څه وکړل ؟
دصحابه کرامو سره دالله پاک مدد دهمدې قرباني له وجه ډير وه ، سعد ابن ابي وقاص رضی الله عنه  دعراق نه ايران ته  په سمندر پوريوتلو چې اوس هوايي جهاز شل دقيقې په هغه بحر مزل کوي راغی دبحر غاړه کې ودريدو دعاء يې وکړه (وَنُؤْمِنُ بِكَ، وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ ) په تا مو باوردی او په تا مو ځان سپارلی (لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ) ستا نه بغير څوک ذلت عزت نشي ورکولی (حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ) الله کافي دی او بهترين ذمه دار دی  او بيا يې خپل آس ته  په سمندر شړک ورکړو هغه رب چې موسی عليه السلام ته چې دوه داعيان وه دسمندر په بيخ کې لاره ورکړه او دمحمد صلی الله عليه وسلم امتيان چې ټول داعيان وه دسمندر په سر باندې لکه قير سرک لاره ورکړه يو صحابي دسمندر نيمايي ته ورسيده اس ستړی شو ودريده دخپل څنګ ملګري ته وايي ای فلانيه دکوم دين له برکته چې زه اوته نن دآسونو  دپاسه په سمندر روان يو  داسې زمانه به راشي چې مسلمان به دی دين کې شک کوي ، اوس هماغه زمانه ده چې په دی دين شک کوي .
دالله نبي فرمايي چې څوک دورځې سهار لخوا سورة ياسين ولولي دټولې ورځې حاجتونه به يې الله پاک پوره کړي مونږ يې لولو؟ څوک چې دمور او پلار مخ ته وګوري الله عز وجل ديو قبول شوي حج ثواب ورکوي ، څوک چې ديو عالم مخ ته وګوري تر هغې چې ګوري الله پاک ده ته نيکی ليکي .
زما عزتمندو ورونو دقيامت ورځ حق ده او مونږ اوتاسو به ټول بربنډ او ناسنته دمحشر په ميدان ودريږو (وَلَقَدْ جِئْتُمُونا فُرادى كَما خَلَقْناكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ )
صحابه کرام ددغې ورځې او دالله پاک ته دودريدو نه داسې ډاريده چې په لړزه کې به وه چې څنګه به د الله په وړاندې  پيش کيږو ، هغه داسې ورځ ده چې خپل بچي به درڅخه تښتي الله پاک قرأن کې فرمايي (يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ (34) وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ (35) وَصاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ) دا داسې ورځ ده چې سړی به له خپله وروره له خپل موره او پلاره له خپلې ښځې اوبچيانو به تښتي ، چا دپاره يې چې حرام راوړل او پرې خوړل يې دا به ټول درڅخه تښتي .

دالله نبي فرمايي بدبخته انسان هغه دی چې دونيا دبل جوړوي او اخرت خپل خرابوي .
متل دی وايي تعميرونه مخ په بره روان دي او مالکان يې مخ په ښکته روان دي .
زما عزتمندو ورونو دمحشر په ميدان به الله پاک په ذات خود دهر يو بنده نه (مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ ) ستاسو نه به يوکس هم داسې نه وي مګر داچې خپل رب به ورسره خبرې کوي او دده او درب په مينځ کې به ترجمان هم نه وي ، او کومې خبرې دي وايې ورى (لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ مِنْ بَيْنِ يَدَيِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ أَرْبَعٍ، ، ) دالله دبنده پښې به دمحشر په ميدان اوچتې نشي (حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ أَرْبَعٍ ) تر هغې چې دڅلورو پوښتنو ځواب ورنکړي ( عَنْ عُمْرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ،)عمر دی په څه کې تير کړو ( وَعَنْ جَسَدِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ ) بدن دی په څه کې زوړ کړو ( وَعَنْ عِلْمِهِ مَا عَمِلَ بِهِ ) کوم علم چې دی زده کړې وو څومره عمل دی پرې وکړو ( وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ، وَفِيمَا أَنْفَقَهُ ) مال دی چرته ګټلی وو او چيرته دی مصرف کړی وو پو ښتنه به الله پاک کوي او زما او ستا نه به يې کوي او بربنډ به ولاړ وو هيڅ به نه وي پيسې به نه وي زوی به نه وي دوستان به نه وي ، داخو لا څه کوې چې اواز وکړي (وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ) مجرمانو جدا شئ ، يوعالم تفسير کې ليکلي دي چې دغله په شا به دغلا مال بار وي او جنده به پرې لګيدلې وي او په هغې به ليکل شوي وي چې دا دفلاني دفلاني دزوی غلا ده ، او دزنا کار په تندي به دښځې عورت راځوړند وي او مردارې اوبه به ترې روانې وي ، دسود خور ګيډه به دلايتن دشيشې په شان وي او په دی کې به ماران لړمان ګرځې راګرځي ( أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ) دادم زويه ما درته نه وه ويلي چې دشيطان خبره مه منه چې اوس يې په دغه حال کړلې .
زما عزتمندو ورونو الله پاک مو دی له دغه حاله وساتي او چې بيا څوک په دغه حالت کې راشي نو الله پاک به ووايي (خُذُوهُ ) ويې نيسئ (فَغُلُّوهُ ) ځنځيرونه ورکې واچوئ ( ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ ) بيا يې جهنم ته نباسئ (ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ ) بيا دسر دپاسه پرې جوش اوبه واچوئ .

(يَقُولُ الْإِنْسانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ ) انسان به په دغه ورځ ووايي چې اى الله دتيښتې لاره چرته ده ، خو دتيښتې لار به نه وي او هر خوا به ملائيکې ولاړې وي ( وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلى يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلاً ) ظالم انسان به خپلې ګوتې خوري او وايي به کاشکې مې دخپل پيغمبر لاره نيولې واى ، چې بيا ګير شي نو وبه وايي ( رَبَّنا أَبْصَرْنا وَسَمِعْنا ) يا الله اوس مې وليدل او واوريدل (فَارْجِعْنا نَعْمَلْ صالِحاً إِنَّا مُوقِنُونَ ) يا الله بيرته مې واپس کړه نيک عمل به کوم او اوس مې يقين راغى .
يو مولوي صاحب ترجمه کوله او ژړل يې (وَقالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ) وايي به پيغمبر عليه السلام اى زما ربه (إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هذَا الْقُرْآنَ مَهْجُوراً ) زما دى قوم او امتيانو دقرأن نه جدايي کړې وه ، په مياشت کې يې دقرأن مخ نه ليدلو او په کال کې به دتراويحو په موسم کې به شاته ناست وه چې کله به قاري يا امام رکوع ته تلو نو ده به هم رامنډه کړه ورپسې به ودريدو نو نبي عليه السلام به دخپل امت نه دقرأن باره کې شکايت وکړي ددى شکايت نکوي چې زما لورګاني يې طلاقې کړې يا يې زه په تيګو ويشتى يم خو دقرأن په باره کې به شکايت وکړي دخور او لور په ميراث کې حق دى خو چې کله خور راځځه برخه واخلي نو بيا ورته وايو تا په جنازه کې داسې وکړم بيا دى مخ ونه ګورم قرأن وايي غيبت مکوى خو مونږ يې کوو قرأن وايي جاسوسي مکوه خو مونږ يې دځو پيسو لپاره کوو ، قرأن وايي نامحرمې ته مه ګوره مونږ ګورو او بيا لا وايو داسترګې دځه لپاره دي ، قرأن وايي ديتيم پالنه کوه مونږ وايو خداى پاک ليدلى ځکه يې داسې کړې دى خو نبي عليه السلام فرمايي چا چې ديتيم په سر لاس کش کړ څومره ويښتان چې يې دلاس لاندې راغله دومره نيکى به الله پاک ورکړي (أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ ) زه او يتيم پالونکى به داسې په جنت کې وو لکه دادوه ګوتې ، زمونږ خو چې خور يا ورور مړ شي بچيان يې تقسيموو دورور ديرش کلنه ښځه ماشوم ته په نکاح کوو ځکه چې پښې يې ورته وتړو چې بل ميړه ونکړي رښتيا ووايې چې سبا به قيامت کې ددې جواب ورکوو او که نه ؟ نو ځکه به پيغمبر شکايت کوي چې په قرأن يې عمل نه وو او په رواجونو پسې ګرځيدل سر ويښتان چې جوړوې نايي نه پوښتنه مه کوه دعالم نه پوښتنه وکړه ، جامې چې جوړوى دعالم نه پوښتنه وکړه دخياط نه پوښتنه مکوه ، واده کوى عالم نه پوښتنه وکړه دکلي ملک نه

پوښتنه مکوه ، نبي علیه السلام خپلې لور سره لږ سامان په شا کړو ام ایمن ورسره وه او دعلي رضی الله عنه دروازه یې وټکوله او ورته یې وویل علي دا امانت دی درواخله .
زما دوستانو الله پاک پخپله دمحشر په میدان کې پوښتنې کوي (عَنْ عُمْرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ ) زما بنده عمر دې په څه کې تیر کړو زما وروڼو داخبره ښه په غور سره واورئ چې کله دا پوښتنه وشي نو زما او ستا دعمر فلم او ریکارډ به چالان شي داچې ویل به یې چې والله که چا کتلی یم په الله قسم دا به پخپلو سترګو وګورو (عَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ ) ځواني دې په څه کې تیره کړه (وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ، وَفِيمَا أَنْفَقَهُ ) مال دی دکوم ځای نه ګټلی وو او چرته دې مصرف کړی وو (وَعَنْ عِلْمِهِ مَا عَمِلَ بِهِ ) زما بنده څومره دین دی زده کړی وو او څومره عمل دې پرې کړی وو وروڼو دا څلور پوښتنې زما او ستا نه کوي بلکه زما اوستا دزنانه و ښځه یې هم کوي چې زما وستا دګرانې بې بې نه پوښتنه وکړي (وَعَنْ عِلْمِهِ مَا عَمِلَ بِهِ ) څومره دین دی زده کړې وواو څومره دی پرې عمل کړی وو نو هغه به ورته څه ووایي ؟
یو سړی دسه روزې نه راغی کور کې یې تعلیم شروع کړو په تعلیم کې یې دابوبکر صدیق ، عمر فاروق ، عثمان غني او علي مرتضی رضی الله عنهم نومونه اخستل ښځې ورته وویل سترګې دی اوڅه دپردو سړیو نومونه راته اخلي ولې خپل خپلوان موکم دي ابو بکرلا څوک دی ؟ ددی ښځې نه الله پاک پوښتنه کوی څومره دین دی یاد کړې ، دا ښځه به شکایت وکړي چې ای زما ربه په کور کې ما کار کولو چې قطغ کې به مالګه کمه شوله زه به یې وهلمه یا الله ماته خویې ستا حکمونه دغسل او نورو فرضونه نه دي ښودلي دمسجد عالم ته زه نشوم تلی دستوني درد وخت کې یې داکتر ته بولم ستونی به یې راته دننه کتلو خو ایماني درد دوا ته یې نه یم بولې چې له عالمه څه دین زده کړم او مولوی صاحب یې کور ته نه راوستلو اوده ماته ددین خبرې نه کولې نو ای ربه ما به دادین دچا نه زده کړی وای ددې ښځې شکایت په حقه دی او که نه دی ؟ بیا به الله پاک اواز وکړي چې راشه فلانیه ؟ دالور ستا ده ؟ هغه به ووایي هو نو الله پاک به ورته ووایي چې دی ته دی دین ولې نه دی ښودلی ؟
مونږ وایو ړانده چرګان یو نو ته ړوند چرګ به دقیامت په هغه لویه ورځ چې پنځوس زره کاله ده څرنګه اذان وکړې ؟ نن په دا لویه دونیا کې په

شپیتو کالو عمر کې ما او تا  قرأن یاد نه کړو او ځینو  خو لا یو ایت هم نه دی یادکړی چې دیو ایت په بدل کې داسې تعمیر په جنت کې ورکوي چې دهغې دیوې کوټې دچت اوچتوالی به دزمکې اسمان پورې وي .
بیا به الله پاک حکم وکړي چې دا ظالم هم ورسره جهنم ته ورخطا کړیٔ په دغه ورځ بیا الله پاک دچا عذر نه مني ، نن هر سړی کولی شي دهغې ورځې دعذر په ځای خپلو زنانه و ته دین وښایو،  تر دې چې نن یوه اوښکه دعذر تویه کړو دا ډیره فایده منده ده خو سبا دمحشر په میدان کې که دبهسودو دسیند په اندازه داوښکو پر ځای وینې له سترګو تویې کړو هیڅ فایده نلري او بیا یې الله پاک درسره نه مني .
زما عزتمندو ورونو اوس دا زما او ستا ګرانه بي بي چې په کور کې راته دخوشحالۍ ټول اسباب برابروي ډوډیٔ اوترکاري راته پخوي کالي مینځي دکور حفاظت کوي  کله مو هم ددین خبره ورته ښودلې ایا دحیض او نفاس په مسألله مو پوهه کړې ؟ دالله پاک صفتونه مو ورته کړې دي ؟ او په ورځ دقیامت ددی ښځې نه دا پوښتنې کیږي بیا به جواب څنګه ورکوي ؟ او پوښتنه داده چې دا ښځه به کامیابه شي که ناکامه ؟ ای هغه مسلمانه چې نن ستا دکور دروازې ته  دننه څوک وګوري او ته هغه وژنې چې زما کور ته دی څنګه وکتل او زما بې عزتي دی ولې وکړه ، خو سبا دمحشر په ورځ زما او ستا مور او یا بي بي لوڅه بربنډه دالله ددوشمنانو سره جهنم ته روانه وي بیاستا غیرت څه کولی شئ ؟ نن هغه دکلمې په معنی نه پوهیږي ، خپل نبي نه پیژني دهغه یو حکم نه پیژني دی نه غټه بې غیرتي شته ؟
ورونو دا تبلیغ هسې توقې ټکالې خونه دي که هسې توقې وی نو یو لمونځ په حرم مکه کې په یولک او مدینه کې په پنځوس زره دی صحابه کرام څه لیوني وه چې هغه یې پریښودل او دلته کابل ته راتلل یو لک لمونځونه ۵۴ کالو کې کیږي هلته یولمونځ دومره اجر لري العیاذ بالله دا څه لیوني وه چې دلته یې خپل قبرونه جوړ کړل دالله نبي ورته ویلې وه (موقف سَاعَة فِي سَبِيل الله) یو ساعت دالله په لار کې چې دالله ددین دخوریدو لپاره تیر کړې (خير من قيام لَيْلَة الْقدر عِنْد الْحجر الْأسود ) دا غوره او زیات دی دقدر شپې له عبادت نه چې دحجر اسود تر څنګ وشي نو ځکه یې مکه او مدینه پریښوده افغانستان ، پاکستان ، چین او جاپان ته خواره شوه او هماغلته یې

قبرونه موجود دي يو ملګري راته وويل چې دچين په هغه لرې کناره کې ديو صحابي قبر مو وليده .
زما عزتمندو ورونو هغوی دين زده کړو الله پاک دزمکې او اخرت سرداران کړل خونن مسلمان ذليل سترې ستومانه دی .
وايي ماشومانو په توپ لوبې کولې توپ چا په سر وهلو چا په پښه وهلو چا په لاس وهلو مولوی صاحب ورته ګوري چا ورته وويل مولوي صاحب څنګه داسې خفه ولاړيې هغه ورته وويل د توپ منځ تش دی څه ورکې نشته ځکه خو يې څوک يو طرف او څوک يې بل طرف ته ځغلوي که چيرې دا ډک وی نو بيا به يې دا حال نه وو چاچې په سر وهلی وی نو سر به يې ورته جوړ کړی وو ، دنن زمانې مسلمان ددغه توپ په شان دی دباده نه غټ ښکاري خو منځ کې يې څه نشته ځکه خو مسلمان نن سبا ذليله دی ددين دوشمنان پرې لوبې کوي څوک يې يو خوا او څوک يې بل خوا لکه توپ غوندې ولي راولي .
دمسلمانانو خو يو وخت داسې حالت وو چې دقيصر بادشاه يزدجرد مسلمانانو ته وليکل چې خپل يو وفد دلته راوليږي عمر فاروق رضی الله عنه مطالبه وکړه چې هلته څه کسان وليږي يو صحابي ربعي بن عامر رضی الله عنه پاڅيده چې زه ځم ډير مه ليږه ، دی په يو خوارنجوکی آسپ وو په هغه سپور شو زړې جامې او توره يې غاړه کې وه ځان يې ورسولو ، بادشاه عسکر ودرولي درعب دپاره ، دی چې راغی عسکرو ورته وويل اخوا ته شه چې دمسلمانانو وفد راروان دی ده ورته وويل چې هغه زه يم کنه عسکرو چې وکتل چې مونږ خو يوه ډله راغوښتې وه او دا خو يوکس دی او آس ته يې وګوره دليدو نه دی ، بادشاه ته ورغله او ورته يې وويل چې يوسړی دی وايي زه دمسلمانانو نماينده يم هغه ورته وويل چې بس راپريدی هغه خپل اس په قالينو وروان کړو عسکرو ورته وويل چې آس نشې وړی هغه ورته وويل صحي ده زه بيرته ځمه بادشاه ته احوال لاړه چې اس سره راځي يعني دباندې يې نه پريږدي هغه ورته وويل سره له آسپه يې راولی صحابي له اس ښخه کوز شو توره يې راويسته او په قالينو يې په زوره زوره وهله او روان وو اس يې په قالينو متيازې وکړې .
ورونو صحابه بې ادبه نه وه خو ددونيا ظاهرې نقشو عظمت يې خلکو ته ښوده چې په دغه شي تاسو دوکه شوې يې بادشاه ته ورسيدو دصحابه

كرامو مخونه دومره ښايسته وه لکه نن چې سړی لایټن یا ګروپ ته نشي کتلی سپین مخونه یې وه وزیران ودریده دی لاړو دبادشاه تخت ته چې جنګی ورته پکی وهي ناست دی  آس یې دهغه دتخت دیوې پښې پوری وتړلو او پخپله ربعي بن عامر رضی الله عنه  په زمکه کیناستلو ، دنیمې دونیا دبادشاه دتخت پورې آس تړل شوی دی بادشاه یزدجرد ورته ډیرې سپکې ستوغې خبرې وکړلې صحابي ورته وویل چې دا ته څه وایې داټول صحیح وه مونږ یوبدبخت او ذلیل قوم وو چا په مونږ حکومت کول نه غوښتل بیا الله پاک مونږ له یو پیغمبر راولیږلو دهغه نوم دی محمدالرسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مونږ ته یو دین راوړی دی هغه مونږ سره وعده کړې ده چې دا دین خپل کړې ذلیله یې عزتمند به شئ  وړې یې ماړه به شئ څوک په تاسو حکومت نه کوي الله پاک به تاسو دټولې دونیا حاکمان جوړ کړي مونږ دین قبول کړی دی او تاته هم وایو چې ته یې هم قبول کړه (كما قال ربعي بن عامر رسول المسلمين في مجلس يزدجرد: الله ابتعثنا ) الله پاک رالیږلې یو (لنخرج الناس من عبادة العباد إلى عبادة الله وحده،) مونږ بنده دبنده ګې نه اوباسو دالله بنده ګۍ ته (ومن ضيق الدنيا إلى سعة الدنيا والآخرة ،) او ددونیا له تنګۍ نه یې اوباسو ددونیا او اخرت لویې او پراخه زنده ګۍ ته (ومن جور الأديان إلى عدل الإسلام ) دنورو باطلو دینونو دظلم نه خلک اوباسو داسلام عدل ته ، بادشاه ورته وویل نو زما نه څه غواړې صحابي ورته وویل ووایه چې لااله الاالله محمدالرسول الله هغه ورته وویل که ونه وایم او خپل دین باندې ودریږم صحابي ورته وویل که ویې نه وایې داسر به دې په دې توره غوڅ کړم  وزیران به دې ټول ختم کړم او ښځې به دی زمونږ کورونو کې کار او خدمت کوي او بچې به دی څمونږ په باغونو کې خدمت کوي او که دې قبول کړو ستا بادشاهي دی درته مبارکه وي شاړې اودشتې دی زمونږ نه دي پکار مونږ درڅخه بل خوا ته ځو .

بادشاه وویل ای خلکو قریبه ده چې ددې خلکو اسانو تومار به دا زمکه لاندې کړي کوم شئ چې مونږ غواړو دوی هم غواړي او کوم شئ چې مونږ یې نه غواړو او ویره ترې کوو چې هغه مرګی دی دوی یې غواړي او لبیک ورته وایي

ورونو صحابي يوکس دی دنيمي دونيا بادشاه ته دمرګ اخطار ورکوي دا دالله پاک په زور يې ورکوي او هغه الله اوس هم شته رښتيا وواېې چې دنن مسلمان دالله په زور دهغه صحابي په شان خبره کولی شي ؟
ورونو مرګ يو دناځاپه راځي راځی چې دا عظم او اراده وکړو چې له دی نه پس به دالله دين او اخرت ته مخه کوو لقمان حکيم صاحب خپل زوی ته وايي بچيه دونيا ته راتلل په نمبر دي بابا ، پلار ، زوی ، لمسی خو ددی پلوه اخرت ته تګ بې نمبره دی بابا ژوندی وي لمسی مړ شي ، پلار ژوندی وي زوی مړ شي ، بيا يې ورته وويل زويه دونيا کې چې څومره اوسيږې هغومره ورته خواري وکړه او اخرت کې چې څومره اوسيږې هومره خواري ورته وکړه .
او س مونږ محاسبه کوو : دونيا کې به مو څومره ژوند وي ؟ زيات نه زيات سل کاله ونيسه او سړی چې دڅلويښتو نه واوړي سترګې غاښونه او عقل کار پريږدي
نو زما عزتمندو ورونو ډيره لږه زنده ګي ده خو داعمالو په اعتبار ډيره قيمتي زنده ګي ده ، تاسو وواېې سبحان الله ، الله پاک تاسو ته په جنت کې يوه ونه درکړه (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً ) دالله نبي فرمايي جنت کې داسې ونې دي (يَسِيرُ الرَّاكِبُ يَسِيرُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ سَنَةٍ مَا يَقْطَعُهَا ) سور سړی به يې دسوري لا ندې سل کاله مزل وکړي خو سوری به يې ختم نشي ( قُلْتُ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، أَيُّ شَجَرَةٍ هِيَ؟ قَالَ: شَجَرَةُ الْخُلْدِ ) ما ويل يا ابوهريره داکومه ونه ده هغه وويل دخُلد ونه ده .
اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه فرمايي والله بالله ثم تالله په دريو قسمونو يې قسم کړی چې ددونيا ټول قيمتي اسباب او نعمتونه او داخرت ټول قيمتي اسباب او نعمتونه راجمع کړې او يو خوا ته کيښودل شي او بل خوا يو مسلمان اواز وکړي يا الله يا الله ، وايي چې دا ټول ددې اسم اعظم اواز په مقابل کې هيڅ قيمت نلري دا ترې بهتر دی خو افسوس چې نن دمسلمان ژبه په دې نه چليږي ځکه خو مسلمان پريوتو .
زما عزتمندو ورونو الله پاک بغدادی سپاره نده راليږلې بلکه قرأن کريم راليږلی خو علماؤ دمسلمان دژبې داوښتو لپاره اَ اِ اُ اَ اِ اُ شروع کړي تر څو چې مسلمان وواېي ( ذَلِكَ الْكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ ) دين کې دکتابونو درجې نشته بلکه دا يوه زينه ده اوله درجه دوهمه درجه دريمه تر دې چې بخاري

شریف ته یې ورسوي او مسلمان دخپل نبي دمبارکې زنده ګۍ نه خبر شي خو یوه طبقه مسلمانان داسي دي چې دی درجو ته یې لاسرسی نه دی شوی نو علماؤ کرامو دهغوی دتربیت لپاره دتبلیغ درجې مقررې کړې دي شب جمعه ده ، سه روزه ده ، چله ده ، څلور میاشتې دي ، کال دی اودټول انسانیت فکر دی الله پاک دی دعلماؤ کرامو په عمر کې برکت واچوي چې دا ترتیب یې ورته جوړ کړی دی چې کم نه کم هغه فکر چې دیو نجار سره دخپلې نجارۍ اعتماد شته او تټار سره دخپلې تټارۍ اعتماد شته چې دیندار سره دخپلې دینداري اعتماد پیدا شي .
زما عزتمندو ورونو دی دپاره چې دقبر عذاب او دقبر دسوالونو جواب او دمحشر دسوالونو جواب ورکړو نو څه ناڅه دین خو یادول پکار دي یو سړی وایي چې زما خو شکر دی زده دی ، ورونو که ډاکتر وي ډیر مریضان شته دي او که مریض وی نو ډاکترانو ته ورشه
نبي علیه السلام دخلکو پسې دصحابه و تشکیلونه کول او که مونږ اوتاسو ددعوت کار ونکړو نو بیا دا واورې چې کوم څوکیدارپه بازار کې دباخبر اواز ونکړي نو ددوکانونو مال غله وړي او مسؤل څوکیدار دی او نیول کیږي همدا بیا که څومره هم ووایي چې قوماندان صاحب ما والله که مال غلا کړی وي هغه ورته وایي تاخو نه دی پټ کړی خو تا دبا خبر اواز نه دی کړی ځکه په محبس کې پروت یې که نن ما او تا دباخبر اواز ونه کړو نو بیا داخرت محبس جهنم دی الله پاک دې مونږ ترې وساتي او بل تاوان یې دادی چې زوی او ورور به زما او ستا وي خوخبره به دالله ددوشمنانو مني ، نو ووایې چې تبلیغ ضرور دی او کنه ؟ دمرګ نه مخکې او که وروسته ؟ اوکه چاته دمرګ نیټه معلومه وي نو هغه دی خیر دی لږ وروسته لاړ شي او که نه وي معلومه نوزر تر زره لاړشی او دمرګ معلومات خو هیچاته نشته چې سبا به دغه ناستو خلکو کې دچا جنازه روانه وي ، بیابه قبر کې څه کوو دپاسه خو راباندې لیکي مرحوم فلانی خو لاندې به څه حال وي دپاسه به یې لیکلی وي خدای ببښلی او لاندې معلومه نه ده چې څه حال به مو وي نو ددین یادول ضرور دي او کنه؟ او که دچا یاد وي بل ته یې رسول ضرور دي او کنه ؟
زمونږ دتلاوت خو دا حال دی چې د ( قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، اللَّهُ الصَّمَدُ، لَمْ يَلِدْ، وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُواً أَحَدٌ ) پر ځای : (کله واله کفواً احد ) او دلااله الاالله

محمدالرسول الله په ځای ( لاالخه الا اللخو مخمد رسول الله) نو دا صحیح لوستل او زده کول ضروري دي اوکنه ؟
زما عزتمندو ورونو زمونږ رب رب العالمین دی ، زمونږ پیغمبر کافة الناس دی ( وَما أَرْسَلْناكَ إِلاَّ كَافَّةً لِلنَّاسِ ) زمونږ قرأن هدالناس دی دټول عالم کتاب دی او مونږ اوتاسو (كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ) دټول عالم لپاره په وځو ، نو الله مو عالمي دی قرأن مو عالمي دی پیغمبر مو عالمي دی او امت عالمي دی .
زما عزتمندو که چیرې ددعوت کار نه کوو نو بیابه په زمکه کې فساد جوړ شي ( ظَهَرَ الْفَسادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِما كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ ) بیا به دکنهګار او ظالم انسان دبد کارې بد بویي زما او ستا کور ته راځي بیا ځان په امن کې نشو ساتلی ، که غواړو چې الله پاک دې ملک کې امن او خوشحالي راولي نو په یو اواز په ګډه جماعتونه جوړ کړو او مسجد په مسجد وګرځو او دلااله الا الله اواز ولګوو چې دالله پاک رحمتونه راشي او په کورونو کې دقرأن تلاوتونه چالان کړو فرمایي په کوم کور کې چې دالله کتاب لوستل کیږي هغه کور ته درحمت ملائیکې راځي او په کومه ساحه کې چې نیکان خلک وي الله پاک هغه ځای باندې عذاب نه رالیږې او چې کوم ځای کې نیکان خلک نه وي هلته عذاب راځي ځنې خلک غواړي چې زمونږ ملک درحمتونو نه لرې وساتي مخکې به یې ویل دلته جنګونه دي تبلیغ نه قبلیږي اوس وایي دلته اجتماعیت نشته تبلیغ نه قبلیږي دا خلک نه غواړي چې دی ملک کې امن او قراري او ابادي راشي او ورونه سره یو ځای کیني دا دالله دوشمنان ددی ملک دوشمنان ددي ملک دهلاکت لپاره دي ، کوم ځای کې چې استغفار وي باران وریږي باران سره دشتې غرونه ابادیږی میږې اوزې ډیریږي دهغوی سره شده او مستې ډیریږي چې دی سره ټول ملک ودانیږي او استغفار راځي په دعوت سره او چې دعوت نه وي استغفار نه وي او چې استغفار نه وي وچکالي راځي او دوچکالی سره بربادي راځي او بیابه دبل چا زړو وړو ته په طمع ناست یو .
په ټوله دونیا کې لمونځ دجمع سره کیږي او په افغانستان کې دجمع سره لمونځ نه کیږي ، ټوله دونیا کې داختر لمانځه لپاره امام وي او افغانستان کې دي امام نه وي عجیبه خبره ده یوبام او دوه هوا ، په هره نقشه کې دالله دوشمنانو ووهلو اوس کوشش کوي چې دی نقشه کې هم مونږ ووهي او

داملک دالله درحمت نه لري کړي نور نو لړ په دې ملت رحم پکار دی ددې ملک په کونډو او یتیمانو رحم پکار دی هر خوا په سرکونو ماشومان پراته دي او ښځې ورته ناستې دي او چغې وهي ، لړ ځان پوه کړی الله پاک ناراضه دی الله پاک خفه دی ( إِنَّ اللَّهَ لا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ ) الله پاک دهیڅ یو قوم حال نه بدلوي ترڅو چې دوی دالله حکمونه بدل نکړي (الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى، ارْحَمُوا مَنْ فِي الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ ) چاچې دزمکې په مخلوق رحم وکړو داسمان والا به په تاسو رحم وکړي

ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمايي یارسول الله چاته خیرات ورکړم هغه ورته وفرمایل دچا دروازه چې درسره نژدې وي دتبلیغ کار اول دلته زمونږ ملک کې مهم او ضروري دی بیشکه دنورو خلکو به هم غم کوو نبي علیه السلام ته الله پاک وفرمایل ( يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا ) ای ایمان والاو ځانونه او دخپل کور والا د اور نه بچ کړی بیا ورته وايي ( وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ) اول دې دا نژدې خپلوان وويروه

بیا ورته وايي ( وَلِتُنْذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا ) بیا دمکې او شاوخوا خلک وويروه او څلورم قدم کې ورته وايي (يا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ ) تبلیغ وکړه دهغه دین چې تاته له اسمان څخه راغلی

نو تبلیغ او ل له کوره شروع کیږي چې کور کې دی بې دیني وي او ټول خلک جنت ته لاړشي او زما ستا ښځه جهنم ته لاړه شي څه به کوو چې ټول خلک دینداره وي او ماواته جهنم ته لاړشو نوڅه به یې کړو .

زماعزتمندو دعقل سوچ او فکر نه کار اخستل پکار دي دا خلک غواړي ددعوت برق قطع کړي کله چې برق قطع شي بیا نه ګروپ لګیږي او نه بیا بادیکی ګرځي نو چې کله په دی ملک کې دتبلیغ کار ختم شو نو اجتماعیت ختم شو بیا به په دې ملک دالله عذابونه راځي .

زه یوه پوښتنه کوم لمونځ دجمع ډیر ثواب لري که ځانله ځانله ؟ په ټولو ملکونو کې مرکزونه دي هر ملک خپل امیر لري اوخپل عمومي مرکز لري او دمختلفو قومونو کسان یو دبل سره په ګډه جماعتونه جوړوي ترڅو یو دبل سره مینه پیدا کړي دقومونو په منځ کې روابط پیدا شي او دا هله کیږي چې مرکز وي چې مرکز نه وي دا زمونږ دافغانستان قومونه به په څه سره راټول شي او ولې مونږ دا حق نلرو چې تاجک ، ازبک ، ترکمن ، هزاره ،

پښتون سره په یو دستر خوان کینو ، یوه ورځ یو قندهاري ورور جلال بادمرکز کې راته ووی چې دا ازبکان مونږ سره مه لیږی خلک وایي دا کافران دي ( دا کار ګذاري ده څوک خفه کیږې مه ) خو مونږ ورسره ولیږل چې کله واپس راغله ما ترې وپوښتل چې وخت مو څنګه تیر شو هغه ورور وژړل او ویې ویل چې مونږ خو له ازبکانو ایله دین زده کړو زمونږ کلمه صحیح نه وه زده لمونځ مو غلط وه هر څه یې راته زده کړل مونږ ته دالله ددین دوشمنانو خو ویلې وه چې دا کافران دي . زما عزتمندو ورونو دا راته ووایې چې په کوم شي به دافغانستان کړیدلي او زوریدلي ملت ټول قومونه هزاره ،ازبک،تاجک ،پښتون هراتی ، قندهاری، جلال ابادی ، مزاری او بدخشانی به په یوه تغر سره راټول او یوځای به سره کیني نورو ټولو نقشو کې خو تباه او برباد شو یو ددعوت او تبلیغ نقشه پاته ده اوبس
زما عزتمندو ورونو په ټوله دونیا هرملک کې دتبلیغ مراکز دي چې هر مرکز یو امیر لري اوبیا یو عمومي مرکز وي چې امیر یې هم عمومي وي مونږ ته وایي چې په افغانستان کې دی نه مرکز وي او نه امیر ، تاسو ووایې داخبره دمنلو ده او بعضې دتبلیغ دوشمنان دتبلیغ په جامه کې داخبره ورسره بدرګه کوي او وایي بس حضرت جي صاحب ویلې دي مونږ یې اطاعت کوو ، مونږ هغه خبره منو کومه چې زمونږ الله ویلې دي **(وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا )** دالله په دین منګولې ولګوی اختلاف مه کوئ ، نن دا تاسو ټول چې د جلال اباد عمومي مرکز کې دافغانستان دڅلور دیرشو (۳۴) ولایاتو دګوټ ګوټ نه هراتیان، مزاریان ،بدخشانیان ، بادغیسیان ، قندهاریان پکتیاوال ،کنړیان ، پنجشیر یان ، هلمندیان خوستیان په یومیدان کې په لکونو کسان ناست یې دا ددې دعوت له برکته ناست یې ، نن سبا خو ددین د دوشمنانو لخوا په دې ډیره خواري روانه ده چې قندهاریان دی خپل کارکوي هراتیان دی خپل کار کوي مزاریان دې خپل کار کوي خوستیان او پکتیاوال دې خپل کار کوي ، ترکمن دی خپل کارکوي هزاره دې خپل کار کوي تاجک او اوزبک دي خپل کار کوي اوپښتون دی خپل کار کوي اوبیا لا وایي مشرانو فرمایلي دي رښتیا ووایې دا دمشرانو خبره ده او که ددین ددوشمنانو خبره ده ؟ چې ورور له وروره جدا او په منځ کې یې فاصله پیدا کوي دامشري ده او که دوشمني تاسو قضاوت وکړئ .

زما عزتمندو ورونو لږ دخپل سوچ او فکر نه کار اخستل پکار دي او په دی مظلوم ملت او دردیدلي خلکو لږ ترحم وکړی تاسو لاړ شی دملک په ګوټ ګوټ کې وګرځی بیا به درته حال معلوم شي چې په سلګونو سلګونو کسان مري څوک یې دخښولو نه وي کونډې یتیمان یې پاته کیږي .
الله پاک ناراضه او خفه دی او که الله مکوه همداسې له دونیا نه لاړ شو نو څه به کیږي ددې لپاره چې الله خوشحال او راضي کړو ددی ملک او بلکه دټول انسانیت دبچ کیدو سوچ پکار دی او همدا یې لار ده چې دعوت او تبلیغ ته لاړشو نو څوک تیار دی چې زه به دعمر تر اخره دتبلیغ کار نه پریږدم صرف ګوتې اوچتې کړی --- الله پاک دی تاسو ته جزای خیر درکړي صحیح ده ټول مسلمانان به یې کوو اوس ورونو ددې لپاره مطالبه کیږي کومو ورونو چې څلورو میاشتو ،څلویښت ورځواو هفتې او سه روزې ته نقده اراده وي لږ پخپلو ځایونو دالله درضا لپاره ودریږی ، جزاکم الله خیرالله دی ستاسو دا قرباني پخپل دربار کې قبوله کړي هلته دتشکیل ځای ته ورشې دتشکیل ځای دممبر شاته دی هلته ورشی الله پاک مو خوشحاله کړه
والسلام



افغانستان جلال اباد تبلیغي مرکز دتأسیس
کال۱۳۷۲هـ ش دمرحوم مولوي صاحب
قلم الدین او حاجي صاحب خانزمان پلاس

# پنځم فصل

## د هندوستان نظام الدين عمومي مرکز له مشرانو څخه

# مولانا محمود الحسن صاحب

# نظر او خبر بيان

## دوه ساعته جلال اباد سالانه جوړ بيان

## له اردو څخه پښتو ته ترجمان: افتخار احمد صاحب

## ۱۱/۱۲/۱۴۰۱ش)= (۲۸/۵/۲۰۲۳م)=
## (۱۱/شعبان/۱۴۴۴هـ ق کال)

نحمده ونستغفره ونؤمن به ونتوكل عليه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلله فلا هادى له ونشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له ونشهدو ان سيدنا ومولانا محمداً عبده ورسوله صلي الله عليه واله وصحبه واهل بيته وسلم تسيليماً تسليما، اما بعد! فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم : يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ (32) هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ (33)التوبه

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (10) تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (11)الصف

وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهاجِرِينَ وَالْأَنْصارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهارُ خالِدِينَ فِيها أَبَداً ذلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (100(

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُخْلِصًا دَخَلَ الْجَنَّةَ» . قِيلَ: وَمَا إِخْلَاصُهَا؟ قَالَ: «أَنْ تَحْجُزَهُ عَنْ مَحَارِمِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ»

وقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُ الْجَنَّةَ [ص:343] يَوْمَ الْقِيَامَةِ، إِلَّا مَنْ أَبَى» ، قَالُوا: وَمَنْ يَأْبَى؟ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى)

زما عزتمندو دوستانو دنيا کې د اوسېدلو او ژوند د تېرولو دوه طريقې او دوه لارې دي، يو دنظر والا لاره ده کوم چې ليدلی شي، اوبل د خبر والا لاره ده کومه چې انبياؤ عليهم السلام راوړې او په دې لاره هغوی تللي دي، او صحابه کرامو په هغې باندې عملاً انسانيت ته ښودلي ده، اولياء الله او بزرګان خلک په دی باندې تللي دي، مولانا يوسف رحمة الله عليه به فرمايل: چې د نظر والا يا مشاهدې والا کومه لاره ده په دې لاره اکثره فريب خوري، نظر والا چې کله ظاهري صورت ته وګوري دهغې له وجهې وغولېږي، او مونږاو تاسو بايد دا دوه خبرې ذهن کې کښينوو چې يو د نظر والا خلک دي او بل دخبر والا خلک دي، نو خبره به په اسانی سره زمونږ او ستاسو په پوهه کې راشي، دنيا دارالاسباب دی او الله رب العزة مسبب الاسباب دی، دلته هر يوشی يې د يو سبب سره پيدا کړی دی، د اسبابو رب چې دی هغه رب العزة دی، او الله رب العزة خپل قدرت ښکاره کوي په دې اسبابو کې، اسباب د رب العزة دقدرت مظهر دی، او الله رب العزة دا ټول اسباب پيدا کړي دي، اوس چونکه اسباب زمونږ مخې ته دي چې صورت مخې ته دی او مصور زمونږ نه غايب دی مونږ په دی صورت کې ورک شوي يو، رزق زمونږ مخې ته دی او رازق زمونږ نه ورک دی، نعمت زمونږ مخې ته دی او منعم زمونږ نه غيب دی، ځکه هغه رب دی سبب زمونږ مخ ته دی او مسبب زمونږ نه غايب دی، ځکه خو د سبب يقين د نعمت يقين د رزق يقين دصورت يقين زمونږ زړه کې راشي، خو ددې ټولو خالق چې الله دی هغه غايب دی، ددې لپاره چې دخالق يقين زړه ته راشي، الله رب العزة انبياء عليهم السلام راولېږل، چې دې اسبابو کې د اسبابو رب انسانانو ته وښايي، چې اسباب اصل نه دي بلکه داسبابو پيداکونکی اصل

هغه رب دی، په دې صورت کې مصور او په رزق کې د رازق او په نعمت کې د منعم خواته زمونږ توجه لاړه شي، دنيا دارالاسباب دی نو ځکه يې ددې اسبابو دښودلو لپاره سبب انبياء عليهم السلام وګرځول، چې انسانان په دی اسبابو کې ورک نشي او ددې اسبابو پيدا کونکی رب هير نکړي، دې لپاره الله رب العزة انبياء عليهم السلام او اسماني کتابونه راليږلي دي .
عزتمندو ورونو ښه په غور سره واورئ د ايمان بنياد په غيبو باندې دی، په مشاهده نه دی، او مشاهده دې ته وايي کوم چې زمونږ په نظر کې راځي، نن د دعوت د محنت نه کولو له وجهې د غيب يقين کمزوری دی، او د مشاهدې او نظر يقين قوي شوی دی، د نظر د پيژندلو باره کې مولانا يوسف رحمة الله عليه به فرمايل: چې انسان بيچاره په خپلو سترګو صورت ويني خو حقيقت نه ويني هغه به فرمايل: چې د جسم او روح مرکب يو انسان دی، جسم اصل نه دی بلکه روح اصل دی، او وايي جسم نظر کې دی او روح خبر کې دی، د انسان نظر بدن او جسم ګوري او ويني، خو روح هيڅکله نشي ليدلی کوم چې اصل شی دی هغه نه ليدل کيږي، او کوم چې اصل نه دی هغه مخې ته دی او ليدل کيږي، نو د انسان فکر ګډوډ شي، او غلط يقين سره خپل ژوند تيروي، ځکه ده دا ژوند له ورکوټوالي نه په دی کې تير کړی، د هغې يې لوستي او هغه يې زده کړي، د هغې يې خبري کړي او د هغې اوريدلي، نو مولانا يوسف رحمة الله عليه به فرمايل: چې خلک ظاهر ته ګوري ظاهر لولي ظاهر اوري او په هغې يې يقين راغلې، نو له دی وجهې يې په غيبو يقين کمزوری شو.
عزتمندو ورونو ! مکه مکرمه کې کفار مشرکين رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله، او درې پوښتنې يې ترې وکړه، اول سوال يې دا ؤ چې، ووايه چې روح څه شی دی؟ دوهم سوال يې دا ؤ چې، د اصحاب کهف باره کې څه ووايه؟ او دريم سوال يې دا ؤ چې، د ذوالقرنين باره کې څه ووايه؟ الله رب العزة ايت شريف نازل کړو (وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَما أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلاَّ قَلِيلاً (85)الاسراء) د اخلک به ستا نه د روح باره کې سوال کوي چې روح څه شی دی؟ ته ورته ووايه روح زما درب حکم دی او روح يو حقيقت دی چې دا موجود دی او ټولو انسانانو دا خبره تسليم کړې او ټول يې مني، په داسې حال کې چې روح هيچا نه دی ليدلی، نن سبا تاسو د انترنشنل ډاکترانو او پروفيسرانو او جراحانو څخه دا پوښتنه

وکړئ چې محترم ډاکتر صاحب تاخو د ډيرو زړونو او اندامونو اپريشن کړی دی، چې رګونه جدا دي، پلې جدا دي، هډوکي جدا دي، ډاکتر صاحب تا چې کله سينه څيرې او خلاصه کړه، کله هم ستا په نظر روح راغلې دی؟ زما قدرمنو عزيزانو په الله قسم چې ددې سوال ځواب ددنيا دهيچا سره نشته چې څوک دی ووايي چې ماروح ليدلی دی که هغه مارشال وي يا فروفيسر وي او که ليډر وي که هغه معلم وي، ساينس دان وي، انجنير وي، راکټ او مزايل جوړونکی وي او يا څومره غټ ماهر سړی وي، ددې له ځوابه عاجز دی، روح شته خوهيڅوک يې ليدلی نشي، مولانا يوسف رحمة الله عليه فرمايل: چې نظر کې چې جسم موجود دي خو دروح خبر الله راليږلی، ( قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي ) ای زما حبيبه ورته ووايه چې روح زما د رب حکم دی، زما بزرګانو او دوستانو دا خبره حقيقت ده، فرمايي چې روح امر دی په نظر نه راځي، او له بدن او جسم څخه پاک دی، داسې دا کائنات، ځمکه، اسمان، ستوري، لمر، سپوږمۍ ، ونې، تيږې، انسان، ملائکې، جن، چرنده ګان، پرنده ګان، درنده ګان، له ميږي نه تر اسمانه، او له څاڅکي نه تر درياب پورې، له ذرې نه تر غرونو پورې، څومره چې واړه اوغټ مخلوقات دي، د جسم او بدن په درجه کې دي، او روح د الله تعالی امر درجه کې دی، مولانا يوسف رحمة الله عليه به فرمايل: ای خلکو دجوړو شويو شيانو جوړونکی وپيژنئ، که څوک په جوړ شويو شيانو کې ورک شو هغه ګمراه شو، هغه سبب ته رسيږي، خو رب ته نه رسيږي، که چا دا جوړ شوي شيان وپيژنده، غټ يې وګڼل، چې غر غټ دی، سمندر غټ دی، اسمان غټ دی، نو دا به بيا د بتانو عبادت کوي، دستورو عبادت به کوي دمارانو او لړمانو عبادت به کوي چې نن دا ټول عبادات کيږي ځکه چې مونږ جوړ شوي شيونه پيژنو خو دشيانو جوړونکی نه پيژنو !! او په دی جوړ شويو شيانو کې ورک ورک يو له دی وجهې ټول په دی شيانو کې بند پاته يو رب ته نشو رسيدلی او دا ډيره لويه ګمراهي ده ددې نه دوتلو لاره دعوت او تبليغ محنت دی چې ددې دعوت وچلو ترڅو زمونږ يقين صحيح شي او خپل خالق او مالک وپيژنو.

عزتمندوبزرګانو! په مثالونوخبره سمج کې ښه راتلی شي او پخپل ذهنو کې يې کينوې دنظر او خبر باره کې چې له نظر نه انکار وکړو او په خبر اقرار وکړو نو منزل مقصود ته به ورسيږو اوڅوک چې په نظر او مشاهده يقين

او اقرار وکړي او په خبر انکار وکړي هغه خپل منزل ته نشي رسیدلی او دابالکل حقیقت او یقیني خبره ده له دی وجهې د انسان نظر دوکه خوري غلطیږي زه یو مثال بیانوم : مونږ یو ریل ګاډي کې سفر کووریل ګاډی ستیشن کې ودریږي یوبل ریل ګاډی راغی ددې تر څنګ ودریده لږ وروسته ستاسو دریل نه هغه بل ریل ګاډي حرکت وکړو تاسو فکر شو چې زمونږ ریل ګاډي حرکت کړی بعضې خلک شور جوړ کړي چې هله زر زر راشی زمونږ ګاډي حرکت وکړو سواره شې په داسې حال کې چې ستاسو ریل نه دی تللی هغه بل ریل تللی دی لیکن محسوسیږي داسې چې زمونږ ریل ګاډي حرکت کړی دی ځکه خو نظر له وجه سړی دوکه خوري ریل ګادی روان شو ګوري چې داخو بل ریل ګاډی دی ځمونږ خو ولاړ پاته شو دنظر په ذریعه انسان دوکه کیږي خو دخبر په ذریعه انسان نه غلطیږي ـ مخبر صادق جناب محمد صلی الله علیه وسلم د کومو شیونو چې خبر راکړی هغه یقیني دي هغه حق دي هغه صحیح دي داهغه څه دي چې په نظر کې نشته که تاسو په یوه دشته د افغانستان کې سفر کوی او په دشته کې درته اوبه ښکاره شي تاسو فکر کوی چې هلته اوبه دي خو کله چې هلته نژدی شي ګوری چې اوبه نه وي هماغه شګې او ریګ وي نو دوکه مو وخوړله نظرپسې تلو والا دوکه کیږي او خبر پسې تلو والا هیڅکله نه غلطیږي.

بزرګانو او دوستانو یو بل مثال درته وایم ښه په غور سره یې واوری چې خبره مو په ذهن کې راشي یو سړي سره ۱۰۰۰زر روپی دي او له هغې څخه یې سل روپۍ چاته صدقه ورکړه نو ده سره نهه سوه پاته شوی اوس نظر والا ګوري چې دزرو نه سل کمې شوی ځکه چې کټ شوی ددې برعکس یو سړي سره زر روپۍ دي چاته یې په سل روپۍ سود ورکړې او ورته یې وویل دا زر روپۍ واخله یوه میاشت وروسته یولس سوه روپۍ راکړه میاشت وروسته یولس سوه روپۍ راغلې سل پکې زیاتې شوی نظر والا ګوری چې مال زیات شو دادنظر حال دی چې مال زیات شوکه ددنیا له خلکو پوښتنه وکړې ټول به درته ووایي مال زیات شوپه سود دی ورکړې مال دی زیات شو. اوس هر ډګري والا عهده دار ، عقلمند او دنیا ټول ماهر او پوهه خلک چې دهغوی دشهرت جنډه په ټولو خلکو کې اوچته وي دابه ووایي چې کومې روپۍ صدقه شوې سل روپۍ کمې شوې او کوم چې سود وکړه سل روپۍ زیاتې شوې لیکن د الله نبي کوم خبر راکړی او الله پخپل

قران پاک کې کوم خبر راکړی **يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبا وَيُرْبِي الصَّدَقاتِ** الله تعالی په سود مال کموي او صدقه مال زياتوي که نظر ته وګورو نظر خو دايقين دی چې په صدقه مال کم شو او په سود مال زيات شو خو خبر واي چې په صدقه مال زياتيږي او سود مال کميږي چې دنظر او خبر مقابله ده اوس مونږ به دنظر خبره منو؟ او که دخبر خبره به منو ؟ که څوک دايمان او يقين والا وي هغه به دخبر والا خبره ومني او څوک چې دنظر والا وي هغه به نظر ته وګوري ـ او داخبره خو تجربه شوې چې نن سبا ډير خلک دا وايي چې کله يې مال زيات شي وايي دا زما دعلم او عقل او پوهې وجه ده چې مال مې زيات شوی چې دا دنظر والا دي او ټول دروغ دي او د الله دنبي دخبر په مقابله کې دنظر او مشاهدې هيڅ حقيقت نشته تجربې هيڅ حقيقت نلري دعقل هيڅ حقيقت نشته دنظر هيڅ حقيقت نشته او دټولو ډګرې والا عهده دارو ماهرينو خبره د الله دنبي دخبرې په مقابل کې هيڅ حقيقت نلري چې ددی نوم ايمان او يقين دی اوس هر سړي ته پته لګيږي چې زه دنظر والايم او که دخبر والا يم  او هغه وخت چې موقع راشي معلومات بنه کيږي چې زه دکوم يو والا يم ـ نن سبا دخبر يقين کم دی او دا يقين له خلکو وتلی مونږ دنظر په يقين پسې روان يو اوچليږو په تبليغ کې ددې خواري چې مونږ دخبر پسې روان شو نظر پريږدو.

بزرګانو او دوستانو ! يوه خبره درته بله هم کوم مشايخو او علماؤ خپلو کتابونو کې ليکلي چې دنظر اثر په انسان ډير زيات وي او فرمايي چې اول ګناه دنظر له وجه وشوه يعنې شروع او ابتداء دګناهونو دنظر له وجه وشوه علماؤ ليکلي چې نظر قابو کړې زړه قابو کيږي چې زړه قابو شو بدن قابو کيږي او که نظر قابو نکړو زړه نه قابو کيږي اوچې زړه قابو نه وي بدن نه قابوکيږي دنظر اثر وي ديو چا مخې ته ليمو وي خوله کې ورته اوبه راشي حضرت حوا او ادم عليهما السلام باره کې فرمايي چې هغوی دغنمو له دانې څخه منع شوی وو هغوی په نظر هغه ممنوعه شجره يا ونه راغله دهغې دخوراک په وجه له جنته راويستل شوه ـ که قابل ليوذا ته نه وه کتلي هابل عليه السلام به يې نه وژلو(ليوذا ) دقابل خور وه د نکاح حق يې دهابيل سره وه ځکه يوه ورځ ترې وروسته پيداشوي وه، کنه ددواړو خور وه  چې ترکوم يو به وروسته پيدا شوه هغه يې نکاح کولی شوه قابل چې وليده ښايسته وه وی ويل ولې يې زه نه په نکاح کوم هابيل عليه السلام يې مړ

کړو) بي بي ذوليخا چې يوسف عليه السلام ته په نظر نه وی ليدلی هغه نه عاشقه کيدله او يوسف عليه السلام به نه وو بندي شوی داټول دنظر له وجه داسې وشوه چې ديوسف عليه السلام لويه قصه ترې جوړه شوه دادنظر اثر دی الله رب العزة په خپل کلام پاک قران کريم کې په يو مخ دنظر دروازې وربندې کړې (قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصارِهِمْ )مؤمنانو ته ووايه چې خپل نظرونه ښکته وساتي ماخو وويل چې دنظر اثروي او ګناه او لانجه دنظر له وجه جوړيږي اوس دی ته ګورو چې صحابه کرام دنظر والا وه که دخبر والا ؟ صحابه کرام دخبر والا وه مولانا يوسف رحمة الله عليه په حکايت صحابه کې ليکلي صحابه وو له تجربو او مشاهداتو څخه دخبر په مقابل کې انکاروکړواو خپل عقلونه يې دنبي عليه السلام دخبرتابع وګرځول ځکه هغوی يقين وه چې خبر اصل دی ايمان بالغيب اصل دی مشاهده او نظر اصل نه دی

نو ددې اصل دمنلو لپاره دا د دعوت مبارک محنت دی الله تعالی فرمايي (يا أَيُّهَا الْإِنْسانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ (6) الانفطار) ای انسانه ته څه شي دوکه کړی يې د رب کريم څخه ـ زمونږ دبزرګانو څخه ملاعمر صاحب پهالنپوري رحمة الله عليه به ويل : ګورې فيل يا هاتي دوه غټ غټ غاښونه لري دادواړه دليدلو لپاره دي نه د خوړلو لپاره فيل چې په کومو غاښونو خوراک نکوي هغه ليدل کيږي خو چې په کومو خوراک کوي هغه نه ليدل کيږي هغه دننه په خوله کې پټ دي واړه واړه دي فرمايي: الله تعالی دکائناتو غټ او واړه ټول اسباب دليدلو لپاره ښکاره کړي خو ددې څخه دکارجوړولو يې نه دی ويلي او دکومو څخه چې الله دکارجوړولو ويلي دي هغه ليدل کيږي نه دی وجه نه خلک دوکه کې دي دا اسباب چې دکار جوړولو ترې ښکاري دا صرف دامتحان لپاره دي او دعامه استفادې لپاره دي دادکاميابی اسباب نه دي کاميابي په اعمالو کې ده اسبابو کې کاميابي دوکه ده او په کومو چې رب کارجوړوي هغه دغيبو په پرده کې دي ليدل کيږي نه اوس انسان حيران شي ددې لپاره چې له ګمراهی څخه بچ شو ددعوت مبارک محنت دی الله پاک مونږ ته راکړي دی لپاره چې خبره نوره هم سمج کې راشي نو يوبل مثال وايم يو سړی دی قيمتي ګاډی يې واخستو او هغه په ريموټ چالانيږي خاوند يې ترې وړاندې ولاړ دی ريموټ يې ووهلوګاډی چالان شو لايټونه يې روښانه شوه له ګاډي څخه اواز چونګ چونګ راځي سړی ترې ليرې ولاړ

دی فقط بټنې وهي ددې ګاډي تر څنګ څه ماشومان لګيادي لوبې کوي هغوی حیران شوه او چغې یې کړې چې موټر خود بخوده چالان شواو واي هيڅوک په ګاډي کې نشته او پخپله چالان شولايتونه يې ولیګیدل اواز يې شروع کړو او حرکت هم کوي او هیڅوک ورکې نشته لیکن خود بخود نه دی چالان شوی غټان خلک راغلل هغوی وویل نه خود بخود نه چالانیږي ګوري چې وړاندې ترې دګاډي خاوند ولاړ دی او دهغه پلاس کې ریموډ دی هغه چې بټن زور کړي هغسې کیږي فرمايي هغه خلک نادانه او ناپوهه دي که هغه دحکومت والا دي او که نور چې دا خود بخود کیږي دا دهغو ماشومانو په شان دي داناداں او بې وقوفه خلک دي چې په دی پوهیږي چې خودبخود هر څه کیږي ـ صحابه او انبیاء غټ خلک وه ایمان والاغټ خلک دي هغوی پوهیږی چې داهرڅه خود بخود نه کیږي بلکه ریموډ یې ددې دمالک سره دی بټن وهي څوک مریضان کړي دبټن وهلو سره څوک صحت مند کړي بټن وهي چاته خوشالي ورکوي او په بټن وهلو چاته دخوشحالی په ماحول کې ماتم او غم راولي کونکی ذات الله تعالی ذات دی ددې کولو دعوت دادی چې لااله الاالله محمدالرسول الله که ټول انسانان او پریان راجمع شي چاته نفع رسول وغواړي چې الله یې نه غواړي نه یې شي رسولی او که ټول انسانان او پریان راجمع شي چاته نقصان رسول وغواړي چې الله تعالی یې ونه غواړي نه یې شي رسولی ددغې نوم دی لااله الاالله محمدالرسول الله ـ

زما عزتمندو دوستانو او ورونو! اوس راځو د صحابه کرامو ژوند ته چې هغوی دنظر والا وه او که دخبر والاوه حضرت ابو درداء رضي الله عنه جلیل القدر صحابي دی دهغه یومعروف حدیث او واقعه ده چې هغه ناست وو یو صحابي راغلو ابودرداء رضي الله عنه ته یې وویل ستا دکور په محله کې اور لګیدلی او ستا کور هم سوځي ابودرداء رضي الله عنه ورته وویل زما کور هیڅکله نه سوځي دوهم صحابي ورته راغی چې ستا دکور په محله کې اور لګیدلی کور دی سوځي هغه ته یې هم وویل زما کور هیڅکله نه سوځي دریم راغې هغه هم ورته وویل هغه ته یې هم وویل زما کور نه سوځي ځنې خلک راغله ګوري چې دده تر کوره اور رارسیدلی دده کور ونه سوځیده او نور وسوځیده ټول ایره شول خلکو له ده نه پوښتنه وکړه چې تاسو ولې دومره یقین سره ویل چې زما مکان نه سوځي ابودرداء رضي الله عنه

وفرمایل: خبره داده چې د الله نبي صلی الله علیه وسلم ماته یوه دعاء ښودلې او راته یې ویلې وه چې څوک سهاردا دعا ووایي هغه ته هیڅ شئ نقصان نشي رسولی کور مال جان به یې محفوظ وي او ما دا دعا سهار لوستې وه اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، عَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَأَنْتَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، مَا شَاءَ اللهُ كَانَ وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ، أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي، وَمِنْ شَرِّ كُلِّ دَابَّةٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا، إِنَّ رَبِّي عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (والبيهقي في دلائل النبوة والطبراني في الدعاء وابن السني فى عمل اليوم والليله).

نو له دی وجهې دهغه دنبي په خبر دومره یقین وه چې خبر اصل دی او نظر اصل نه دی کلي کور اور اخستی سوځي په سترګو ګوري خو دده یقین دومره قوي ووچې ویل یې نظر غلط دی او خبر صحیح دی خبر کې د الله نبي ویلي چاچې دا دعا وویله نقصان نه ورته رسیږي نوما ویلې وه څنګه بیا نقصان راورسیږي صحابه نظر والا نه وه بلکه خبر والا وه الله تعالی دی مونږ او تاسو معاف کړي مونږ د نظر والا یو مشاهدې والا یو دتجربې والا یو اوسبا درهبرې والا یو زمونږ یو مشر مولانا ظهیر صاحب مرکز نظام الدین کې دغټو بزرګانو څخه وه الله تعالی دی دهغه قبر منور کړي یوه ورځ هغه مرکز کې بیان کولو او فرمایل: یې چې یو ښه مثال او حکایت یې وویلو چې ګورې یو سړي دهندوانو پنډت ته یو چیلی داوزې بچی په نذر کې ورکړو هغه دا بچی په اوږه را کیښوده روان شو لاره کې درې کسه ټګان ورته په مختلفو ځایونو کې کیناستل چې دا وغولوي او سرلی خوشې کړي هغوی مشوره وکړه چې هریو به ورته په غوصه وایوچې دا دسپي بچی دی څنګه روان کړی اول ته راغلو هغه ورته وویل پندت صاحب ته څومره غټ سړی یې او دسپي بچی دی په اوږه کړي پنډت ورته وویل دسپي بچی نه دی داوزې بچی دی هغه ورته ته څومره پوهې سړی او دا نه پیژنې نور لاړو دوهم ته چې ورسیدو هغه هم همداسې ورته وویل چې دا دسپي بچی دی ولې په اوږا را اړولی ده ورته وویل دسپي بچی نه دی بلکه داوزې بچی دی هغه ورته ووپه الله قسم چې دسپي بچی دی دده شک نور هم زیات شو خو کله چې دریم ټګ ته ورسیدو هغه هم دا خبره ورته تکرار کړه پنډ ت غټ شک کې پریوتو چې سړیه یو دی دروغ ووای دوه دی دروغ ووای نو

دریواړه خو دروغ نه وايي حتماً زما دماغو کې فرق دی داوزې بچې يې همغلته خوشې کړو او پنډت لاړو ټګانو سرلی راوستو منديې کې خرڅ کړو بيسې يې سره تقسيم کړې قاري ظهير صاحب وويل هغو دری ټګانو په يوه ورکوټې کهيل کې کامياب شوه اوس ددنيا غټ ټګان کفار نن مسلمان ته وايي اسلام ښه مذهب دی ؟ په اسلام دچليدلو زمانه ده؟ دانګريزانو په طريقه څه دنصرانيانو په طريقه څه دا سنتونه منتونه پرېږده ددې زمانه نه ده داشيان هماغه وخت کې چليدل اوس يې وخت نه دی دا خبرې ورته دومره ډيرې وکړې وکړې چې مسلمان پخپل دين شکمن کړي لکه هغو ټګانو چې پنډت شکمن کړی وو او بيا ورته وايي سنت پرېږده لمونځ پرېږده تلاوت پرېږده مسجد ته تلل پرېږده دقران تلاوت پرېږده دنبي سيرت پرېږده اونن مسلمان دپنډت په شان خپل دين باندې شکمن او پريښودو دانګريز بچی ترې جوړ شوپندت ته دری ټګانو وويل سرلی يې وغورځولو او نن خومسلمان ته دټولې دنيا کفار لګيادي داسلام ورته غيبت کوي نو ځکه خو مسلمان غريب اسلام ورته وغورځو او انګريز شوـ يواځنۍ لاره چې مسلمان به بچوي هغه ددعوت او تبليغ لاره ده چې خلک د الله لارې ته دعوتوي خلک مسجدو ته راولي او خلک دشريعت پابند جوړوي زما دوستانو دايو عظيم محنت دی چې الله جل جلاله په دی قرن کې مونږ اوتاسو ته را نصيب کړی.

زما عزتمندودوستانو! يوبل ښکلی مثال واوری : يوصحابي دی حضرت عبد الله بن رواحه رضي الله عنه حياة صحابه کې دا واقعه ليکل شوی، دده يوه بي بي وه او يوه يې وينځه وه هغه زمانه کې دوينځې سره لکه څنګه چې دبي بي سره تعلق نيول کيږي داسې دی سره هم نيول ګيږي دا جايز دي حديث کې ليکلي چې عبد الله بن رواحه رضي الله عنه دخپلې وينځې سره په تنهايې کې وه لکه دبی بي سره چې کوم خلوت کيده داسې دوينځې سره وه په دی وخت کې يې بي بي راغله او دوی يې وليده نظر يې پرې پريوتو غصه شوه لاړه او وينځه هم لاړه لږ وروسته هغې سره چاړه وه عبد الله بن رواحه رضي الله عنه ته يې وويل که ته اوس ما په همغه حالت کې ليدلی وې نو په دی چاړه مې وهلې هغه ورته وويل تا څه حالت کې وليدم هغې ورته وويل داسې مې وليدلې چې دوينځې سره دی څه کول عبد الله بن رواحه رضي الله عنه بي بي ته وويل چې ته خو په دی پوهيږې چې نبي

عليه السلام فرمايلي چې دجنابت حالت کې تلاوت نه دی جايز او که زه يې وکړم نو ستا به تقين راشي چې زه جنوب نه يم بي بي وويل هو زه دخپل نظر نه انکار کوم او دنبي عليه السلام په خبر اقرار کوم عبد الله بن رواحه رضي الله عنه وفرمايل: چې ما قران تلاوت ونه کړو بلکه دعربي اشعار مې وويل هغه مې داسې وويل چې بي بي مې فکر وکړو تلاوت کوي بي بي وويل هو ټيک ده تا څه کار نه دی کړی زما نظر غلط دی خبر صحيح دی عبد الله بن رواحه رضي الله عنه نبي عليه السلام ته راغلو دا واقعه يې ورته واوروله هغه مسکې شو چې عبد الله خپلې بي بي ته پټې جوړه کړه صحابه او صحابياتو يقين په خبر وو نه په نظر زمونږ عقل وړوکی دی اصل شی هغه دنبي صلی الله عليه وسلم خبر دی يو کتاب عوارف المعارف شيخ شهاب الدين سرور دي رحمة الله عليه ليکلی هغه وايي الله تعالی عقل سل ۱۰۰ حصې پيداکړي يوه حصه يې دنيا والاو باندې تقسيم کړې که هغه داکټر دی ، انجنير دی ،ليډر دی ،مدرس دی ، ساينس دان دی ، راکټ جوړونکی ، بم جوړونکی ، تي وي جوړونکی ۇ ټاير جوړونکی وی تر دی چې په ټولو ماهرينو يوه حصه تقسيم شوي باقي ۹۹ فيصده رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورکړل شوی له دی وجهې نه درسول الله خبر دقران او حديث خبر صحيح دی او ددنيا دخلکو خبر غلط دی زمونږ کاميابي درسول الله صلی الله عليه وسلم په اتباع کې ده او زمونږ لپاره نمونه درسول الله صلی الله عليه وسلم غزتمند ذات دی او په دی خبر يقين په اسانی سره نه راځي بلکه دی لپاره محنت او مجاهده ده ګوری يو څه ، او يقين کوی بل څه اوري يو څه او يقين کوی بل څه او داکله کيږی په دعوت اوتبليغ کيږي عزت ورکونکی الله دی ذليل کونکی الله دی نفع رسونکی الله دی ضرر رسونکی الله دی دصحت او بيمارۍ مالک الله دی خوشحالي او خفګان د الله لاس کې اميري او غريبي د الله لاس کې ده ښکته پورته نظام د الله لاس کې دلمر سپوږمۍ او ستورو نظام د الله لاس کې دی په دنيا کې عروج اوذوال د الله پلاس کې دی وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ د الله لاس کې ده چا ته بادشاهي ورکوي چانه يې اخلي دحکومتونو چلول د الله لاس کې دي عاديانو ثموديانو به ويل {وَقَالُوا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً} څوک دی زمونږ نه په طاقت کې قوي الله هغوی ته وښودل چې تاسو دروغ وايې بلکه ټول طاقت د الله تعالی سره دی الله دغټ طاقت والادی دهر شي نه پغير په هر شي قادر دی راشي

خپل يقين جوړ کړې راشی خپل عمل صحیح کړې راشی سنتونو باندې خپل جوړ کړې راشی اعمالو باندې یقین پیداکړی راشی خپل اولاد اصلاح کړی او اخرت کې کامیابي د الله وعده ده .
زما عزتمندو دا خري خبره ده له دی وروسته تشکیل کيږي په ښه غور سره یې واوری خبره داده چې ددعوت مبارک محنت په ذریعه داڅو اعمال راځي او ل دمسجد داباديِ مشوره ده چې دا ډیر طاقتور او مظبوط عمل دی دی سره کور کې تعلیم دی دا هم ډیر طاقتور عمل دی دخپل مسجد ګشت دی داهم ډیر طاقتور عمل دی او په میاشت کې سه روزه ده ډیر طاقتور عمل دی اوکلنی څلور میاشتې تبلیغ کې تلل ډیر طاقتور عمل دی او الله تعالی هر کلمې ویونکی داعي جوړ کړی دی فرمایي مؤمن یا داعي وي یا مدعو وي لکه یو سړي واده دی ولیمې ته خلک را غواړي دا داعي دی او دانور خلک مدعو دي که مونږ دخپل دین دعوت چلوو نور خلک به مونږ ته دعوت نه راکوي او که یې نه چلوو نو نور به مونږ ته دعوت راکړي او مونږ به دنورو دکلچر نه متاثره شو څمونږ نه به خپل بچی خپل ورور لرې کړي دغیر دین او فتنې ښکار به شي زما او ستا لور به بیا وایي زه پرده نشم کولی بکره یا چادري نشم په سرولی روژه نشم نیولی لمونځ نشم کولی ولې غلط ماحول ته لاړه بیابه زما او ستا بچی راته وایي نعوذ بالله خلک کوم ځای ته ورسیدل ته دلمانځه او روژې پسې کلک نښتی یې دا دفضاء او راکټونو زمانه ده داولې ؟ ځکه چې ددعوت محنت بند دی دا ښه یاد لرې دایوه کارګذاري ده زمونږ مرکزاورتو پرادیش ته یوه کار ګذاري راغله چې زمونږ یو ورور احمد ضیاء نومیده دهغه یو بچی وه انګلینډ کې یې درس لوسته هغه به تلاوت کولو لمونځ به یې کولو بیا دوه کالو لپاره امریکا ته لاړوله هغه ځایه چې راغلو دیوی ام پي (پارلمان وکیل ) لور سره یې نکاح وکړه دوه بچیان یې پیدا شوه دیو نوم عرفان او دبل نوم عمران نوم کیښنو ده دغې ښځې پخپل میره دومره محنت وکړو چې اخر خپل دین ته یې دعوت ورکړو چې زما دین قبول کړه کوم سړی چې ددین څخه ناخبره او خام وي نو ډیر متا ثره کيږي لنډه داچې هغه اسلام پریښوده او خپل مذهب یې تبدیل کړو نو ښځې خپل خاوند ته وویل دیو هلک نوم سنډیپ سنګ او بل پولډیپ سنګ شو هلک دمور او پلار سره تلفون کول پریښوده دواړه بچیان یې مرتد شول او خپّله هم مرتد شو دعوت محنت نه وي دارتداد دروازه

خلاصیږي عزتمندو دوستانو اوس خپل ملک او ټوله دنیاکې تاسو وینې چې څومره مسلمانان دارتداد په دروازه کې ولاړدی څوک کلمې زده کولو والا نشنه څوک لمونځ زده کونکې نشته څوک دین ښودلو والا نشته سنت ښودلو والا نشته او څومره مړي بغیر له جنازې دفن کیږي چې دجنازې والا نشته اوس زمونږ ډیر زور په دی دی چې جماعتونه بهر ملکونو ته لاړشي دعوت وچلوي او حالات قابو کړی شي فرمایي کوم جماعت چې پیدل روان وي دباطل ورمیږ ماتوي ذکر کوي تعلیم کوي دعاء کوي او کوم جماعت چې دسنت او سیرت سره ووځي باطل ختمیږي دا ډیر مبارک محنت دی دی لپاره زما بزرگانو ورونو او دوستانو اراده وکړې چې زه به ددېن دخدمت لپاره خپله زنده ګې وقف کومه دټولو خو نیت دی انشاء الله اخره کې که اجازت وي یوه قصه درته کومه : هر انسان خپل ژوند ارام او سکون دبل په ژوند کې ګورې چې زه ښه نه یم خپل ژوند ورته ښه نه ښکاري او نور ښه دي که داسې وي خو ډیره ښه ده چې دبل ژوند ارام او سکون سره وي دا ډیره ښه ده خو که هغه ته نژدی ورشې نو وبه وینې چې هغه په څومره مصیبت کې ګیر او پریشانه دی دایوه قصه ده دعبرت لپاره نیکانو خلکو لیکلی وایي : یو نیک سړی وو موږک ورته راغی چې جي زه له پیشو ګانو ډیر تنګ یم هره ورځ راپسې وي ماته دعاء وکړه چې پیشو شم چې دسپیو دغم نه خلاص شم هغه ورته په سر لاس کش کړو دعاء یې ورته وکړه موږک الله پاک په پیشو بدل کړو څو ورځې وروسته پیشو راغله نیک سړي ته یې وویل حضرت زه خو دسپیو نه ډیره تنګه شوم ماته دعاء وکړه چې سپی شم چې ددې غم نه خلاصه شم هغه ورته دعاء وکړه په سر یې ورته لاس کش کړو سپی شو لاړ څو ورځې تیرې شوی بیا سپی راغلو نیک سړي ته وا یي ددلیوانو ژوند ډیر بې غمه دی ماته دعاء وکړه لیوه شم هغه ورته بیا دعا وکړه او په سریې ورته لاس کش کړو سپی په لیوه بدل شو بله ورځ لیوه راغی نیک ته بیا واي چې ماته دعاء وغواړه چې الله مې زمری کړي چې دټولو غمونو نه به خلاص شم ځکه هغه بادشاه دی هغه نیک سړي ورته بیا دعاء وکړه لیوه په زمري الله تعالی بدل کړو اوس زمری دنیک سړي مخې ته ولاړدی او ورته وایي چې زه وږی یم او دخوراک بل څه نشته همدا تا خورم هغه نیک سړي ورته وویل ګوره ظلم مکوه زما په دعاء الله پاک ته دموږک نه پیشو کړې بیا یې سپی کړې بیا یې لیوه کړې بیا یې زمری کړې

نو اوس ماخورې زمري ورته وويل هو هغه سړي ورته په سر لاس کش کړو الله تعالی بیرته موږک ترې جوړ کړو بیا یې ورته وویل زه نور چې هر څه خورې خوره ـ الله والاو لیکلي الله تعالی په ورکولو هم پوهیږي او به اخستلو هم پوهیږي دخلکو له چالاکۍ خبر دی فرمایي دعاء راته وکړی چې ددوکان مسئله مې حل شي دعاء راته وکړې چې واده مې وشي دعاء وکړی چې مقدمه یا محکمه مې فیصله شي دعاء وکړی چې دیو دوکان نه دوه دوکانه جوړ شي بیا وایي دعاء وکړی چې دا کار مې جوړشي چې کله کار جوړ شي او بیا ورته ووایې چې اوس خو څلور میاشتې د الله تعالی په لاره کې لاړ شه بیا وایي اوس ماسره وخت نشته زما دوستانو الله تعالی چې دا مال ځان مونږ ته راکړی ددین دخدمت لپاره یې راکړی ددعوت دمحنت لپاره یې راکړی او ددعوت محنت په ټوله نړی کې انقلاب راوستی دخلکو شکلونه یې بدل کړه غټ غټ کرکټریان غټ غټ اداکاران او نور یې بدل کړل قوارې یې بدلې شوې دهغو لباس بدل شو دهغو فکر بدل شو او کله چې د الله پاک په لاره کې ووتل په خولو یې انشاء الله او ماشاء الله راغلل او دهغوی سره اوس مال او دولت هم شته او شهرت هم شته دا ددې مبارک محنت دعوت له وجه وشول مونږ هم پوهیږو چې زمونږ دبچیو په ژوند کې تبدیلی راغله پخپلو مینځونو کې مو تبدیلي راغله دګاونډیانو په ژوند کې تبدیلي راغله نو دا محنت مونږ ټول خپل وګڼو او دا په کلیو ولسونو کې خپور کړو او مسجدونه اباد کړو او زما بزرګانو داخپل ژوند دخبر د یقین په بنیاد سره جوړ کړو دی لپاره د الله نبي فرمایي :اسلام او دین دکامیابې ضمانت دی څوک چې په دین چلیږي الله تعالی یې کامیابوي او په دین چلیدلو لپاره ددین محنت ضروري دی نو زه ستاسو محترمو نه درخواست کوم چې دا ستاسو ملک افغانستان یو داسې ملک دی چې دټولې دنیا لپاره یوه نمونه ده او نمونه تري جوړه ده ددې بچی بچی زړور او بهادر دی او بچی بچی یې بزدله نه دی تاسو د الله تعالی مدد او نصرت پخپلو سترګو ولیدلو زما دوستانو زه دی ته اشاره کول غواړم چې دډیری غټې غټې تکنالوژۍ دعوه دار الله تعالی دلته ناکام کړې او تر قیامته الله تعالی دخپل قوت سره موجود دی خو شرط دادی چې مونږ او تاسو دهغه طرف ونیسواو قرباني ورکړو دا ملک دقربانی والا دی او څوک چې دلته د الله تعالی خلاف اواز اوچت کړي دهغوی لپاره داملک قبرستان وګرځیږي نو ځکه خو تاسو نمونه یې دټولې

**دنیا لپاره نمونه يې خلک ستاسو قدر کوي نو تاسو د الله تعالی دکلمې رسولو لپاره لیرې لاړ شی او خلکو ته وښایې چې الله تعالی مونږ ددې دین د محنت لپاره پیدا کړې یو الله تعالی درزق زمدار دی الله تعالی مددگار دی او رمونږ د الله نه سوا هیڅوک مددگار نشته او چې کله د الله مدد راشي هیڅوک ورته ضرر نشي رسولی زمونږ توله بروسه په الله تعالی ده لکه ابراهیم علیه السلام چې په اور کې وغورځول شو هغه وویل زه هیچاته ضرورت نلرم پغیر د الله نه الله ورته کتل اور يې ورته یخ کړو .**

**ترتیب او لیکونکی : نجیب الله عابد دننګرهار پوهنتون**
**مرکزي کتابخانې عمومي مدیر**
**واتساپ نمبر ۹۳۷۷۴۷۷۳۵۳۱+**
**مبایل شمیرې = ( ۰۷۷۹۳۵۵۶۵۲ )( ۰۷۳۱۲۶۶۰۱۰ )**